الله اکبر
WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
WUFA
1985

شفق ستانیزی

جونګړه

او

ماڼۍ

۱.

PROPERTY OF ACKU
1752

جونګړه او ماڼۍ

لنډي افساني

شفق ستانيزی

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : جونګړه او ماڼۍ
لیکوال : محمّد نسیم شفق ستانیزی
خپرونکې مؤسسه : د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (وفا)
دچاپ شمېر : ( ) ټوکه

دخپرولو نېټه او ځای : ۱۳۶۹ هـ ش، دکب میاشت
پېښور، پاکستان

دوفا دخپرونو سلسله (۵۵)

نیولیک

مخ	افسانه
۴	جونګړه او ماڼۍ (یوه کتنه) ډاکتر محمّد اعظم (اعظم
۷	۱- بې وینې
۱۵	۲- د ماموریت صحت
۱۸	۳- ستاسې دوستانو !
۳۲	٤- نمبرناین
۴۷	۵- د شطرنج پیادګان
۵۲	٦- جونګړه او ماڼۍ
٦۳	۷- باریک پامه !
٦۵	۸- د تورغره کوربت
٦۸	۹- د شیطان دښمن !
۷۵	۱۰- زما زوی به ما وپېژني ؟
۸۲	۱۱- صیب ! څنګه چې ستاسې خوښه وي !
۸۹	۱۲- تیارې ورکېږي

جونګړه او ماڼۍ

(یوه کتنه)

سا هو ادب عمرله د خپل چاپېرچل اثر اخلي هغه ته لوی او هم د هغې ټولنې ترجمان وي په کومه کښې چې ادیب ژوند کوي په نورو ټکو کښې دا خبره مونږ داسې هم کولی شو چې ادب د یوې ټولنې د ژوند عکس او هنداره وي او د ادیب لیکونه د دغې ټولنې د داخلي او روایتي پېښې د لرغونې او موجود ریکارډ د ساتلو سره سره د هغه ټولو خارجي او نوؤ پېښو اثرات هم په ځان کښې رانغاړي کوم چې وخت په وخت یوې ټولنې ته ورمخامخ کېږي. د افغانستان مزکه چې د تېرو دیارلسو څوارلسو کالو راسې د کوم خونړي جنګ په لمبو کښې راګېره شوېده دا د موجوده دورې انساني تاریخ کښې د یو اوږد غمېرلي او بد نصیبه باب اضافه کوي . د دې ستر انقلاب د سیاسي او نظریاتي محرکاتو او شخوېرته د دې لوی انساني المیې د ولسي ، کلتوري ، معاشي او معاشرتي اثراتو نه سترګې اړول یو نېولی عمل ښکاري

د دې ناتمامې او زړې شخړې، خونړۍ مبارزې د لکونو بنیادمو لکړې د اجل نمړۍ کړې او د هغې نه په څو چنده خلک یې بې اوره او بې کوره کړل . په نړئیز تاریخ کښې د یو واحد مملکت د اوسېدونکو په برخه شاید که د دې نه لویه تباهي رسېدلې وي .

د دې سترې انساني المیې په نتیجه کښې چې د لکونو هجرت کوونکو افغان ولس کومې قافلې د پاکستان په سیمه راپرېوتې په هغو کښې د پښتو ژبې ځینې نوموړي لیکوال او رسېدلي عالمان هم شریک وو . او د دغو نوموړو د سترګو پر وړاندې د هجرت په دغه اوږده نېټه کښې ځینې زلمي ادیبان او شاعران هم رامیدانې شول .

د غو زړو او زلمو لیکوونکو چې د پښتو په سیمه په نظم او نثر کښې کوم لیکونه وکړل ، د هغې غونډه مفکوره هم د هغه نظري او عملي جهاد عکس ښکاري، د څه دپاره چې د افغان ولس یوه لویه برخه د خپل وطن په لاره کوخو پرېښودو باندې مجبوره شوېده .

د دې غم لړلي انقلاب د سیاسي محرکاتو مقصدونو سره غرض نه لرونکي ذهنونه هم د انساني تباهۍ د تاریخ د دې دومره ستر باب د نتیجو او اثراتو نه هیڅکله بې غرضه نشي پاتې کېدی او هغه د چا خبره „مزکه هغه توده وي په کومه چې اور بلېږي » په دې بل اور چې د چا پښې ورتې

شوي دي. د هغو کسانو لیکونه هم په دغه دور تاوده او سوځونکي دي او د دغه غوندې لیکونه د پښتو ادب په تاریخ کښې د یو نوي عنوان سره د یو نوي باب پرانسته کوي.

ښاغلی شفق ستانیزی هم د بې کوره افغاني لیکوالو د هغې یو نومیالي زلمي غړی دی څوک چې زموږ د افسانې (لنډې کیسې) په افقونو د یو با شعوره او با قاعده لیکونکي په څېر د تېرې څه مودې راسې ځلېدلی دی.

جونګړه او ماڼۍ د ښاغلي شفق د افسانوي زیارونو دویمه مجموعه ده او دا د پښتو ادب د پاره عموماً او د پښتو افسانې د پاره خصوصاً یوه معیاري او ګټه وره اضافه ګڼل کېدل په کار دي. ځکه دا زموږ د کیسې (افسانې) په هېواد کښې د یو نوي رنګ او نوي آهنګ لارې پرانیځي. دا مجموعه د دولسو افسانو پنګه لري او دا واړه افسانې هم په هغه جنګي پس منظر کښې لیکلې شوې دي د کوم ذکر چې په بره کړښو کښې شوی دی.

په یو ډول د زموږ په افسانه کښې د هغې روایت تجدید ښکاري د کوم پیل چې د نن نه څلوېښت کاله اګاهو د برصغیر پاک او هند په آزادۍ پسې سمدستي د ښاغلي میر مهدي شاه مهدي قلم کړی وو. د « جونګړه او ماڼۍ » د افسانو د لوستونو پس د لوستونکي په ذهن د «ښان» «پت» او لوډه تال رنګونه راخواره شي. په دواړه ځایه افسانه لیکونکي د یو ستر او عظیم مقصد په ګواښن او تکل کښې سرکومه داسې واقعات او پېښې چا نړکوي او داسې کردارونه نړغوي او راغونډوي کوم چې لنډې کیسې چوکاټ کښې د لیکونکي د ټاکلي شوي مقصد او نظرې واضحه تصویر د نیا ته وړاندې کوي خو فرق یې دا دی چې د مهدي ذهن د وطن د آزادۍ نه پس د آزادۍ د پتنګانو د هغو قربانو ږو داد ونه ږغوي چې وطن له یې آزادي وګټله خو بخپله بخیل آزاد وطن کښې لکه د مریانو ژوند تېروي. او د «شفق» کردارونه د هغه عبوري دور د حالاتو په جرنده کښې د لیږي د کوم سره چې د یو روښانه مستقبل خوبونه تړلي دي.

د مهدي قلم د مړې شمعې په مزار باندې د حسرت او ارمان اوښکې څڅوي او د شفق سترګې د بلې شمعې د شُغلې نه د چاپېره پتنګانو په رڼا کښې د یو روښن سحر خوبونه ویني. د دغه طرز په افسانو کښې حقیقت او جذباتیت دواړه عمرله ځنګ په ځنګ روان وي. خو دا د افسانه لیکونکي د فن کمال وي چې حقیقت په جذباتیت کښې پټ کړي او جذباتیت په حقیقت کښې. او دا د شفق د فن کمال دی چې هغه په اکثرو ځایونو کښې د هرې ابتکارې خپل پیغام ته د افسانې ښایسته او موزونه جامه ور اغوستې ده.

په دې افسانو کښې هغه افسانې د فن او تکنیك له رویه زښتې اثرناکې او خوندورې دي په کومو کښې چې پلاټ، کردار، فضا او چاپېرچل یو تر بله ګنډلي او په یو بل کښې بېخي ورك شویدي.

لکه بې وینې، د ماموریت صحت، ستاسې دوستانو!، نمبرساین، زما زوی به ما وپېژني! او ځینې نورې.

په ځینو افسانو کښې لیکونکي په تمثیلي انداز کښې خپله مفکوره او فلسفه وړاندې کول غواړي خو به بې شانه اوږد تعاملي بحث او موازنه کښې د افسانې تول او توازن په ځای پاتې نه شي. او د افسانې «پلاټ» د استدلال په چوپال کښې راګیر شي. لکه جونګړه او ماڼۍ. خو په اکثرو ځایونو کښې بیا هم لیکوال د خپل فن په محفوظه مورچه کښې ناست په ټول چاپېرچل باندې د طنز غشي وروي. «د شیطان دښمن» او «ستاسې دوستانو» د دې طرز په زړه پورې مثالونه دي.

د دې مجموعې د ټولو وروستۍ افسانه «تیارې ورکېږي» د ځپلي کوټلي افغان ولس د خوارۍ بربادۍ یو زړه رپونکی روداد دی خو دې روداد اثرناك افسانوي حد (برید) هم هغه کېدای شو چرته چې احمد خان د خپل کور په درشل پښه کېږدي د دغې نه پس د افسانې برید ونه خمېږي او زیات وېل پرې زیاتې ښکاري خو د مقصدي او نظریاتي قسم لیکونکو ته دا رنګه کشالې او مجبورۍ ارومرو ورپېښېږي.

د افسانې د فن د ځینو وړو او معمولي کمزوریانو نه پرته د دې مجموعې غونډې افسانې د پښتو د مقصدي طرز په لنډه کیسه کښې ښایسته او نادرې اضافې دي دا افسانې تر ډېره حده هم د لیکونکي مقصد ترسره کوي او هم د افسانې.

د دې افسانو ژوره مشاهده، خوندوره ژبه او د بیان مخصوص سېڅلي او کوټلي انداز د شفق ستانیزي د افسانې د فن سره بلدتیا او د لنډې کیسې د لیك په هنر باندې ګواهي ورکوي. او زمونږ باور دی چې د ښاغلي شفق زلمي قلم او پارېدلې خبرې به په راتلونکو وختو کښې د پښتو افسانې د فن جونګړه، د ماڼۍ مقام ته هسکه کړي.

ډاکټر محمد اعظم اعظم

پېښور پوهنتون

۳۰ مۍ ۱۹۹۱ م

بسم الله الرحمن الرحیم

بې ویني

په هدیره کې ورو ، ورو د خونو و قبرونو خواته ورروان و. هلته پنځه تازه قبرونه یوه بل ته نږدې پراته وو. نن دویمه ورځ وه چې هغه به د دغو قبرونو زیارت ته راته. د یوه ترڅنګ پښه نیولې غوندې شو . یوه شیبه وروسته زه هم ورنږدې شوم خو هغه زما د پښو ښکالو وانه وریدله ؛ سترګې یې پټې نیولې وې او خه دوعایې لوستله. یوه شیبه وروسته ، زه لږ نور هم ورنږدې شوم او د هغه د خبرو د اوریدو هڅه مې وکړه؛ څه داسې خبرې مې ګډې وډې واوریدلې :

" ... خدایه ! زه د دې هیواد او اولس په غیږ کې په ډیر نازلوی شوی وم ، خو له بده بخته له نیم نه زیات بلکه لا ټول عمر مې په دې تکل کې تیر کړ چې ځانته خدمت او ګټه وکړم نه دوی ته .

هغه وخت د زماني دود همداسې و ، هرچا به د ځان په هکله فکر کاوه، ځکه خو لا تر اوسه د ځان ځانۍ په ناروغۍ اخته یو. زما خو نه احساس د ومره ویښ و او نه مې همت د ومره میړنی و چې د وخت نا ړامه زور ته اوږې اړم کړم ، له همدې امله د ډیرو نورو په څیر زه هم د زماني د څپاند سمندر له بهیر سره د نیزوني په څیر روان وم .

ماپه حقيقت کې خپل ځان اودغه مومن ولس نه وپيژندلی مادښارپه رنگين ژوند اودسرمايې په وريښمينه غيږکې دمستۍ اوبيخودۍ ژوند تيراوه ،خوبولی او بې حسه،لکه دخاين اوقاتل ضمير.

زه نه پوهيدم، هغه ولس چې له بيوزلۍ نه خپل جومات ته پوزکی نشي اخيستلای، دمخ پاکولو اووچولو دستمال نلري؛

دسهارني لمانځه دسجدو له امله يې خاورين ټاپی په تور توسيدلي تندي اوپوزه ترهغه وخته ښکاري څويې په پردۍ کرونده کې ديوې اويوم دسخت کار له امله پرتندي څاڅکي څاڅکي خوله راوټوکيږي اوبيايې په لستوڼي پاکه کړي ؛ پاکه نه بلکه دسجدې گرد په خپل تندي پورې ليوکړي .

په پيل کې ماته دسره سيلاب په وړاندې ددوی مقاومت دشگو بندونه ښکاريدل. دهغوی حملې راته پرحکومتي ودانيو دښامار له څټ نه وړۍ شکول ښکاريدل. ماته دانه وه څرگنده چې دسوبې اوبري وسله ، ښه اواغيزمنه وسله -ايمان ،ثبات،زغم اوټينگار دی اودغه وسله ددغه نيستۍ ځپلي خومؤمن اواتل قوم له هروگړي سره شته.”

###

بوډا تردي خبرې وروسته يوه ښه شيبه غلی ولاړو ،سترگې يې لاهماغه شان پټې وې.دژورې انديښنې اوزړه دردوونکي غم نښې نښانې يې په څيره کې له ورايه ښکاريدلې ، شيبه وروسته يې بيرته داسې خبرې پيل کړې :

“..خدايه ! زماپوهه اوماغزه پردي شوي وو،ځکه خوخپل راته پردي ښکاريدل.داستعماري ادب اوکولتور اپيم به زه تل مخمور اوله ځانه بې خبره ساتلم .

زه هغه وخت پوه شوم چې زما د مؤمنو هيواد والو پرزړه دسروليوانو داړې خښې وې.زموږ داولس گريوان ته دبلوسگرو

لاسونه راغځیدلي وو ، دظلم اوربل واوپه دغه بل شوي اورکې زموږ هرڅه لولپه شول ، خوسره له دې هم ماپه دې وران ویجاړکلي کې دهیچا سترگې نمجنې ونه لیدلې . دجنگ سره اورلکه چې دهرچا اوښکې وچې کړیدي حتی دوړو ماشومانو ،زړه سواندو میندو او ورارو خویندو هم اوکه نه،داخلك اوس په دې پوهیدلي دي چې دااورپه اوښکو اواسویلو نه مري . دحق، عدالت اوآزادۍ نیالگي په اوښکونه لوییږي، دشهید دوینې اوبه خورغواړي ،دتیري اوتجاوز دجگړوبل اورونه تل دشهیدانو دوینو په صدقه مړه شویدي . هو ! دشهیدانو دوینو په صدقه ، دآزادۍاوعزت دلارې نښې په وینه انځورشویدي .

دادتاریخ عملي درس دی .

دعملي ژوند تجربه ده .

خدایه ! زما د ارمانونو ډك زړه ، دنامراده هیلو اواسروسره زمادزړبوډۍله بیوسۍسره - زما د درې شهیدانو زامنو دپاکو وینو نذرانه قبوله کړه .

خدایه ! ماته ددې ځواك اوهمت راکړه چې زماپه زړه وینه هم دحق اوباطل دجگړې، دنوراوظلمت دجگړې، دآزادۍ اومرییتوب دجگړې، یوه لمبه اویوه سکروټه مړه شي، یوازې یوه سکروټه .

په زندان کې زماستره هیله اواسره داوه چې له خلاصون څخه وروسته خپلو زامنوته دجهاد اوسرښندنې عملي درس ورکړم هغوی ته دجگړې رواوگودروروښیم .

داور وښیم چې دانسان وینه څومره ارزښتمنه ده، خوله حق سره دخپلې وینې په بیه پرخپله ژمنه وفاکول ، ترینه لازیات ارزښت لري . په خپل شهادت دخدای (ج) دکلیمې لوړول او ازادي گټل ډیره سودمنه سوداده۰ددې سودا گټه تل پاتې نیکمرغي ده ، دسترخدای رضا ده،دغه سودا څوك په سرو سپینو

نشي کولای دایوازې په یوه لپه وینه کیږي .له دې امله دغه سودا هرڅوك کولای شي خوچې دایمان پانګه اوشته ولري .

په همدې سوداکې دمخلوقاتو دخالق دازمیښت اوابتلارمز پروت دی .

په همدې کې دژوندیو ، اصیلو - مړو اومربي قومونو ترمنځ دتوپیر رمز پروت دی .

هو ! دغه رمز - دشهید په یوه لپه سپېڅلې سره څلیدونکې اوتوده وینه کې پروت دی .

ماغوښتل هغوی ته په ژوند کې دایمان پرلاره دتلو عملي درس ورکړم ، خوترمامخکې هغوی ماته دجهاد اوسرښندنې عملي درس راکړ اوهغه هم دخپل ژوند په بیه . اوس باید زه دهغوی په انځورکړې لار- دایمان پرلار- دشهادت پرلار- دآزادۍ اوحریت پرلاره لاړشم .

ددې لارې لارویان ډېردي څوچې دحق اوباطل جګړه وي، څوچې نور اوظلمت سره لاس اوګریوان وي . دا کاروان ، دا دنورکاروان ، دابه دآزادۍ په لور یون کوي ؟

زما ورته پام و چې په راستنیدوکې یې له کمزورواوکولکوکې لویدلو سترګونه داوښکو دوه څلیدونکې مرغلرې دیوه قبر پرتوره خاوره وڅڅیدلې او سمدلاسه پکې جذب شوې.نپوهیږم دشهید دقبردخاورو ډېرۍ دغه سوغات ته ډیره لیواله وه اوکه دزمکې په زړه کې ښخ د آزادۍ څوارلس کلن اتل روح ؟

هغه له تیرو شپږوکلونو راهیسې نه خوپلار ښکل کړی و اونه یې ورته داخترجامې راوړې وې . پلاریې چې زندان ته بیول کیده،نوهغه داتوکالو ښکلی ماشوم و ،خوله دوه کلونو راهیسې یې دسیپارې اوقلم پرځای ټوپك په لاس کې نیولی و.

دادهغه دڅوارلس کلن زوی عبدالرحمن قبرو .دزنداني

پلارميني دخپل زلموټي شهيد قبرته د څرخي پله له زندان نه ايله دوه څاڅکي اوښکې په سوغات کې راوړې وې، نورهرڅه ترينه لوټمارانولوټلي وو.

هغه څلورپنځه ورځې مخکې د څرخي پله له زندان نه کورته رارسيدلی و، يوه اونۍ مخکې يې درې واړه زامن له روسانو سره په يوه سخته نښته کې شهيدان شوي وو. تردې يوه مياشت مخکې يې ميرمن اويوه پيغله لور تربمبارۍ لاندې شهيدانې شوې وې اوکوريې هم لوټه شوی و.

له زندان نه چې راغی، نوخپلو خپلوانو يې فکروکړ چې که ناڅاپه دخپل کور له حاله خبرشي هسې نه چې دغم اوزندان دزياتې کمزورۍ له امله بې سده اوليونی شي ، نوله دې امله هغوی هڅه وکړه چې لومړۍ شپه يې خپل کورته بوزي اوداپلمه ورته وکړي چې ستا لوڼه اوزامن له خپلې مورسره ،خپلې پلارگنۍ کره تللي دي. په دې توگه هغه لومړۍ شپه خپلوانوکره وکړه. سهار ډيرپه وخت راپاڅيدلی و اودخپل کورپه لورروان شوی و، دخپلوانو يوتن يې هم ورپسې و.

کله چې هغه دخپل لوټه لوټه کور مخې ته ودريده نودواړه لاسونه يې په تشوکيښودل. دبې ساري غم اوانديښنې زهرجن لړم يې کړيدلی احساس څوڅوځلې وچيچه چې کوکې کړي، خوصبر زغم اوشرم يې په خوله لاسونه کيښودل اوهيڅ يې هم له خولې نه ونه وتل . بيايې په کراره دزامنوپوښتنه وکړه. څوتنه نورکلي وال هم راټول شوي وو ،په هغوی کې يوه تن سپين ږيري ورته وويل : څه نشوويلای خودخدای (ج) رضا ده ،آخرخبرېږي ستازامنوچې په کومه ميړانه اوسرښندنه جهاد کړيدی، نوهغه يوخدای (ج) ته څرگندی .هغوی دخپلې مور اوخور له شهيدلونه وروسته په رڼاورځ په روسانو حملې کولې اوزښت ډيزبې مردارکړل ، خو اخردوی هم درې واړه شهيدان شول. " بل

سپین ږیرې دهغه دتسلیت اوډاډګیرنې لپاره وویل : " غم خوډیرلوی غم دی، ځکه چې سړی له ډك کوره ووځي اوبیرته چې راشي هیڅ هم نه وي ، خومورډېکیني اوهمداسې زامن دې وزیږوي، لکه داستا چې وو، نه ستا بندیخانې بې زړه کړل اونه دمور اوخورشهیدېدلو ،..." هغه دخواخوږو خبرو ته په ځیرغوږنیولی واوښکته یې زمکې ته کتل. په اخرکې یې سترګې راپورته کړې اولاسونه یې په دوعا پورته کړل : " خدایه! داستافضل اواحسان دی چې پرخپل دین باندې دننګ اوازمیښت لپاره دې زه اوزماکورنۍ غوره کړه ." دهغه اوازلړزشانته ډډ اوسترګې یې داسې سرې وې تابه وې چې دزړه وینه یې ټوله سترګوته راغلې ده. "...خدایه ! تاهغوی په دې ازمیښت کې بریالي کړل اوس ماته هم داتوفیق راکړه ،خدایه! ماته صبراوزغم راکړه، همت اوحوصله راکړه! پردغه وخت یې ستونی له غرېوه ډك شو. یوه شیبه وروسته په ډیره عادي توګه دکلي له خلکو سره دجومات په لور روان شو. په ظاهره چپ او آرام ښکاریده، ،خو ښرګنده ده چې دسمندرپه آرامه غیږکې څومره توپانونه پټ پراته وي .

یوه ورځ یې په دیره کې وویل :هغه کارچې بایدلومړی ماکړی وای اوخپلو زامنو اونوروځوانانوته مې عملي درس ورښودلی وای ، هغه درس دهغوی خپله زده و اوعمل یې پرې وکه . خدای دې اوس ماګورته له وینو ډك نه بیایي ،زماهیله داده چې زماوینه دخدای له امر سره سمه په دې خاوره تو ی شي دا سور اور په بل ځه نه مري .

###

یومازیګر مهال چې لمر له خپل طلایي مورچل نه دزرینو وړانګو وروستي غشي راورول ؛ دکلي شاو خواته دروسي ټانکونواودوه ګن شیپ هلیکوپتروغړمبهار رانژدې شو.

دکلي نه لږ وربیرته په یوه اوارمیدان کې ټانکونه ودریدل

اوپه لنډه فاصله کې هلیکوپترې هم راکوزې شوې .

په دغه کوچنۍ قوه کې له څوتنو روسانو پرته دهغوی څوتنه په خیټه مزدور پرچمیان اوخلکیان هم وو. یوه په لوډسپیکر کې اعلان وکړ، دکلي خلك دې بهرته راووزي چې قوماندان صیب ورسره خبرې کوي .

له نورو سپین ږیروسره دی هم روان شو ،خوپه لاره کې له هغوی نه یوڅوگامه مخکې روان و. دیوې هلیکوپترې ورخلاص و . دوه تنه عسکر دقوماندان ترشاولاړوو اونوردننه په هلیکوپترکې وو. دټانکونو پرسرهم یو یوتن له ماشینگنو سره ولاړ و.

هلیکوپترې له یوې .ملۍ نه لرې وې،خوټانکونه ډیرسره نږدې وو دوی چې ورنږدې شول،نوهغه سپین ږیرو ته مخ ور واړاوه چې تاسې همدلته لږتم شئ زه به له قوماندان سره خبرې وکړم نورسپین ږیري ودریدل اودی دقوماندان په لور ډیرگړندی گړندی ور روان شو ، لس پنځه لس قدمه لار به لا پاتې وه چې هغه دسترگو په رپ کې یولاسي بم دالوتکې مینځ ته ورگوزارکړ چې دچاودنې له هیبتناك غږنه وروسته یې لمبې پورته شوې .هغه سمدلاسه پروت وکړ چې خپله ژوبل نشي،په همدې شیبه کې یې بل گرنیډ هم دټانکونو مینځ ته ورگوزار کړ.دبمونو چاودنې هرې خواته درز اودروز جوړ کړ.دالوتکې اوټانکونو لمبې پورته شوې اوله دې سره سم پرله پسې چاودنې پیل شوې.له الوتکې نه داوریوه سکروټه جوړه شوې وه دټانکونو له وسپنیزو ټوټو سره دروسي عسکرو پښې لاسونه ،سوي بوټونه اوغوڅ سرونه هم یوه خوا اوبله خوا پراته وو.

دبوډا ایمان اوځوان همت پریوه بشپړ لښکر غوغاجوړه کړې وه.وروسته چې دکلي خلکو دهغه مړی راپیدا کړ ،نوداسې گولۍ پرې چلیدلې وې چې یوځای هم پکې روغ نه و پاتې .

دهغه له پرهارونو نه لاڅاڅکي ،څاڅکي وينه څڅيدله خوترڅويې چې قبركيندل كيده نويو څاڅكی وينه هم پكې نه وه پاتې .

هغه پخپلې وينې سره خلكوته دجهاد اوشهادت درس وركړي وا

عملي درس !

اوگورته بې وينې روان و،

هوا بې وينې !!

###

دماموريت صحت

دنوي لومړي وزيرله خوا نه ټولي کابينې اوځينې نورو معززينو اولوړرتبه مامورينو ته ميلمستيا شوې وه .

د نوو وزيرانو ترڅنگ رياستونو اوآمريتونوته منتظر کسان هم په يوه اوبله واسطه ميلمستيا ته راغلي وو، اودنوو وزيرانو مخې مخې ته به کيدل چې دنوو تعيناتوپه وخت کې يې له ياده ونه وځي ، ځيني به دوزير صيبانو داشنايانو څنگ ته کيدل اوځني به يې دخپلوانو څنگ ته ،چې دهغوی په واسطه يې له وزيرصيب سره دليدنې وياړاوشرف په برخه شي .

ډوډۍ چې شروع شوه نوهر چاپرې خپله وسه وکړه ، چاله چرگانو نه وزرونه وايستل اوچايې پتنونه غوڅ کړل . ځينو بې وزره اوبې پتنو نو چرگان له ورميږنه ونيول اوپه قاب کې يې سرپه خيرۍ راغورځارکړل، په دې توگه ټولو ميلمنومتفقاً په خوراکي شيانو يو ناتارجوړکړ . يوه شيبه وروسته کاسې ، غوري اوبشقابونه تش شول اوخيټې ډکې.

له ډوډۍ وروسته درياست يوه اميدوارپه خپله پړسيدلې خيټه لاس راښکه اوبل ملگري ته يې وويل: ”ماخوزښته زياته وخوړه هيڅ پوه نشوم ، حتی دميوې لپاره هم څه گنجايش ندی پاتې.“

لږه شیبه وروسته یوه خدمتګار دهغه د دوست مخې ته یو سترقاب فرني چې پسته ،بادام اولاچي هم پکې وو کېښوده، دهغه دوست دفرني خوند وستایه اودی یې هم خوړلو ته وهڅاوه.

دوست یې نشوای خپه کولای نوده هم ورسره دفرني په خوړلو پیل وکړ ،دواړو په ډیره سختۍ دفرني له قاب سره انصاف وکړ اوتش قاب یې له مخې چپ کېښود. ددوی ترشا یوه معین صیب دفرني ستاینه اوریدلې وه ،په پټه خوله یې خدمتګار ته اشاره وکړه چې یوبل قاب فرني هم ورته راوړه.خدمتګار چې دویم قاب فرني دهغوی مخې ته کېښوده ، نوهغه یې په ډیر شدت سره لهخوړلو انکار وکړ اووې ویل زه با لکل موړیم اودا قاب بالکل دلته مږده . خدمتګارورته وویل : صیب ! ما ته معین صیب امرکړی و چې تاسې ته فرني راوړم . درياست هیله من سمدلاسه بې اختیاره وویل :" اوه ! معین صیب امرکړیدی چې زه فرني وخورم .بلې ، بلې،فرني ،فرني ، فرني،خو صیب بهترین شی دی ! همدلته یې کېږده! معین صیب ډیر لطف کړیدی،ډیر شفقت یې کړیدی. یوخوشېبې مخکې داولادونو مور په خوب کې لیدلی و چې په سپین آس سپوروې ، دوزارت په لورروان وي،حوداس جلب یې مانیولی وي ”

په همدې شیبه کې معین صیب هم راغی اوله رسمي علیك سلیك نه وروسته یې نوموړي ته وویل :

" وخوره که نه دا خوډیره ښه فرني ده " درياست هیله من : هوا صیب بهترینه فرني ده ، ستاسې لطف ده ، مهرباني موده ”. د اولادونو دمورخوب یې هم په ولاړه ورته ،تیرکړ اوپه پای کې یې ورته وویل:" صیب!دهغې ټول خوبونه اکثرا ریښتیاکیږي ”. معین صیب وویل:" هوحتمابه ریښتیاکیږي زه او ته به انشاءالله یوځای یو.”

هغه چې خوشیبې مخکې حتی دقاب له ایښودلو سره هم

مخالفت کاوه ،تردې ورروسته يوناخاپه غلی شو اودفرني په خوړلو يې پيل وکړ اوترخوچې معين صيب ولاړو ، نوستاينه يې هم کوله . معين صيب چې لاړنو دوست يې ورته وويل : تر اوسه خوتاويل چې په خيټه کې مې هيڅ ګنجايش نشته اواوس داسې په خوند لګيايې چې زمااشتهادې هم راوپاروله .

هغه په خواره خوله ورته وويل:"ګنجايش خويقين وکړه چې اوس هم نشته،خوزه يوازې دمعين صيب دامر په تعميل لګيايم . ښايي دا پرخوري يوځو ورځې زما صحت خراب کړي ، خوکه د معين صيب امرتعميل نشي، ښايي ټول عمرمې دماموريت اووظيفې صحت خراب شي"

###

ستاسې دوستانو !

په ښارکې ځای بې ځایه ګډې وډې ډزې اورېدل کېدلې ، نن دریمه ورځ وه چې شاه بدین نه له کورنه وتلی و اونه د خپلو زامنو له مرګ اوژوند نه خبرو.

دکوټې په بر کونج کې د صندلۍ ترپنډې برستنې لاندې سور ساند ه پرته وه. له هرګل اړخ بدلولو سره یې بې واره زګېروي اووچ ټوخي داوږدې اوسختې ناروغۍ غمازي کوله. دمېرمن ناروغتیا اود زامنو مرګ اوژوبلې اندېښنې یې کمزورۍ نره سولاوه. د ۱۳۵۸ کال د حوت د میاشتې لومړۍ شپې اوورځې وې ، دکابل د ښار کوڅې دباران له اوبو او خټو ډکې وې، آسمان په تورو وریځو اخیر شوی ښکارېده. کله کله به ترینه یونیم څاڅکی باران راڅڅېده.

په ښارکې په ګرځېدو راګرځېدو بندیز لګېدلی و ، هیڅوک هم له کورونو نه نشوای راوتلای دکابل ښار په واټونو او جادوکې د روسي ټانکونو اوجیپانو بې خونده غرهار غوږونه کڼول دماشینګڼو اوتوپونو دبې واره ډزو له زیاتوالي سره د هغه وېره هم شېبه په شېبه زیاتېدله راډیو یې کلکه ترڅنګ نیولې وه. هره اعلامیه به چې خپرېدله نو د هغه زړه به ورسره درزېده چې هسې نه د حکومت نسکورېدل اعلان شي. اعلامیې به له لنډو وقفو وروسته خپرېدلې او خلکو ته به یې ډاډ ورکاوه چې ستاسې انقلابي دولت به ډېر ژر دانقلاب ضد عناصرو په ځپلو بري ومومي. بوډا شاه بدین به ددې خبرو په اورېدو لږ ډاډه شانته شو - څوکله به چې له کومې خوانه دماشینګڼو اوشل ډزو پرله پسې باټونه وچلېدل اومېګ بم غورځونکی الوتکې به هم هاغې خواته دښکاري سپي په څېر چې دډزو په لوري ورزغلې ، ورورسېدلې اود اوسپنو اواور باران به یې پرې جوړکړ ، نو د هغه دلنډې شېبې خوښي اوډاډ به هم له ډزو سره سم دګولۍ په څېر

والوتړ. دغه درې ورځې په هغه ددرې کلونو په څېر تېرې شوې. دواړه زامن یې هم چې له هماغې لومړۍ ورځې نه سهار د وخته له کوره وتلي وو بیا نه وو راغلي. هغوی ده ته ویلي وو چې موږ به حتماً د خپلو روسي دوستانو! په مرسته پر خپلو مخالفینو بری ومومو. ته پاڼه اوسه پلاره! دا انقلاب څوك په شاتشي تمبولای په تېرو بیا اوس خوږ روخت زموږ د روسي دوستانو د سرو پوځ بې شمېره فوځیان او مشاورین له موږ سره اوږه په اوږه د جګړې په میدان کې حاضر وي. پلار خوارکي یې چې یو ډېر ساده زړی کلیوال و د زامنو خبرې یې منلی وې. د روسانو پوځ یې خپل کاڼه او په خوړا درنډ ستر که به یې ور ته کتل، هرچیرته به یې چې روسي منصبدار ولیده نو سلام به یې ورته اچاوه هغه به چې سلام واخیسته او په برېتو کې به ورته ومسېده، نو دی به نور هم خوښ شو. ده ته ویل شوي وو چې دا زموږ داسې دوستان دي چې د جګړې په میدان کې راسره سر تلي ولاړ دي، او کله چې داخلي دښمنان راسره وټکوي نو بېرته به خپل هېواد ته ستانه شي.

د شاه بدین اکا، ټول ژوند په پردی مزدورۍ کې تېر شوی و، له پلار نه ورته د خلکو له پوره نور هیڅ هم نه و پاته شوي. نو موړی د پلار یوازېنی کشر زوی و پلار یې د مېرمن او څلورو لوڼو خرڅ او خوراك په ډېر کړاو سره برابراوه. شاه بدین چې لږ راځلمی شو نو بوډا پلار یې هم په داسې وخت کې مړ شو چې تر غوږو په پورونو کې ډوب و له پوروړونه پرته به یې بل چا پوښتنه هم نه کوله. د کور ټولې څولی څالي (راثاثیه) یې دوه نیالۍ او دوه زړې برستنې وې، خویندې یې بیا وروسته ځینې خلکو په پورونو کې وکړلې، خوځه پور لا سره له دې هم پاتې و.

له میرعالم خان سره یې په باغوانۍ او بزګرۍ کې پوره پنځه لس کاله په صداقت او رښتینولۍ تېر کړل، د دغې اوږدې مودې پر له پسې خوارۍ او خولې توېولو نه وروسته یې ایله هغه ومره وکړل چې د پلار د نارو غۍ او بوډاتوب د وخت پورونه لنډ کړي او خپله ورځنۍ ګوزاره وکړي. هغه به تل ویل چې تر هغو مې د خپل پلار هډوکي له پوره سپك کړي نه وي بل کار به ونه کړم. په همدغه موده کې یې د خپل کلي د غوبه له لور سره واده وکړ چې وروسته یې بیا ترینه دوه زامن او یوه لور پیدا شوه.

د خپلې خوارۍ او مزدورۍ بدې ورځې او د خانانو ملکانو د پېکې او دړکې به چې ورپه یاد شوې نو زړه به یې ډې ته وپخسېده چې که کل عالم او میرګل سنوونځي ته د زده کړې لپاره ولېږم نو خومره به ښه وي، تر اوسه خو لا نه تکمه یم د ومره ګټلای شم چې دوی یې وخوري. مېرمن یې هم دې کار ته هوسېدله چې زامن یې مېړنیان شي او له سیالانو

سره يې سيالي برابره شي .

دواړو خاوند او ښځې شپه او ورځ په ځان يوه کړې وه چې څه وګټي او د زامنو په زده کړه يې ولګوي . شاه بدين به د سهار په خړه د پټي په لور په غوايانو پسې چوکه په لاس روان و غوايانو به له کولبې وروسته د مه کوله، شاه بدين به د پولو بېخونږې بېلول او د مابنام په تياره کې به بېرته راستنېده . سوړ ساندې به د ميرعالم خان غواوې او وزې لوشلې او غوجلې به يې پاکولې ، مابنام به د شېدومبو کټو پر سرله څو ډوډيو او پاتي شونو وچو خدريو سره کورته راروانه وه .

ګل عالم او مير ګل به د کلي ښوونځي ته د زده کړې لپاره تلل . له شاه بدين سره تل دا هيله وه چې کاشکې مې يو څو جريبه ځمکه واى او خپل ځان ته مې کړلاى . د هغه په دې خبره به يې هرځلې مېرمن ورته ويل : « د ګل عالم پلاره که خداى ج مې دواړه زامن په تنخواه سپاره کړل ، نو حتماً به يو دوه درې جريبه پټي پرې واخلو » شاه بدين ته به دغه خبره هسې خوب او خيال ښکارېدله ، نو ځکه به يې هغې ته ويل ، « کم اکلې (کم عقلې) ددوى به دومره تنخواه شي چې ځان ته به يې ودونه هم وکړي او ځمکه به هم پې واخلو که يوازې خپل ځانونه يې وساتي او چاته موتاژه (محتاج) نه وي همدا بس ده . اوس زمانه خرابه شوېده ، پېشنونه (فيشن) هم زيات شوېدى ايله ځانه وچلولاى شي، بله دا چې د دې زمانې له اولاده هم چا خير نه دى ميندلى ، که چوکيو ته ورسېدل خداى ج خبر چې منګ (موږ) به يې په ياد هم شو که نه . » مېرمن به يې د هغه په خبره اريانه شوه او وبه يې ويل : دا څه وايې سړيه ! د منګ (موږ) دا دومره خوارى به ددوى له ياده وځي چې بيا به موږ يوازې پرېږدي » . شاه بدين به په دې خبره ځواب ورکړ چې ، « اوس يې څه غم نه کوې خداى ج دې يو وار دوى د چوکه او تنخواه خاوندان کړي بيا هماغه سات او هماغه مسلات » .

ګل عالم په نهم ټولګي کې و چې يوه ورځ يوه ښوونکي ترې پوښتنه وکړه ، ګل عالمه ! پلار دې څه کار کوي ؟ هغه ورته ټوله کيسه وکړله . ښوونکي چې د هغوى له نېستۍ او بېوزلۍ نه خبر شو نو ورته وى ويل : « ګل عالمه ! يوه داسې ورځ به هم راشي چې د ميرعالم خان ځمکې ستا د پلار په څېر خلکو باندې وويشل شي ، بيا به ستا مور نه د خان غواوې لوشي ، او نه به يې غوجل غورځوي ، خپلې غواوې او وزې به يې وي . او د شېدومبو په ځاى به شېدې خوري » ګل عالم په ډېره تلوسه له خپل ښوونکي نه پوښتنه وکړه چې دا کار به څوک کوي او څنګه به يې کوي ؟

ښوونکي هغه ته په ټولنه کې د کارګرانو او بزګرو د ژوندانه په څرنګوالي او د هغوی په وړاندې د پانګوالو او ځمکوالو په دریځ او د طبقاتي مبارزې په ضرورت او د هغې په نتیجه کې د یوه پرولتري انقلاب په مینځته راتګ یو اوږد لیکچر ورکړ، د لیکچر په پای کې یې د ګل عالم په ذهن کې یوازې د (بزګر ـ ځمکوال) او (کارګر ـ پانګوال) نومونه او د هغوی تر منځ اخ و ډب او کشمکش څه تت شان انځور پاتې و. په نورڅه نه و پوه شوی، خو په دغو څیزونو د لا ښه پوهېدلو تلوسه ورسره زیاته شوې وه وروسته بیا ښوونکي هغه ته په دغه برخه کې په منظمه توګه چاپ شوي او ناچاپه مطالب ورکول او هغه به هم په مینه لوستل.

له لنډې مودې وروسته ګل عالم په دې پوه کړای شو، چې د اوسنیو بدمرغیو ستر لامل په ملّي سویه موجوده حکومت او په نړیواله سویه امریکا، انګلیس او فرانسه دي او چاره یې داده چې په ملّي سویه موږ پخپله د کارګرو په دیموکراتیک ګوند کې غړیتوب ولرو او مبارزه پیل کړو. په نړیواله سویه روسان زموږ د دغه عمل ملاتړ کوي، ځکه هغوی زموږ دوستان دي. بلاعوضه مرستې راسره کوي او سړکونه راته جوړوي. له دغه راز خبرو وروسته به ښوونکي هغه ته د رخصتۍ په وختونو کې د کمونیستي لیکوالو ځینې احساساتي افسانې او ناولونه لکه «مهپري»، سپید دندان، دوراز میهن، بانو باسګ ملوث، مادر، نوې فلسفه او داسې نور کتابونه ورکول. یو ځل دوه ځلې یې هغه ته څه درانه او غټ فلسفي کتابونه هم ورکړل، خو د هغه ذهن پرې کار ونکړ، ښوونکي ته یې وویل: زه خویه دې هیڅ پوه نشوم. هغه ورته وویل، «هیڅ پروا نلري ته په فلسفه خپل ماغزه مه خرابوه، زه پخپله هم پرې چندان ښه نه پوهېږم، دا د ګوند د مشرانو ملګرو کار دی. ته همدومره زده کړه چې فیوډالان، سرمایه داران، ظالم ملکان، درباري پیران او ملایان زموږ طبقاتي دښمنان دي او د دغو داخلي مرتجعینو په راس کې امریکا، انګلیس او فرانسه ولاړ دي. کارګر، بزګر او مترقي روشنفکران یعنې زموږ او ستاسي ملګري د زحمتکشانو طبقه ده.

ګل عالم: په روشنفکرانو کې هم مرتجعین شته؟

ښوونکی: « هو! دا په یاد ولره چې مترقي او مرتجع په هرشي کې شته. هغه خلک چې د کارګرو او خواریکښو له ګوند یعنې د خلق له ګوند نه پرته په نورو ګوندونو کې دي هغوی ټول مرتجع دي، که څه هم په لیسو او پوهنتون کې په زده کړه بوخت دي. موږ ځکه مترقي یو چې ترقي او پرمختګ غواړو او هغوی یعنې خانان، ملکان، سرمایه داران

بیروکراتان ځکه مرتجعین دي چې ترقي نه غواړي. هغوی غواړي خپلې موجوده باداری ته په مختلفو پلمو ادامه ورکړي. ته چې یوازې خپل طبقاتي دښمنان وپېژنې او په ټولنه کې د هغوی په طرزالعمل پوه شې نو همدا بس ده.»

ګل‌عالم د هغه په خبرو ډېر ژر قانع شو، ځکه د ښوونځي په ساده درسونو کې هم چندان خوند نه و نو د فلسفې زده کړه خو یې بالکل له وسې وتلې خبره وه.

په دې توګه هغه خوارکی د خلق او پرچم د نورو بې شمېرو غړو په څېر تر پایه د مارکسیزم او لینینزم په اصلي ماهیت پوه نشو، خوله اسلام سره یې مینه کمه شوه، له ملایانو، پیرانو، خانانو

ملکانو او پانګوالو سره یې په زړه کې سخته کرکه او دښمني پیدا شوه. دغه خلک یې داخلي مرتجعین او د خوارېکښانو طبقاتي دښمنان ګڼل. هغه به داسې فکر کاوه چې د ټولنې د دغه پاټکي هر وګړی د ده د پلار په نېستۍ ځپلي ژوندې نېغ په نېغه مسؤل دی.

د ناولونو او نورو پاړوسنکو کمونیستي اثارو او لنډو کیسو به یې د کینې او نفرت خوټلن ته بوټې واهه او د هغه د احساس سکروټې به یې نورې هم تازه او ځلنده کولې. له دې سره سره یې د هغه د ځوانۍ او هوس احساس هم راویښ کړ، او د لمرمخو، هوسۍ سترګو مینې یې هم په زړه کې غزونې وکړې.

ګل عالم له یوې اوږدې مودې وروسته لومړی خپل ورور میرګل په دې خبرو پوه کړ او وروسته به بیا دواړو ورونو په خپل کور کې هم کله ناکله دغه راز خبرې کولې.

د ړوسانو د دوستۍ خبرې به په شاه بدین او د هغوی په مور باندې بنې نه لګېدلې. خو د زړګو دوښې په خبره به یې په برېتونو کې ومسل او ویل به یې: «ګل عالمه زویه! ته هم اجبې، عجیبې، خبرې کوې. د میرعالم خان پټی به څنګه په منګ وویشی؟ له هغه سره شرعي قوالې او سندونه دي. د چا دادایې هم ترې نه نشي اخیستلای. ته نه وینې چې دا ټولې لانجې خلکو تر له همدې ځمکو پېښېږي، مړي یې کیږي، خو څوک چاته خپله یوه لوېشت ځمکه نه ورپرېږدي»

ګل‌عالم به پلار ته وویل: «که ژوندي وو ته به یې وګورې چې د میرعالم خان د ډېرې تر څنګ پټي کې ستا کولبه وګرځي». د هغه په دې خبره به یې مور اوتره غونډی شوه او ورته به یې ویل: زویه پام کوه چې دا خبرې له کوره بهر تر بل چیرته ونکړې، میرعالم خان ډېر بدوږکه سړی دی. هسې نه چې خاورې مې په خوله شي او څه پسات درته جوړ کړي هغوی خوله پساتو ډک دي.»

شپې ورځې او ګلونه تېرېدل ، خو د شاه بدين يوه نه دوه کېدله . زامن يې چې له دولسم ټولګي نه فارغ شول ، نو بېځرته يې هم کار ونه مونده ، په دې توګه د سورساندې ارمان هم پوره نشو، ځکه زامن خولې مېرزايان شوي وو ، خو په تنخواه سپاره نشول .

ميرګل به له پلار سره د پولې اوبتي په کار کې مرسته کوله او ګل عالم اته زمياشتې په يوه دفتر او بل دفتر کې سروهلی برهلی وګرځېده ، خو ماموريت يې پيدا نکړای شو . په پای کې يې له ډېرو الوزرلو وروسته په ملي بس کې د ټکټ خرڅولو وظيفه پيدا کړله له يوې اوږدې مودې نه وروسته يې د رشوت په ورکولو سره د ملي بس په رياست کې ماموريت هم پيدا کړ .

هغه له کوچينوالي راهيسې په ولږه او تنده کې لوی شوی و او تر اوسه لا ورسره ملګرې وه ، د پلار ګومان يې رښتيا وخوت په درې څلور کاله ماموريت کې يې له هغه سره ډيادوني ور مرسته نه وه کړې . د نېستۍ سخت ژوند او له کار څخه محروميت د هغه کرکه له پانګوالو ، ځمکوالو او لوړ رتبه دولتي مامورينو سره نوره هم زياته کړله ، له همدې امله يې په کابل کې هم له خپلو ګوندي ملګرو سره ټينګې اړيکې ساتلې .

د افغانستان د هغه وخت د حکومت بېړه په بېړې د سره ګرداب په لور روانه وه . خو داسې ځواکمن او سترګور ماټوبې نه لاړ چې په راګرځېدو يې پوه شوی وای . د دغې بېړۍ نورې سورلۍ هم مغوچڅرمي سکوټر ورته وې چې که د حکومت مهرونه ترې نه وران شي نو بيا هېڅ ارځښت نلري ؛ په همدې توګه که له هغوی نه هم د وزارت او رياست القاب لرې کړای شوي وای نو نورې په ټولنه کې له هاغې بې مهره چرمې سکې نه زيات ارځښت نه لاره .

د ۱۳۵۷ کال د ثور په اومه نېټه په رڼا ورځ د روس د پلويانو له خوا پوځي کودتا پيل شوه او په يوه ورځ کې يې حکومت نسکور کړ . له يوې لنډې مودې څخه وروسته نوې حکومت د ځمکو په وېش پيل وکړ ، او ګل عالم د خپل ولايت د ځمکو د وېش د ګروپ آمر وټاکل شو .

د ځمکو د وېش ګروپ به چې هر کلي ته ورته نو تلويزيونې کمرې او خبريالان به ورسره وو ، هر بزګر ته به يې چې شپږ جريبه ځمکه ورپله کړله ، نو په هغه به يې د کمرې مخې ته د خوښۍ اتڼ کاوه .

شاه بدين اکا ته هم د ميرعالم خان د ډېرې نه نږدې شپږ جريبه زمکه ورکړل شوه . په دې

PROPERTY OF ACKU 1752

ټوټه دهغه دکلونو ، کلونو ارمان وړژېده . خوله دې سره سره دهغه پرزړه د یوه نا معلوم غم درند بار پروت و ، ځکه هغه به دکلي له خلکو د نوي حکومت او نورو واکدارانو د بې دینۍ او ظلم په هکله ډول ، ډول خبرې اورېدلې.

لږ موده وروسته دا انګروزه هم خپره شوه چې یوځو کاله وروسته دغه ځمکې بېرته له خلکو اخیستل کېږي او بزګران به د حکومت لپاره ځمکې کري. خپله برخه به یې کې اخلي او نوره به حکومت ته ورکوي ، د حکومت له امره پرته به یو کار هم نشي کولای ، په هر څه کې به ترینه اجازه اخلي.

له دې سره سره په کلیو کې د ملایانو او په ښارونو کې د ښوونکو ، شاګردانو او نورو مامورینو زندان ته لېږل پیل شول . په هر کور کې د غم او ماتم ټغر وغوړېده ، له حکومت نه وېره او کرکه ورځ په ورځ زیاتېدله ، په پای کې ټولو ته جوته شوه چې دا حکومت ټول کارونه د روس په لمسون کوي ، او د خلک او پرچم ډلې ټول غړي د روس په لاس کې د مومو پوزې دي هرې خواته یې چې کږې کړي ، نو هماغه خواته تاوېږي . د حکومت بې شمېره مرګ ژوبلې ، غیر اسلامي او غیر انساني اعمالو په وړاندې علماو اسلامي پاڅون اعلان کړ . د جهاد په نامه په هر کوټ کې د رژیم پرضد وسله واله جګړه پیل شوه د دې په وړاندې حکومت هم چې هر څوك لیده د مشتبه او مشکوك په نامه به یې زندان ته لېږه ځینې به یې په لاره کې وژل ، ځینې به یې له الوتکو غورځول او ځینې نور به یې له وهلو او ټکولو لاندې مړه کول . په دې ترځ کې د مجاهدینو حملې زیاتې شوې او د حکومت د اقتدار کمبله ورځ په ورځ په کلیو او وړو ښارونو کې مخ په ټولېدو وه.

پرچمیان او خلکیان دېته اړ شول چې له کلیو او وړو ښارونو نه لویو ښارونو او کابل ته کډه وکړي.

شاه بدین اکاته هم دغه غم ورله غاړې شو ، له ځمکې نه خولې لا پخوا زړه ختلی و خواوس ورسره د زامنو د سر غم هم ملګری شو . ګل عالم یوه شپه په پټه کور ته ورغی او له هغه سره یې کابل ته د تللو مشوره وکړه او ورته یې وویل : « اوس روسان پخپله د انقلاب د ساتنې لپاره راغلي دي او حکومت هم موږ ته ډېره تنخواه را کوي. موږ به هرو مرو د خپلو دوستانو (روسانو) په مرسته په داخلي مرتجعینو بریالي کېږو ، دغه ډول شورشونه په تاجکستان ازبکستان او بخارا کې هم شوي وو ، خو په پای کې ټول ناکام شول .

شاه بدین ، د ګل‌عالم په خبره سوروساندې ته وکتل چې ګوندې هغه خپل زوی په خبره پوه کړي چې موږ به په کابل کې له روسانو سره څه کوو، خو هغې ورته په ژړغوني اواز وویل : «زه خواره په دې خبرو څه پوهېږم ، خو هغه تېره ورځ د ملاصیب ښځې وویل: «چې وروسیان خور او مور هم نه پېژني نور خوبې لا څه کوي.»

ګل‌عالم په غوسه وویل : پلاره ! دا خلک چې دا خبرې کوي دا نه پوهېږي دا جاهلان دي په خپل خیر او شر نه پوهېږي، روسان زموږ دوستان دي زموږ د انقلاب د ساتنې لپاره راغلي دي، خو دا ناپوهه خلک غرونو ته وختل او جنګونه ورسره کوي ؛ ته به یې وګورې چې حکومت به دوی څنګه ژر درنه ورک کړي . د منګ د حکومت ترشا د روس ټول پوځ ولاړ دی.»

سوروساندې چې د زوی له خولې نه د روسانو نوم واورېده نو د ګل عالم په خبرو کې ورو ورو لوېده او ورته یې وویل ، «زویه مسلماني ښه شی دی. پلار به دې له مجاهدینو نه درته مایې (معافي) وغواړي . همدلته به د غریبۍ شپې سبا کوو، که اوس کابل ته لاړ شو او سبا هغه ځای هم درباندې سور اور شي نو بیا به څه کوو . هیڅ ته به هم له شرمه پورته نشو کتلای . اوس هم په کلي کې په ټیټو سترګو ژوند کوو . هر سړی وایي زامن یې د روسانو تنخواه خواره دي . همدا شرم موبس دی. کابل ته مومه بیایه. وروسیان هیڅ هم نه دي دوستان کړي .»

شاه بدین ، «رښتیا وایې ګل‌عالمه زویه ! وروسیان به څنګه د منګ (موږ) دوستان شي دا خو زما عقل نه مني . بادار هیڅکله د مزدور نه دوست کېږي . دا زما تجربه ده. ماله شلو کلونو هم د میرعالم خان زیات خدمت کړېدی خو هغه ما ته هیڅکله هم د دوست لا څه چې د انسان په سترګه هم نه دي کتلي. په دا شلو کلو کې یې یوه ورځ هم زه خپل سیال نه یم ګڼلی . هغه تېره ورځ راته د مجاهدینو قوماندان اکبرخان وویل چې که ګل‌عالم او میرګل اوس هم راشي موږ ورته څه نه وایو که له موږ سره جهاد نه کوي نو له وروسیانو سره دې هم کار نه کوي . یو مړی روږی ده خدای به یې رارسوي ، که خوښه دې وي سرله سبا به ورشو او ورته وبه وایو چې تاسې دواړه نور د حکومت ماموریت نه کوئ او همدلته به په کلي کې اوسېږئ .»

ګل عالم: «زه دا کار نشم کولای ، زه لېونی نه یم چې په غرو او رغو کې وګرځم او نه مې اوس په دې وخت کې دا کولې او مزدورۍ له لاسه پوره دي ، بس دی ډېرې خوارۍ مو وګاللې په کابل کې له منګ نه پرته نور خلک هم ډېر دي ، وروسیان په عسکري فرقو کې

دي په ښار کې ټول ړنګ ګونډي ملګرې دي . تاسې خو یوځل لماسره لاړ شئ که خوښ مو نشو نو بیاخو بېرته هم راتلای شئ او موږ ته خو به دې ډاډه اوسه چې دا خلک په دې توروړنګ وهلو ټوپکو کابل نشي نیولای ، ما مخکې هم درته وویل چې وروسیان زموږ باداران نه بلکه دوستان دي ، هغوی له موږ سره په یوه سنګرکې پراته دي. په دې خبرو ستاسې سرنه خلاصیږي پلاره .د میرعالم خان دباداری او دوستۍ خبره . بېله ده او دشوروییانو بېله . له هغوی سره زموږ ایډیالوژیکي پیوند دی او ستا اړیکي له میرعالم خان سره صرف دکار او مزدورۍ پراساس ولاړې وې او زموږ .... خیرته داڅه کوې خونه زما خبره ومنه ! شاه بدین : « زویه ! زما عقل یې نه مني خو ستا خوښه چې دخپل کلي بادار نه دوست کیږي ، نوددریم کلي بادار به څنګه دوست شي زما په ګومان خو بادار هرچېرته بادار وي . خیر زه رښتیا هم ستا په خبرو سم نه پوهېږم خو هسې نه چې دهمدې غریبۍ دخالي ارمان وکړو .

که څه هم شاه بدین او سورسانده کابل ته په تلو خوښ نه وو خوزړه بنت او نېستي له یوې خوا شوه او د زامنو مینه یې له بلې خوا شوه آخریې دېته اړکړل چې کابل ته راشي . هلته یې په یوه کرایي کور کې واړول څوورځو وروسته یې زامنو دکور ټول ضروري سامان په بیه واخیسته پر نورو ضروري لوښو او څیزونو سربېره یې یخچال رادیو او تلویزیون هم کورته راوړل . تلویزیون او یخچال د شاه بدین ، سورسانده او ګلنارې لپاره بالکل نوي څیزونه وو . د یخچال په هکله ګل عالم خپلې مورته ویلي وو ، « ادې په دې کې چې هرشی کېږدې نونه خرابېږي ، ځکه چې یخ کرخ به وي ، تاته خو معلومه ده چې په یخ کې هیڅ شی هم نه خرابیږي . » په دې توګه هغې یوه ورځ د هغه عسکرې بوټان هم ددې لپاره چې خراب نشي په یخچال کې ایښي وو . وروسته چې هغه خبرشو نو وی خندل او ورته وی ویل : « پام کوه چې ګاونډیان درنه په دې کار خبرنشي چې پېزه به موبړې شي ، ما یوازې دخوراك شیان درته ښودلي وو . » هغې ورته په خورا سادګۍ وویل : « خو تا ویل چې هرشی په کې کېږدې نونه خرابیږي ، ماکله داشیان لیدلي دي ، د وروسیانو ماغزه خوله شیطان نه هم زیات دي چې داسې شیان جوړوي » .

په لومړۍ ورځ چې ګل عالم په ډېر ویاړ سره تلویزیون راوړنو سورسانده او ګلناره دواړه ورته اریانې وې . ګلنارې خود سړیو په راښکاره کېدو سره مخ بلې خواته واړاوه ، په هغې کې لا دکلیوالې پېغلې حیا موجوده وه ، خود واړو وروڼو یې ورپورې وخندل او هغه له شرمه له کوټې نه بهر ووتله .

له یوې اوږدې مودې وروسته شاه بدین ورو ، ورو د کابل له ژوند او روسانو له لیدلو سره اموخته شو او په پای کې خو پوهنه باندې د خپلو پرچمي زامنو خبرو دومره اغېزه کړې وه چې ځان یې د کابل په کمونیستي حکومت کې بالکل شریک ګاڼه. داخلي او روسي عسکرې هم ټول خپل ګڼل داسې تا به وې چې بالکل د ده زامن دي.

په دغو دریو شپو ورځو کې به هره شپه د تکبیر ناري اوچتې وې. دی به هم پورته شو یوه نیمه ناره به یې وکړله ، شاو خوا به یې وکتل او بېرته به راښکته شو. فکرې په عجیبو کشالو اخته و. په دې نه پوهېده چې که دا خلک ربښتیا اشرار وي نو داد تکبیر ناري ولې وهي او که نه نو دا زامن مې ولې داسې راته وایې چې دا اشرار دي؟ هغه کلیوال ذهن د دغې معما د حل لپاره دومره زیاته هڅه هم نه کوله، ځکه د آرام ژوند د حرص لېم د هغه اسلامي او افغاني احساس پېچلی او ویده کړې و. خپل زامن ورته له دې امله ښه سړي ښکارېدل چې حکومت پرې مهربانه وه ځوکه او منصبونه یې ورکړي وو. ژوند یې لږ څه آرامه شوی و ، د حکومت د ښه والي لپاره هم له هغه سره هم دغه یوه دلیل موجود وه چې پخوا زما په ښېر د خوار او نېستمن سړي زامن کله چا د حکومت پر ځوکه پرېښودل او اوس رادي له خیره سره زما په ښېر د خوار سړي زامن هم غټ غټ منصبداران دي. په هره میاشت کې کور ته یو پنځه روپۍ راوړي نو حتماً دا حکومت ښه حکومت دی او روسان موهم ځکه دوستان دي چې له هغې حکومت سره مرسته کوي.

په کور کې دیوه ډول خواشینوونکې اندېښنې او ناکراری احساس کېده. بوډا شاه بدین راډیو ته غوږ نیولی و. پېغله خور د دواړو ورونو په اندېښنه کې ډوبه وه. کله کله به یې چې د مور بې واره ټوخی او ناکراري زیات شول، نو ورو به یې د صندلۍ برستن د هغې له مخه لیرې کړه او ورته وبه یې ویل: «ادې خشکه یې؟ دوا لکه چې دربانده ښه نده لګېدلې؟» هغې به په رېږدېدلي اواز په ډېره سختۍ ورته وویل: «ګلنارې! زما غم مکوه هسې هم عمر راباندې تېر دی، خدای خبر که کومه شپه مې نوره په کور وي له ما سره ستا غم دی لوړې .... هغه ورونه دې راغلي دي که نه؟

ګلنارې به د هغې د ډاډ ګیرنې لپاره وویل: «بخپله نه دي راغلي خو خبرې یې رالېږلي چې ښه یو.» نور به یې برستن ورو د هغې پر سر راکښله او هغې به هم د درد او کمزورۍ له له امله نوره ورسره خبره نشوای اوږدولای. له برستنې لاندې داسې پرته وه چې که ټوخی به یې غلی و نو د مړي ګومان پرې کېده.

ډېرو په شدت به پلار او لور یو بل ته په استفهامیه انداز وکتل خو هېڅ به یې

هم سره نه وېل ، سپين ږيري به کله ، کله د کوټې دروازې ته پر مخامخ دېوال د برژنيف او کارمل څنګ ترڅنګ ايښودل شوو تصويرونو ته چې د خندا په حال کې اخيستل شوي وو وکتل ، او کله به يې ترېنه لږ لاندې د خپلو زامنو تصويرونو ته وکتل چې د کارمل او برژنيف تصويرونو ته مخامخ وو او له عسکري لباس سره د سلامي په حال کې اخيستل شوي وو (تا به وې چې په ګډه سره د سلامي په حال کې اخيستل شويدي) د عکسونو په ليدو به يې د غم او خوښۍ احساس يوځای سره غبرګ وکړې . په زړه کې به يې داسې تېر شول چې که د جنګ موده په بري پای ته ورسېږي ګوندي زامن مې نور هم پرمختګ وکړي او د سترو څوکيو خاوندان شي . د دغه راز خواږه تصور په يادکې به دده خوله هم له خندا نه جينګه شوه او ځان به ورته د نېکمرغۍ پر تخت ناست ښکارېده او زامن به يې ورته د جنرالۍ په لباس ملبس ترخپل څنګ ولاړ ښکارېدل ، خو د بهر بې واره ږږو به يې د تصوّر د دنياګۍ د تخت پښې ړېږې ژر ولړزولې ، د زامنو نا معلوم سرنوشت او ناروغې مېرمن را په يادېدو به يې بېرته د اندېښنې ځپې په ګونځې ګونځې مخ را خورې شوې .

مازيګر و ، ګلنارو د پخلي لپاره بهر ووته او شاه بدين اکا راديو ته غوږ نيولی و. بهر د واورې او باران پاغونډې او څاڅکي ګډوډ راتوئېدل . هوا شېبه په شېبه تياره کېدله ، ږږې هم ورو ، ورو کمېدلې . بهر په کوڅه کې د پښو د ربهار و داسې معلومېده چې څه پياده عسکر روان دي . د ګلنارې تلوسه شوه . د بام سرته وختله او د بام بوټي په کونج کې غلې کېناسته . د هغوی کور د لوی سړک پرغاړه پروت و . سره سره روسي عسکر ماشين ګڼې په لاس ګوته په ماشه د وږو لېوانو په څېر يوه خوا بله خوا اوتر ، اوتر ګرځېدل . ګلناره يوه شېبه هلته غلې کېناسته . يوه ، يوه شېبه وروسته به دوه او درې عسکر په ګډه تېرېدل . د کوڅې يوه خوا او بله خوا کورونو ته به يې په ځير ، ځير کتل . لږه شېبه وروسته چې هوا نوره هم تياره غوندې شوه او ورونه يې راڅرګند نشول ، نو هغه هم په مات زړه بېرته راکېوته . له ماښام سره سم دروازه بې واره بې واره وټکېده د شاه بدين اکا په زړه کې تېر شول چې ګوندي زامن به مې راغلي وي ږږې خو کراړې دي لکه چې د دوستانو پوځ د حکومت پر مخالفينو بری موندلی دی . د راډيو له اعلاميو نه هم داسې څرګندېدله . په څېره کې يې د خوښۍ ښې را څرګندې شوې له کوټې نه بهرته راووت ، ګلناره هم ورسره راووتله . د ورو خولې ته چې ورورسېده نو د زړی نوم يې واخيست چې مبرکلله ! اله بلې خوانه چا غږ ورنه ونکړ ، خو دروازه هاغه پول

بې وار بې واره کړېدله ، هغه په زړه کې ترا وخوړله ، هسې نه چې څوك ورانکاري نه وي د دروازې له چاودونه يې د احتياط لپاره بهرته وکتل ، روسي عسکري وليدل . هغه چې ده به ورته د دوستانو په سترګه کتل . په ليدو يې لړزشان واړه شو دريې کسه وو يوه دروازه وهله دوه نورې شاته ولاړ وو . شاه بدين اکا دروازه پرانيستله او هغوی هم يو په بل پسې رانوتل هغه د پخوا په څېر سلامي ورته ووهله ، خوشحالي يې ورته له خولې نه د دوست ! دوست ! کلمه هم بې واره بې واره ووتله . هغه په دې تمه وچې د تېرو ورځو په څېر به يه مسکا استقبال شي ، خو د هغوی تندي تريو او په سترګو کې يې بې خونده هيلې ښکارېدلې . دريې واړو ګلنارې ته په ډېر حرص کتل ، دروازه يې بېرته بنده کړه . پلار او لور ته يې کوټې ته د تلواشاره وکړه . شاه بدين او ګلناره ټکني غونډې شول ، خو هغوی ورپسې کوټه په ماشه اېښې راروان وو ، شاه بدين نه پوهېده چې څه وکړي بيا يې مخ راواړاوه خوشحالي يې بې واره بې واره بيا د دوست ! دوست ! کلمه له خولې ووتله يعني دا چې موږ ستاسو دوستان يو . هغه لا په دغه شېبه کې نور څه څه ويل چې د کلاشينکوف کنداغ يې په تندي سرې وينې راماتې کړې او دريب شو چې د زاړه دېوال په څېر يوې خواته په دالان کې ولوېده . په هغه نورو دوه کسو کې يوه بيا د سترګو په رپ کې د ګلنارې په خوله لاسونه اېښي وو ، د دغه راز حالت په ليدو د ګلنارې په غړو غړو کې ځواك پاتې نشو او هيڅ په ځان پوه نشوه . د وحشت سرې پنجې د هغې د عزت د کرېوان په څيرې کولو لګيا وی ، خو هغې په خپل ټول ځواك سره هڅه کوله چې د عصمت او عفت مرغلرې يې لوټ نشي .

هغو دوه لېوانو ايله په ډېرې سختۍ سره هغه ټينګه کړې وه . په دې ترڅ کې يې مور هم د بې واره دريب او دروب او د ګلنارې د شور او ځوږ له امله په ډېره سختۍ سره له درندې بړستنې نه سرا پورته کړ . د ګلنارې او روسي لېوانو په ليدو يې يوه بې واره کوکه له خولې ووتله ، خو په همدې شېبه کې دريم لېوه راننوتی و او د عسکرۍ په درنو بوټانو د هغې پرسينه ودرېده او خپله برچه يې د هغې پرزړه ورخښه کړه ، له يوه دردوونکي ژګيروي وروسته تر بړستنې لاندې د سورساندې د ترونډ تنه ډېر مړه شوې وه ، هغه چې د سره اقتدار لپاره يې هيڅ زيان نه ورسولای او نه يې رسولای شو د خونې په فضا کې د زړې ناروغه ښځې د وينې بوی خپور شو ؛ د لېوانو د هوس لمبې بلې وې ، دريې واړه په نه تسليمېدونکې پېغلې ورپېوتل ، خو هغه نه ايلېدونکې وه له يوې خوا د دوی وارخطايي وه او له بلې خوا د ترونډ ترپايه د نه تسليمېدونکې پېغلې هوډ

و. وحشت او انسانيت سره لاس او ګرېوان و، دعفت او هوس جګړه وه ، د مورد مظلومو وينو رود روان و ، لور دخپل پت د ساتلو لپاره پکې لامبو وهله . مور يې په نهه سوړه پرته وه ، د پلار پر تندي يې بهر وينې راماتې وې او خپله يې د مېړوانډي ښکار په څېر دلېوانو په پنجو کې د ژغورنې په هيله ورستۍ هڅې کولې ، هغه لېوه چې بهر بوډا شاه بدين او ډننه ناروغه سورسانده په برچه وهلې وه لږ شان زبون وهلی ښکارېده، خو سره له دې هم په کورکې د پېسو په لټه بوخت ښکارېده، نورو دواړو دخپل هوس د تندې ماتولو لپاره هڅه کوله . په همدې ترڅ کې ناڅاپه بهر په کوڅه کې شور او ږوږ شو په شور او ږوږ پسې پرله پسې ډزې شوې. د روسي عسکرو، وار پار خطا شو ، خپل ښکار يې په نهيلۍ سره پرېښوده او وېرې ترينه پورته شول . يوه لېوه چې په سترګو کې يې د هوس لمبې بلې وې او ګلنارې يې په مټ خوله لګولې وه ، له ډېرې غوسې نه يې خپله برچه په وحشيانه توګه راپورته کړه ، په داسې حال کې چې ګلنارې ورته په واړو سترګو کتل او له وېرې او ستړيا نه يې سلګۍ وهلې ، د هغې په تشي کې ورننوته کړه . هغې يوه دردوونکې چيغه وکړه او دواړه لاسونه يې په خپل سوړې تشي کېښودل ؛ د خپلې ځوانۍ او تودې وينې ګرمي يې په دواړو لاسونو احساس کړه . په يوه ځنګ راپرېوته ، لېوه له دغه کار نه وروسته خپل نه ايلېدونکي ښکار ته په حقارت وکتل او بهرته ولاړ .

درې واړه په منډه د دروازې شاته ځانونه ورسول ، هغوی يوه شېبه مخکې کورته د ننوتو په حال کې کوم مجاهد ليدلی وو . له يوې شېبې عارضي کړاوه نه وروسته يې ور پرانيست او په کوڅه کې يې لړاوبر وکتل چې څوک يې ونه ليدل نو د راوتو په تکل کې شول ماشينګڼې يې په لاس او ګوته په ماشه روان وو چې له يوه کورنه پرې د سرو سکروټو باران جوړ شو درې واړه په يو بل پسې په کوڅه کې د شاه بدين وره ته نږدې وغزېدل . د درې واړو ناولې وينه د کوڅې په ختو او اوبو کې ورکه شوه . يوه شېبه وروسته دوه روسي ټانکونه او څه پياده عسکر د مردارې د ټپوسانو په څېر د ډزو د ځای په لور راوخوځېدل .

په دغو ټانکونو کې له روسي سپايانو سره د شاه بدين دواړه زامن هم سپاره وو ، هغوی له ځان سره دا پرېکړه وکړه چې که زموږ نور ملګري د کورونو په پلټلو بوخت شي نو موږ به ژر يوځل خپل کورته ننوزو او خپله مور خور او پلار به وګورو . به بېړه د کور د دروازې په لور روان شول . هلته يې د درې روسانو مړي پراته وليدل ، خوو سلې ترينه چاوړې وې د کور ور يې چې پرانيستی وليده ، نو لږ وارخطا ، شانته شول . انګړ ته چې ورننوتل نو د پلار

په لیدو یې زړګه له پښو لاندې وتښتېده . دغه په تندي سرې وینې راماتې وې. ژړې راپورته کړې او د کوټې په لوري یووړ ، په دغه وخت کې هغه هم سر راپورته کړ او سترګې یې ورو شان وغړولې. د وروځو له پاسه یې وینه پرنډه شوې وه . زامنو لا له ده نه پوښتنه نه وه کړې چې د کوټې له وره نه لږ ور وړاندې یې د خپلې خور خیرې ګرېوان او شوکې پنوکې مخ ته پام شو. په وښکیو یې د وینو سرې لیکې راروانې وې. شاه بدین چې

سترګې وغړولې نو لومړی یې زامنو ته وکتل او بیا یې لور ته پام شو ، د لور په وینو لړزند مخ ، خیرې ګرېوان او نیم بربنډ صورت یې غوڼې زیږه کړل. رنګ یې داسې تک ژیړ شو لکه د پاخه کدو ، تا به وې تکې وینه یکې نشته. هسې یې هم له سر نه ډېره وینه څڅېدلې وه او تراوسه لا هم ترینه یو نیم څاڅکی څڅېده . کوټه د وینو بوی پر سر اخیستې وه . ګل عالم چې وړاندې ورغی نو خورې ولیده چې پرمخه پرته ده. د دواړو ورونو ناڅاپه کوکې کړې ، د هغې مخ په وینو سور او له تشې نې یې لا وینه روانه وه د مور له مخې نه یې چې بړستن پورته کړه ، نو د هغې وارو هیبت وهلو سترګو ورته ټوله کیسه تېره کړه . ګل عالم او میرګل د دغې پېښې په لیدو خپل سرونه کلک ونیول او بې واره ، بې واره به یې د لیونو په څېر ویل : اوه !

د ومره وحشت ! د ومره ظلم ! په دغه وخت کې د شاه بدین بې نوره او کولکو کې لوېدلې سترګې هم وغړېدلې . زامنو یې په ډېره بېړه او وارخطایي ترېنه پوښتنه وکړه :« پلاره دا ولې ؟ ! دا چا ؟

د هغوی دا ګومان و چې دا کار به اړو مړو (د دوی په اصطلاح (اشرارو) یعنې مجاهدینو کړی وي. ځکه بهرني درې تنه روسان هم وژلي دي ، خو بوډا شاه بدین د هغوی دا ټکل پرخلاف په ډېر کړاو سره په وینو سور رېږدېدلی لاس راپورته کړ او د برېژنف او ببرک خند نیو تصویرونو په لوري ونیوه ، په ډېر کړاو یې یوازې همدومره له خولې نه ووتل :« ستاسې دوستانو ! »

نمبرناین

په هغه شپه به دماسخوتن (۹)بجې وې چې دنوي ښاردحاجي یعقوب دجومات تر لوړې منارې لاندې یولوړدنګ زلمی ولاړ و. دنورولمونځ غاړو په څیر دي هم یوڅوشیبې مخکې له جومات نه راووت نورخلك خپلو کوروونوته ستانه شول ، خودي هماغلته په چورتونوکې داسې ډوب ودریده تابه وې چې په کومه ډیره لانجمنه پیښه څه غورکوي .

دپلنو اوږو،پراخه سینې اولوړې ونې په لیدو یې سړي ته درومي امپراطورۍ شوالیه ورپه زړه کیدل . ویښتان یې ګڼ اوسره نښتي وو . یوه کوده بریت یې په شونډو راځوړند و،څوکویې دبغاوت په‌توګه سرونه پورته نیولي وو . دمخ په سره سپینه کاسه کې یې تورونافذ و سترګو دلیدونکې پام له ورایه ځانته رااړاوه .

په دغه شاوخواکې بله داسې ودانۍ هم نه وه چې دجومات

له دنگو منارو سره په لوړوالي کې سیالي وکړای شي اونه بل
داسې کوم ځای وچې له جومات سره دې په گڼه گوڼه کې دسیالۍ
آرزو وکړي. هیچاهم داتصورنشوای کولای چې یوه ورځ به
دجومات گڼه گوڼه کمه شي اوخلك به يې په راتلوسره دپولیسو
له خوانه څارل کیږي .

داخبره دچاپه خوب وخیال کې هم نه تیرید له، خوڅه موده
وروسته دغه ناشوني خبرۀشونې سوه .

دجومات دسترو منارونو پرتم اوجلال، دسپوږمۍ اوگروپونو
گڼو وړانگو دوه چنده کړی و. داسې به ځلیدلې تابه وې چې
دطور دغره دڅراغ رڼا پرېرا خوره شوې ده . پردیوالونو يې
دسترخدای ستاینزې جملې لیکل شوې وې . دخدای بې شمیره
نومونه اودبشریت دلارښودکتاب (قرآن) ایاتونه
دمنبرپرشاوخواکښل سوي وو. په څلورو واړو کونجونوکې يې
گروپونه بل وو. دلمونځ غاړو نوراني تندي دگروپونوپه تیزه رڼاکې
نورهم پسې ځلنده ښکاریدل .په هر لمانځه کې به گڼ شمیر
لمونځ غاړي ورته راتلل اوله لمانځه نه وروسته به په خوښۍ سره
خپلو کورونو ته ستنیدل .

جومات دڅلورلاریځې په یوه گوټ کې و اوترهغې رادیخوا
دهمدغې څلورلاریځې په یوه بل گوټ کې جومات ته مخامخ
دویښو شپو یومرکز پرانیستل شوی و.کوچنۍ دوه پوړیزه ودانۍ وه
نوره څه خاصه ښکلایې نه درلوده ، خوټوله شپه به پکې
دتورو زلفو داجل دامونه دمعصومو ځوانانو لپاره غوړیدلي وو
دمظلوم اوبیوسه ملت داوښکوله شرابونه ډك جامونه پکې
کړنگیدل . دهوس داورلمبې پکې بلې وې دزړواو ځوانانودتقوی
درمند ته يې سپرغۍ وربادیدلې . گناه په بیه اخیستل کیده،

ځومره گرانه وه اوځومره په مینه اخیستل کیده؛ ښځو خپل عصمتونه په یوه پیاله ترخو اوبو اوځوخړو کاغذي نوټونو پلورل حسن دخلکو دتقوي لپاره ناسورگرځیدلی و. جامونه تشیدل – جیبونه تشیدل، زړونه تشیدل او په پای کې به هرسړي ترینه زوړندسر دگناه پیټی پراوږو بار راوتلو .

دوحشي هوس خوږلن دانسانیت داخلاقو بڅري سکاره کړي وو؛ حیا په ډیرحسرت سره ترینه رخصت شوې وه. دگروپونو سره رڼا به کله تته اوکله تیزه سوه. په دې توگه به ژیړرنگي هم سره ښکاریدل . دسندرغاړو پستې غزلې، دجامونو له کړنگ سره یوځای اوریدل کیدلې؛ د مستو شرابیانو بې واکه اوبې باکه خندا ته حیا گوته په غاښ وه. هره خوا سروراوشرنگا وه ؛ دهرې لمرمخې دمړاوو خماري سترگو په کتوکې په زرگونودعوتونه وو وحشت اوهوس له حیا سره لاس اوگریوان ښکاریدل . ددغې فضا اوماحول هره ذره دگناه پیټی و ، انسان به داسې احساس کاوه چې دعقل اوپوهې سترگې ړندې شوې دي اوهیڅ هم نه وینې.

هغه هم دجومات له منارو نه ورو، ورو د ویښو شپو مرکز (نمبرناین) په لور راوخوځیده. هلته چې د لیلی دهم جمالانوښکلا اوحیا دواړه نیلام کیدلې. دغه سوغات (نمبرناین) کابل ته دسرو لښکرو له راتلو سره سم راغلی و .هغه په درندودرندو قدمونو د نمبرناین دروازې ته راورسیده. په ځیره کې یې دستړیا او مرموز غم نښې نښانې له ورایه ځرگندې وې داسې ښکاریده چې دډیرو شپو بې خوبه اودډیرو مزلونو ستړی وې. د دروازې ساتونکي یې په اوږو اودځنگ په جیبونولاس وواهه اوبیا یې ورته دتلو اجازه ورکړه. په دغه وخت کې هغه داسې بې حرکته ولاړ و تابه وې چې ساه پکې نشته ، ذی چې تیر شو نویوه ساتونکي بل ته وویل: "ذی خولکه چې ورته له کوره نشه راغلی وي." هغه بل وویل: "هو! ځینې خلك له کوره نشه راځي

اوځيني بيا كورته نشه ځي .

خالد چې دننه ولاړ نو څه اوترشانته شوهغه څه چې ده په غړيدلو ستركو ورته كتل هيڅ باوريې پرې نه راته . په يوه كونج كې نجونې اوهلكان سره گډ څه چې ښېژدې ديوبل په غيږ كې ناست وو ، دتيارې تتې پردې دهوټل له نورو خلكونه لږ شان پناه كړې وو ، خودتيارې دغه تته شان پرده به هم له هرو دوه درو دقيقو وروسته دبريښنا دسپينې تورې په ناڅاپې يرغل سره څيرل كيدله. په دغه وخت كې به ناڅاپه دهغوې هر څه راڅرگند سول. په اول كې خودهغه هيڅ ديته پام نسو ، چې گنې په هغه تياره كونج كې به هم څه وي . اوكه نه ، خو وروسته ورته دبريښنا پړك هرڅه څرگند كړل . هغه د هوټل لويې دروازې ته مخامخ يوه ميز ته ښېژدې پريوه څوكۍ باندې كښيناسته ، هره خوا به يې چې كتل نو دهرې نجلۍ په هرحركت كې د هوس بلنه موجوده وه ، خوهغه به ترينه ژر ستركې بلې خوانه واړولې. يوه شيبه وروسته دبارخاوندې (ماه جان) ورته يوه لمرمخې اوهوسۍ ستركې نجلۍ راوليږله چې دڅه خوړلو اوياڅښلو تپوس ترينه وكړي . نجلۍ ورغله اوپه ډيره مؤدبانه لهجه يې ورته وويل: "ښاغليه ! تاسې څه فرمايش لرئ ؟ خالد ورته په سړه لهجه وويل: "يوكوك اولږ چپس راوړه ". نورېې مخ بله خواواړاوه. ماه جان چې د(سپرغۍ) په وړاندې دخالد سړه رويه وليدله نواريانه سوه دغې نجلۍ نوم بل څه و، خو(ماه جان) اونورو نجونو پرې ځكه دسپرغۍ نوم ايښې و چې هرډول سړى به راغى اوله نورو نجونو سره به يې مينه ونه ښودله، نو دابه يې چې وروليږله سمدلاسه به يې دهغه د هوس په باروتواورلگولى و، خوهغې وليدل چې سپرغۍ دخالد احساسات مشتعل نكړاي شول، نويوې بلې نجلۍ ته يې په ټوكه وويل: "داخو دومره سوړسړى دى لكه چې همدا اوس له سايبريانه راغلى وي". هغې په خندا وويل: "ماته هم

دابدمرغه لیوه همداسې ښکاري. دبارنجونو به بارته راتلونکي کسان لیوان بلل .

ماه جان ډېره مکاره اوچلبازه ښځه وه، سپرغۍ ته يې وويل داځل چې ورغلې په دې پلمه يې نخنگ ته کېنه چې گنې ته ورته په گيلاس کې شربت اچوې زه به درپسې دبلې نجلۍ په لاس (وادکا) هم درولېږم اوته يې سمدلاسه دکوك پرځای ورته په گيلاس کې واچوه چې دا يوبوتل (وادکا) په دې سره بلاخرڅ نکړم زړه مې توردی ، داخوځه دماشومانو هوټل ندی چې کوك اوچپس به راته خوري اونوربه ځي، داخوبه هرځای کې شته دي، پوه شوې که نه سپرغۍ تاته وايم .

دماه جان له خبرې سره يوې بلې نجلۍ هم يوبې خونده اکټ وکړ اووې ويل: "هو، نود خلکو له جيبه خوپيسې راايستل څه اسانه خبره نده. سپرغۍ هم دهغوی دخبرو دتائيد لپاره سروخوزاوه اورا روانه شوه .خالد تردې مخکې دافکرکاوه چې هسې نه بريښنا ناوخته کړي اوزما پلان شنډ شي دا انديښنه هم ورسره وه چې ايا هغه به دتومانچې په راتيرولوکې بريالۍ شي اوکه نه ، خوڅرنگه چې هغې اطمينان ورکړی و نولږ به ډاډه شو. په همدغه شيبه کې چې خالد ديوساعت وروسته پيښې په کاميابۍ اوناکامۍ باندې په غورسره فکرکاوه، سپرغۍ دهغه مخې ته کوك اوچپس کېښودل .پرته له دېنه چې اجازه ترينه وغواړې په مخامخ څوکۍ ورته کيناسته اوپه دلبرانه خندايې ورته وويل: "ته ډيرستړی معلومېږې لکه چې دکوم لېرې ځای له سفرنه راغلی يې." دهمدې خبروپه ترڅ کې يې دهغه مخې ته نيم گيلاس (کوکا کولا) شربت کېښوده .خالد چې له يوې خوا نه څه پريشانه غوندې و اوله بلې خوا له دغه ډول ښځو سره دخبرو کولو په طور طريقو هم ښه نه پوهيده بالکل تلولی شانته سو – سپرغۍ ته يې په پوره بيزارۍ وويل: "نه! زه ستړی نه يم خوڅه

کارمې و دیوی شیبې لپاره دلته راغلم چاسره مې ژمنه کړې وه همدا ځای یې راته ښودلی و. سپرغی ورته بیا په خندا وویل: « ژمنه دې له کومې هوسۍ سره وه اوکه له کوم لیوه سره؟» له خبرې سره سمه دخالد سترګوته ځیرسوه. دهغې مطلب داوچې په دې توګه به هغه له ځان سره په خبرو بوخت کړي اوپه پای کې به یې دنورو ګڼو هوس اخیستو په څیر جیبونه تش کړي، خودهغې دغه ګومان بې ځایه و ځکه وې لیدل چې خالد دومره لمده کونده ده چې ان تردې اوربه هم په اسانې پرې اغیزه ونکړي، ځکه دسپرغۍ دې خبرې ته یې هم داسې ځواب ورنکړ لکه څنګه چې دهغې تمه وه. سپرغۍ داسې فکر کاوه چې زما په دې خبره خوبه خالد لږ تر لږه دومره ووایي چې هوسۍ څوک ده اولیوه څوک دی، خوڅرنګه چې هغه بیاهم هیڅ ونه ویل اوددې پرځای چې هغې ته ځواب ورکړي دچپس یوڅوپترکي یې خولې ته واچول او دکوک یو غوړپ یې پسې وکړ. دهغه پدې کاربانديې سپرغۍ له ځان سره لږهپیکه غوندې شوه، خوبیا یې هم ځان بای نه لوده په همدې شیبه کې ماه جان دبلې نجلۍ په لاس د(وادکا) بوتل رالیږلی و. سپرغی هم پرته له دینه چې له خالد نه پوښتنه وکړي ګیلاس یې ورته تر مورګوړک کړ، بیایې ورته په ګیله من شانته اواز وویل ځما په نظر خوږول نارینه لیوان دي اوښځې خوارانې بیګناه هوسۍ چې تل دلیوانو له لاسه ناآرامه وي .

خالد خوارکی دسپرغۍ دغه راز عمل اوخبروته اریان سو اوله ځان سره یې وویل چې داپه څه بلاواوښتم. هغه چې سرسرې شانته ګیلاس ته وکتل نودسپرغۍ په چالاکۍ پوه شو دایې غوره وګڼله چې په خبرو ترینه ځان خلاص کړي نوورته ویې ویل: « ستا په نظر چې نارینه هرڅه وي هغه ستا خپل کاردی، خوڅرنګه چې نوې تمدن زاړه رواجونه سکوندلي دي اوهر څه بدل بدل شان ښکاري، نودلیوه اوهوسۍ کیسه هم همداسې درواخله؛ اوس اوس

خوماته یو لیوه خوارکی له هوسۍ نه په تنګ ښکاري اوداسې معلومیږي چې هوسۍ دلیوه په ښکار پسې راوتلې ده ؟ خالد ددې لپاره چې دواډکا له څښلو نه یې ځان ژغورلی وي خپلو خبروته یې داسې ادامه ورکړه: "دوخت اوحالاتو له بدلون سره دزیاتوڅیزونو وظیفې هم بدلیږي. پخوا به خلکو دخپلو دښمنانو مرۍ په ځنځیرونو خپه کولې خو اوس یې دوریښمنو په مزو خپه کوي. پخوابه لیوه دهوسیو ښکارکاوه خواوس چې زه دا څه لیوان دلته وینم نوداټول دهوسیو ښکارشویدي. دوی له کوره خو ښایي اوس هم په همدې نیت راوزي چې هوسۍ به ښکار کوو خوچې دلته راشي نوبیا خپله ښکارشي " بیایې سپرغۍ ته په تیاره غوني شان کونج کې دبې شمیره ناستونجونو اوهلکانو په لوراشاره وکړه. سپرغۍ په زړه کې دهغه په خبرو ډیره خوشحاله وه. دهغې په نورو ښواوېدو خبرو پورې څه کارنه و یوازې همدا یې مطلب و چې خالد په خبرو راولې ، په هوسناکه خندایې خالد ته وویل: "ستا خبرې هم ښې دي، خونیت معتبردی ؛ تاپه خپله وویل چې دوی راوتلې خودهوسیو دښکار په نیت دي خو په پای کې خپله ښکارشي . دژوند دپایښت په جګړه کې خوبه هوسۍ خوارانې هم اخرله لیوانو نه دخلاصون لپاره څه لارې چارې لټوي که نه .

خالد چې هره شیبه به یې په بشپړه بې صبرۍ دروازې ته کتل ناڅاپه یې ولیدل چې بریښنا را روانه ده. هغه ددې لپاره چې سپرغۍ سره خپلې خبرې لنډې کړي نو ورته ویې ویل: "هو ! نیت خو په هرکارکې معتبر دی " سپرغۍ له دینه چې خالد ورسره په خبروکې همنوایي ښکاره کړې وه خوشاله معلومیده. دهغه په دې خبره یې هم هسې وچ په وچه یوه سندریزه خندا وکړه اودسترګو په مړ اومړ اوکتوکې یې ډیرپیغامونه وروررسول . له بلې خوانه چې (ماه جان) په دې ډاډه شوه چې سپرغۍ خپل

ښکارایل کېدی، نوخوا سره ناستې نجلۍ ته یې وویل: "یره رېښتیا چې سپرغۍ ، سپرغۍ ده." هغې ددې دخوشحالتیا لپاره وویل نه سپرغۍ نه ده ، سکروټه ده ، سکروټه . (ماه جان) په ډېره خوښۍ وویل هو ! والله چې رېښتیا دې وویل تراوسه مې چې په چا پسې ورلېږلې ده، نوتش لاس ترینه نده راغلې - حتما یې یو بوتل وادکا هم پرې ځښلې دې اوځانله یې هم ترینه څه بودکړېدي.

سپرغۍ چې دخالد په خبرو یې زړورتیا زیاته شوې وه اودا گومان یې کاوه چې ښکارېږي دزلفو په لومه کې نښتي دی نوخالد ته یې وویل: "خوښه دې نده چې له دې ترخواوبونه یویوگوټ وکړو چې یوه شیبه پرې دژوند له دې ترخو پېښو اوناخوالو نه دسکون دنیا ته لاړشو." خالد دوروستي ځل لپاره له دغې ښکلې بلاڼه دخلاصې لپاره وویل: "بالکل مې خوښه ده چې دسکون دنیاته ولاړشو، خودابدې سکون دنیاته، داعارضې سکونونه زمانه خوښېږي. خالد لا خبره خلاصه کړې نه وه چې هغې دخبرې په مینځ کې ورودانگل اوپه سندریز غږېې ورته وویل سمه ده بیابه هلته هم لاړشو خو اوس به سمدلاسه همدالنډسفرپیل کړو چې په لنډو سفرونو اموخته سو، نوبیا به داوږده سفر لپاره هم څه بندوبست کوو .اول خوبه دادعارضې سکون دنیا وگورو که خوښه موشوه، نوبیا به دابدې سکون منزل ته هم ملاوتړو. دخبرو پروخت یې هوس اوشوخې په سترگوکې په نڅاوه. خالد چې نور دهغې له خبرونه ډېرتنگ شوی و بې مقدمې یې ورته وویل له کومې هوسۍ سره چې ما وعده کړې وه هغه راغله اوستا شاته ولاړه ده؛ زمازړه دی چې دغه دواړه سفرونه له همدې سره وکړم؛ ستا خوښه چې یوازې سفرکوې اوکه کوم بل هم سفر پیداکوې . سپرغۍ چې شاته وکتل نویوه لوړه دنگه نجلۍ یې ولیده، ظاهري بڼه یې له کالیو سره ډېره ساده ښکارېده

خوږه سترګو کې يې متانت اووقارله ورايه ځليده. له سره ترپښو په کاليو کې پټه وه يوازې مخ يې لوڅ و.

سپرغۍ چې ښه ورته ځيرشوه نوځان ورته ترهغې ښکلی ښکاره سو، په زړه کې يې دخالد په حماقت چې ددې پرځای يې هغه غوره کړې وه وخندل اوله غوسې نه تکه سره شوه. په ډيره ناخوالۍ له هغه ځای نه را پاخيده اوپه يوه کاملا مصنوعي خندايي خالد ته وويل: "سفرموپه خير." نوره په بيړه دماه جان په لور روانه سوه .

ماه جان که څه هم دسپرغۍ په ناکامۍ لږ شان خپه شوه خوترهرڅه زيات ورسره دوادکا دخرڅولوغم و چې په ډيره ارزانه بيه له روسانو څخه په لاس ورتله اوپه ډيره ښه بيه يې خرڅول سربيره پردې چې زياته ګټه يې کوله، دحکومت لخوا به هم هڅول کيدله. له بلې خوايې له دغې لارې نه (دنجونو اوشرابوخرڅول) دحکومت له ډيرو لوړ رتبه کسانو سره هم نيغ په نيغه اړيکې پيدا شوې وې. کله کله به هغوی دځان لپاره اوکله هم دخپلو روسي دوستانو دخوښولو لپاره ځيني رنګين محفلونه اومجلسونه جوړول. په دغه راز مجلسونوکې به دشرابو اونجونو دبرخې پروګرام ترتيبول حتماً دماه جان پرغاړه و. دپيسو به هغوی ورسره حساب نه کاوه اوپه نور کارکې به دې خپل پوره اخلاص ښوده. په دې توګه ماه جان هغه ټولې نجونې چې ددغه ناوړه کار لپاره يې ګمارلې وې سربيره پردغه کاريې د (خاد) د جاسوسۍ لپاره هم ترينه کاراخيسته. له دغه پلوه هم دهغې اهميت ډيرزيات و، له هرچاسره به يې چې هره نجلۍ ليږ له نو سربيره په نورو کارونو به يې دهغه سړي دنورو مصروفيتونو په هکله هم ځيني معلومات راټولاوه، له همدغه امله دبارټولې نجونې له هغې څخه سختې بيريدلې ، ځکه له هغې سره به دمخالفت په نتيجه کې دهغې په يوه کوچنۍ اشاره د(خاد)

دوحشیانو په منګلوکې لویدلې، نوځکه خوبې دهغې له هرډول امرنه دویښته هومره سرغړونه هم نشوای کولای .

برېښنا چې دخالد مخې ته کیناسته نو هغه له رسمي سترې مشي اوخواره مشې نه وروسته ورته وویل: "پیشو دموږك دنیولولپاره چمتو ده که نه؟" هغې ورته وویل: "هو! خوپه دې شرط که موږك راشي، ډیرېې ناوخته کړ." خالد ورته وویل که دپیشوپه نصیب غوښه وي نوچې له هرې سوړې نه وي موږك به خدای راپیدا کړي. برېښنا ورته لږ کرار شانته وویل پیشو (تومانچه) مې په دستکول کې ټوپ (ډز) ته بالکل چمتو ده خوله یاده دې ونه وزي چې له موږك (دپولیسو جګړن پیکارجو) نه وروسته یې هغې چاغې مږې (ماه جان) ته هم مخ ورواړوي. خالد په ډیره بې زارۍ دهغې چاغې مږې په لور وکتل بیایې برېښنا ته وویل زماپیشو تر اوسه مږې ندي خوړلي اوس یې هم ورته زړه نه کیږي، دمږوپه خوړلو شرمیږي ،خودموږکانو نیولوته تل هوسیږي . برېښنا ورته وویل دغه مږه د فساد مورینه ده اوتل دغه راز موږکان زیږوي ؛ددې چاره ضرورپکارده دفساد دغه ټوله ډرامه چې دلته روانه ده، همدې جوړه کړیده. لیکواله یې هم همدا ده اومرکزي لوبغاړې هم. داهرڅه دهمدې مږې دمغزو ابتکار دي . هغه موږکان چې ستا پیشویې په خوړلونازکوي هغه ټول دهمدې دلاس نیالګي دي، څه به وسي که یوه ګولۍ یې ددې ترسره هم ځارشي ،خالد نور چوپه خوله شو خوشیبه په شیبه به یې لارې ته کتل .

جګړن قدیر پیکارجو، دخاد برجسته غړی و. هغه وخت چې خالد بندي و دهغه دوه تنه ملګري یې دتحقیق په دوران کې دوهلو ټکولو اوبرقي ماشین ته په ورکولو سره شهیدان کړي وو . په هغوکې یوکس دبرېښنا ورور و .

پیکارجو دبرېښنا ورور یوه اونۍ په پرله پسې توګه دجوارو

په ځیروتګکاوه، په دې هیله چې هغه به خپل نورملګري چې دکابل په ښارکې دروسانو پرضد تخریبي عملیات اجرا کوي وښیي اوپه خپله بههم اعتراف وکړي،خوکله چې داورته ځرګنده شوه چې د (انور) وهل دسړې اوسپني ټکول دي،نویوه بله شیطاني نقشه یې جوړه کړه اوهغه داچې دهغه مور اوپلار یې هم راوستل اوپه دې پلمه چې تاسوته به دخپل زوي ملګري اونوراعمال معلوم وي،نوله حکومت سره دمرستي په توګه هغه وښیئ ، هغوی هم له دغه رازپیښښونه دبې خبری اظهاروکړ ، خوپیکارجو له غوسې نه لکه دلیوني سپي په ځیر دبریښنا د پلار په غوږ خوله ولګوله اوپړ ځمکه یې راګوزارکړ. دومره یې وواهه چې بې سده سو انور ځوکسوکللك نیولی و .ددغې پیښې په لیدلویې دمورګریوان لوند سو.پیکارجو انور په دې تهدیدکړ چې له پلار نه وروسته به دې دمورهم همدغه حال وي . انور دسپین سرې موربې عزتي نشواي زغملای نوله دې امله یې پیکارجو ته هغه څه وویل چې په خوله یې راتلل.هغه یې هم چې داوریدوحوصله نه درلوده نودزیاتې غوسې په حالت کې یې داسې لغته ورکړه چې سمدلاسه رانسکورشو.لغته له نامه لاندې حساس ځای کې لګیدلې وه؛په دې توګه انور د زخمي پلار اوسپین سرې مور په مخ کې دخلقي رژیم! په یوه لغته په رپیدو،رپیدو شهید شو دبریښنا پلار هم دهماغو وهلو اوزوي دغم له لاسه رنځور سو اوله رنځورۍ نه یې څه موده وروسته ، سترګې دتل لپاره پټې سوې .

بریښنا اوموربه یې تل ویرکاوه؛په تیره دبریښنا موربه هروخت هغې ته و یل څې د(پیکارجو) دمرګ آواز واورم،که بیامړه هم سم ، نوهیڅ غم به مې نه وي.بریښنابه هم تل په همدې چورت کې ډوبه وه چې څنګه به دوروركسات واخلي. له زیات کړاونه وروسته یې دپیکارجو دکار اونورمصروفیت پته ولګوله اوپه دې

فکرکې شوه چې خالد له جبهې نه را وغواړي اوخپل ارمان ترسره کړي. پدغه وخت کې دکابل په ښارکې دمجاهدینو حملې زښتې زیاتې سوې وې. له هغې سره هم داهیله پیدا شوې وه چې گوندې دخالد په مرسته دا هم برې ومومي .

خالد چې له بندیخانې نه راخوشې سو، نوکابویوکال یې په جبهه کې دکابل په شاوخواسیموکې په جهاد تیرکړ. په دغو شپوورځو کې بریښنا په هغه پسې خُواب ولیږه چې په هرډول کیږي یوځل کورته راشي، کله چې هغه په پټه دخپل تره کورته ولاړ، بریښناچې دورور دکسات په لمبوکې سوځیدله، نوخالد ته یې وویل چې «پیکارجو» هره شپه له «۹» بجونه وروسته نمبرناین کلب ته ځي، دورځې نه پوهیږم چې په کوم گورکې پټ وي خودشپې لخوا حتما هلته راځي. همدا لامل وچې نن بریښنا اوخالد ورته هماغلته منتظرناست وو. بریښنا سربیره پردې چې دخالد دتره لور وه له کوچینوالي نه یې په نامه هم وه .

دساعت ستنې به دلسو بجو شاوخوا ته ورنږدې کیدلې دانتظارهره شیبه به په بریښنا اوخالد دکال هومره تیریدله. په یولسو بجو ښارکې په تلو راتلو بندیز لگیده، دخالد دیته تلوسه وه چې دا کارمخکې له یوولسو وشي، نوکورته دتگ په وخت کې به دپولیسو له تالاشۍ نه بیغمه وي اوکه هغه هم رانشي اوخبره له یوولسو واوړي، نوبیامجبوردي چې شپه همدلته تیره کړي.

خالد اوبریښنا په خپل منځ کې له یوه بل سره په همدغو موضوعاتو خبرې کولې، خوټولې به یې په داسې توگه کولې چې که چا اوریدلې هم وای نوداسې شك به یې نه وای راغلی چې دوی بل مطلب لري. سپرغۍ به په ډیر حسرت راکتل، یوځل دوه ځله په څه پلمه ددوی له څنگه تیره راتیره شوه. په همدغه شیبه کې یې دیوه نوي راننوتلي او وارخطا ځوان په غاړه کې لاسونه

امیل کړل اوپه داسې حال کې چې په ډیره بې شرمۍ یې دخالد په لور کتل دتیاره غوني شان کونج په لور ولاړه. په دغه وخت کې دخالد دکرکې اونفرت احساس ډیر سخت راوپاریده، خوڅه یې ونه ویل. پداسې حال کې چې په خپلو څنگلو یې پرمیزتکیه کړې وه دبت په څیریې په ځیرځیر ددروازې په لورکتل، دساعت ستنې ډیرې ورو ورو خوزیدلې . هغه ته هره شیبه دکال هومره اوږده ښکاریده. په دغه وخت کې دپیکارجوناڅاپي راننو تلو دهغه بې خونده انتظارختم کړ . خالد چې هغه ولیده نوژریې خپل مخ په خپلولاسونو پټ کړ، ددې لپاره چې سمدلاسه یې ونه پیژني پیکارجو له راننوتوسره سم شاوخواته سرسري شان نظر وزغلاوه خالد په چپ لاس باندې خپل وچولی‌دا سې نیولی و چې څیره یې ترینه لږ شانته پناه وي. لاس یې ورروشان د بریښنا دخلاص لاسي بکس په لور وروغزاوه اوهماغلته په دستکول کې یې لاپرماشه باندې گوته کیښوده. پیکارجوپه دغه وخت کې لاسونه په جیب کې ایښي را روان و. خالد له دې نه بیریده چې هسې نه زمادتومانچې له لیدلو سره سم هغه هم خپله تومانچه راوباسي ځکه دهغه په باب دامشهوره وه چې یولاس یې تل په جیب کې دتومانچې په ماشه ایښی گرزي. پیکارجو په دې عقیده وچې یوازې په دغه توگه موږ کولای شو خپل سورکمونیستي انقلاب وساتو.

پیکار جو ، ورو ورو د(ماه جان) دگردمیز په لور چې دراز راز شرابو بوتلونه یې په جعبوکې ایښي وو رانژدې کیده (ماه جان) هم چې هغه ولیده، نوله ورایه ورته مسکۍ شوه دوه درې نجونو ته یې اشاره وکړه چې مخې ته یې ورشې په هغوی کې یوه ډیره چالاکه وه، سمدلاسه یې دهغه پراوزه لاس واچاوه اوځنگ ته یې را روانه سوه. پیکارجو هم لاسونه له جیبونوڅخه راوکښل ،یولاس یې دهغې له ملاتنه تاوکړاوبل لاس

یې ماه جان ته داحترام په توګه پورته کړ.

خالد اوبرېښنا دغې پېښې ته په ځیرځیرکتل. د دواړوزړونو ټوپکې وهلې، ځکه ډېره حساسه مرحله وه. خالد دخپلو همسنګرو ملګرواو تره دزوی قاتل په خپلوسترګوله نږدې څخه لیده او برېښنا دخپل ورور. هغې په دغه وخت کې څوځلې په پرله پسې توګه خدای یادکړ اوخالد ته یې دبري دعاوکړه.

ماه جان، دوادکا په ډک ګیلاس دپیکارجو استقبال وکړ اوهغه هم په سرراواړاوه. خالد چې له خدایه همدغه شیبه غوښتله نوډېره جدي بڼه یې غوره کړه، وچولی یې ګونځې، ګونځې اوسترګې یې سره راتنګې شوې، په تندي یې څاڅکی څاڅکی خوله هم راپیداسوې وه. ناڅاپه یې له خولې نه دالله اکبر کفرلړزوونکی غږراووت اوله دې سره سم یې تومانچه په دواړو لاسونیغه دهغه سینې ته ونیوله. دتکبیرپه اوریدو کړنګ سو چې دپیکارجو له لاس نه دوادکاګیلاس ولوید ه، په وازوسترګویې په ډېره اریانتیا دخالد په لوروکتل. دخالد له تومانچې نه دسترګو په رپ کې درې سکروټې دهغه په مرداره وینه کې سکاره شوې، څلورمې بیا په هماغه شیبه کې دهغه څنګ ته ولاړې چاغې مږې دزړه سرداغلې و. د تکبیرله نارې اوډزو سره. سم د بې ایما نو دغه غونډه داسې وترهیدله، لکه دمیږوپه رمه کې چې ناڅاپه .زمری ورګډشي.

دټولو له لاسونو نه ګیلاسونه اوبوتلونه پرېوتل اوددروازې په لوریې منډې وهلې. په دې بیروبارکې خالد اوبرېښنا هم دسترګو په رپ کې بهریوه ټکسي ته چې له پخوانه لاورته منتظرو، ځان ورساوه اوپه یوه شیبه کې دکابل دنوي ښار په کوڅوکې له سترګوپناه شول.

څو ورځې وروسته چې خالد اوبرېښنا په تلویزیون کې ددغې پېښې جریان ولیده، نوکتل یې چې څلورتنه یې دپېښې

دمسئولینوپه توګه داسې معرفي کړل چې دپېښې په ځای کې لاس په لستوني نیول شویدي اوورپسې یې په ډیرغرورزیاته کړه چې: " زموږ خلقي پولیسان تل ویښ دي اودغه راز مخرب عناصر به هیڅکله هم ترینه په تیښته بریالي نشي." دبریښنا مورد دغه خبرپه اوریدو دسترخدای په حضور دشکر په سجده پریوتله اود پیښې څلور واړو مسئولینوته یې دخیردعاوکړله چې دهغې په ګمان یې دغه ناولی وژلی و، په داسې حال کې چې تندي یې له خوښۍ نه غوړیدلي و، په ډیره خوښۍ یې بریښنا اوخالد ته وویل: "ستاسو دتیرې شپې خوب خو چې ویل موپیکارجو موپه خوب مو لیدلي دي، هغه ده بالکل رښتیا سو."

هغوی دواړو یوه بل ته په معني دارنظروکتل اوسره مسک سول.

###

دشطرنج پياده گان

وايي چې په شاهي وخت کې دمعمول په ځېرېو ډېرنااهله سړي په کابينه کې دوزارت لپاره وټاکل شو، هغه چې خبرشو نوخوله يې له خوښۍ نه راټوليدله . له يوڅه مودې وروسته يې تشريفاتي جامې واغوستلې اودپاچا بانفوذه خپلوانو کره دورسره شوي احسان دشکرېې او مننې ،دادا کولو لپاره لاړه، دپاچا يونيږدي خپل چې له عمره پوخ اودزماني سړې تودې يې ډېرې ليدلې وې.هغه دچا خبره « گرگ باران ديده» و ،دغه نوی وزير له پخوا نه پيژانده ،دهغه دپوهې اواستعداد سر اولم دواړه ورته ښه څرگند وو . نوی وزير به چې پخوا هغه کره داظهار عقيدت نه،بلکه اظهارتملق لپاره ورته،نودوره څوکيدار ته به يې له خپل نوم سره داسې ليکل:"خادم شما فلانی آرزوی مشرف شدن بحضوروالاشان را دارد."

خوداځل يې دوزارت په نشه کې داهرڅه له ياده وتلي وو اودروازې ساتونکي ته يې وويل: سردارصيب ته ووايه چې " وزيرصيب فلاني خان تشريف آورده ." سردارصيب ته چې

دپخواني خادم ، نوې رقعه ورغله ، نودلرغوني خادم دغرورپه دې ناڅاپي احساس مسك شو. څرنګه چې نوی وزیر صیب د پاچا دغه خپلوان کره تر نورولږ ناوخته بلکه وروسته راغلی وٌ له همدې امله د هغه په وچولي کې ورته له ورابه ګونځې موجودې وې . له ځان سره یې وپتیله چې دهغه غوږونه لږتاوکړي څوبیړته ورته د " خادم شمافلاني " وخت ورپه یاد شي اود وزیر صیب اوفلاني خان هوایې له سره وځي .

وزیرصیب چې دسردارصیب حضورته باریابه شو،نولاس یې پرسینه کیښوده اوراغبرګ شو، دوزارت مسکایې په شونډوخوره وه. دمعمول نه یې لږپه کمه اندازه توصیفي اوتعریفي کلمات استعمال کړل ؛ داسې نه چې له هغه سره دبې ځایه تعریف اوتوصیف څه کمی و، بلکه له وخته مخکې ورسره دااحساس پیدا شوی و چې اوس خونوزه وزیریم؛ نوڅرګنده خبره ده چې مهم سړی هم یم اوس خونودوی هم بایدلږترلږه د وزیر په سترګه راته وګوري ، خدمتونه مې هم ډیرکړي دي ، دخارجي شهادتنامې عنوان (ډاکټر) مې هم له نامه سره پیوندی .

نور نو زه له چانه په څه کې کم یم چې له وزیر نه راته په ټیټه سترګه وکتل سي ، اوبله داده چې د دوی پاچایې خوهم په همدا موږ غوندې کسانو جوړه ده .

هو! پاچایې خوهم یواځې نه کیږي نو.

دوزارت له نامه سره له نوي وزیرصیب سره په ډیر شدت د شخصیت احساس پیدا شوی و. په ځان یې دډیربرجسته شخصیت ګومان کیده،حتی دایې هم په زړه کې تیره شوه چې که دوزارت په دوران کې مړشوم ،نوله راډیو نه باید زمادمړینې خبرحتما داسې خپورشي چې:"د مرحوم دمړینې له امله چې کومه خالیګاه را پیداً شویده، هغه به تر اوږدې مودې پورې ډکه نسي بلکه بالکل به په اوږده موده کې هم ډکه نسي . . .

یاداچې " دمرحوم مړینه دملت لپاره یوه نه جبران کیدونکې ضایعه ده ."

نوی وزیر دشخصیت له دغه راز احساس سره دسردار صیب په حضور کې ناست و. خوسردار صیب ته هماغه موږك ښکاریده چې دپیرصیب پهروعا پړانگ شوی و اوبیایې دهغه په مخکې په خپل پړانگ توب ویاړ کاوه . په پیرصیب دهغه ویاړنه ښه نه وه لگیدلې، نوورته ویلې یې ووچې وه موږکه ! ته څنگه د پړانگانو ،پیښې کوې ،هغه خوار بیا سمدلاسه بیرته موږك شوی و اوچې دپیشو میاو، میاو یې واوریده نوبیایې اته اتیاگزه سورې ته ټوپ وهلی و.

سردار صیب دخبروپه ترخ کې له وزیر صیب نه پوښتنه وکړه چې په شطرنج پوهیږې. وزیرصیب ورته وویل ، پوهیږم صیب خوستاسې په سویه نه . دا ډیره موده مې دمصر وفیتونو له امله ورته هیڅ وخت ندی پیداکړی، ډیره په زړه پورې لوبه ده . بیله دې نه چې هغه ته یې وخت ورکړی وي په یوه توصیفي جمله یې دهغه په روحیاتو داسې گوزار وکړ: اوریدلې مې دي صیب چې ته په دې لوبه کې دلوی لاس خاوند یې ، هرچاته په یوه شیبه کې په ډکه تخته مات ورکوې ." که څه هم داسې ستاینیزې جملې به سردارصیب دورځې په سوونو اوریدې ، خوچې څومره به یې اوریدې نوهماغومره به یې ورته د اوریدو تنده اولیوالتیا نوره هم زیاتیدله .

" اوردخس په قدر زورکاله قدیمه " په دې خبره یې دتندې بې شمیره گونځې چې هره یوه یې دژوند دگڼو ښواوبدو حوادثوشاهده وه وغوړیدې .دیوې لنډې شیبې لپاره یې ذهن دماضي په لورلاړ، دافغانستان دسیاسي شطرنج په لوبه کې هغه رینبتیا هم تکړه لوبغاړی و اواوس یې هم عملا په لوبه حاکمیت درلود . دنوي وزیرصیب په ځواب کې یې همدومره وویل :"دا دشاهانو لوبه ده

یوائې همدوی پرې ښه پوهیږي، خوزمامقصد داو چې ته پوهیږې چې په شطرنج کې کله د دواړوخواوو سواره له مینځه لاړشي، نوهرپیاده چې دپاچا اووزیر دکور مخې ته وي اوځان دمقابل لوري پاچا او یاوزیر کورته ورسوي ،البته دا کارخاص مهارت غواړي چې یو پیاده دپاچا اویاوزیرکورته ورسول شي اوهغه بیاپه خپله د وزیر حیثیت غوره کړي اوکټ مټ د وزیر په ځیر په لوبه کې مطرح شي .

نوي وزیر دسردار صیب دخبرې دتائید په توګه سروخوځاوه اووې ویل: " هوا ریښتیا هم داډیرګران کاردی اوخاص مهارت غواړي چې یوپیاده د وزیر خانې ته ورسول شي.

سردارصیب له هغه نه دخبرو واګې ونیواوډې ویل: دحکومت اوپاچهي کارونه ترزیاتې اندازې دشطرنج لوبې ته ورته دي ، بلکه ترهغې لازیات کړاو او زړه چاودون غواړي ، ځکه په دې کارکې لوی مصیبت دادی چې داوږدې مودې له کړ اونه وروسته به یوپیاده دسورو مقام ته ورسوې ، احسان به پرې وکړې ، خوچې کله هغه دغه مقام ته ورسیږي، نوبیا به ورته ځان ریښتوني سپور اووزیر ښکاري ، په داسې حال کې لکه څنګه چې دشطرنج دپیاده رسول د وزیر اوپاچا کورته په شطرنج و هونکې پورې اړه لري اودپیاده خپل وجود څه خاص ارځښت نلري، نوبه همدې توګه یې دسورو برخلیك هم په لوبغاړي پورې اړه لري.

ته خوپوهیږې که نه چې کله ناکله دیوه خاص مقصد په نظرکې نیولو سره دشطرنج لوبغاړی خپل سپورپه پیاده بدلوي مطلب مې دادی ته خوشکرپوه سړی یې ،هغه پیاده ګان چې دپاچا او وزیر کورته رسیږي هغه په اصل کې بیاهم پیاده ګان دي ، که لوبغاړي په نوې لوبه موافقه وکړي، نوپیادګان به بیرته دپیاده ګانو په ځای ایښودل کیږي .

دسردار صیب دخبروپه پای کې د وزیر صیب په تندي یخه خوله را ټوکیدلې وه ، دکاذب شخصیت ، کاذب احساس مانۍ یې دړې وړې شوې وه. دسردار صیب له کورنه چې بهر راووت نوهلته یې نورهم بې شمیره پیادګان دباریابۍ لپاره منتظر ولیدل . له هغه سره په هماغه شیبه دا زړه سولوونکې اندیښنه ملګرې شوه ، چې هره شیبه دا امکان شته چې له منتظرو پیادګانو سره عوض اومعاوضه شي . ددې ترڅنګ دا ځوروونکې پوښتنه هم ورسره ملګرې وه چې ایا هغوی (منتظرپیادګان) به هم په دې خبروې چې دسیاست په دې بې باکه شطرنج کې څه حیثیت لري اوبرخلیك یې دکوم هوښیار لوبغاړي په لاس کې دی .پخپله خو اوس په دې ښه پوه شوی و چې زمامړینه ، نه جبران کیدونکې ضایعه نده ، اونه زماله مړینې وروسته کومه خالیګاه راپیدا کیږي ، ځکه دپیاده ګانو! څه کمی دی .

جونګړه
او
ماڼۍ

د ماڼۍ د بزم او شان هیڅ کمی نه و ، د ښکلا او لوړتیا اوازه یې ترډېرو لرې ځایونو پورې رسېدلې وه . په شا وخوا او لرې نېژدې کلیو کې به ټول د ماڼۍ د رنګین او سوکاله ژوند ستاینه کېدله ، هرچا به یې د ژوند د ښو صفاتو یوه برخه ستایله. په تېره بیا هغو چې د ژوند ارابه یې په ستایوالې (مداحۍ) روانه وه . کله به یې د عیش او نوش مجلسونه ستایل کېدل ، کله به یې د ساز او سرود خوږې نغمې او ترانې ، کله به یې د سندرغاړو ښکلا او کله به یې د رسوا مینې او هوس افسانې . د دغه راز ستاینو ترڅنګه به یې ځای ، ځای د تقوی، ترحم او زړه سوې جوړې شوې تکراري افسانې هم اورېدل کېدې . ځینو شاعرو زمه ستایوالو به یې د عقل او فراست په ستاینه کې اوږدې بوللې هم ویلې .

ماڼۍ ته مخامخ په یو څو ګامه واټن کې یوه جونګړه هم وه . له دېوالونو نه به یې هره ورځ لپې لپې خاورې بیخ ته رالوېدلې ، له دروندې نه پرته یې په بام کې نور هم بې شمېره سورې لېدل کېدل . د چت د لرګیو ملا د بام د خاورو تر بار لاندې کږه شوې وه، په توروالي کې یې له اور لمبونې سره سیالۍ ته پتون ټپاوه . تورو نریو ستنو یې په ډېرې سختۍ سره د چت بار تر اوږه ورکړې وه ، د مات وره د پورې کولو غږ یې د وزي ماشوم زبېروي ته ورته و .

د ژوند شپې ورځې ، کلونه ، سړې ، تودې په دواړو تېرېدلې ، خو په همدومره توپیر چې له ماڼۍ نه به ټول د سرو شوندو نقرېي خندا ، د پیالو کړنګ او د ګونګرو د شرنګ آوازونه پورته کېدل او له جونګړې نه به ټول د خدای د کلام ، د شهید زوی په وېر د غمجنې مور ساندې ، د یتیمانو د ولږې زړه رېږدوونکې ژړا او انګولا اوازونه اورېدل کېدل . هلته به د سروش ابو خمان تشېدل ، دلته د مظلوم شهید

په سپېڅلو وینو سره جاموتر د سپین سرې مور اوښکې توئېدلې .

یوه ورځ مانۍ جونګړې ته وویل : « ژوند هم عجیبه شی دی ، زه چې کله تا ته وګورم نوار یانه شم چې داسې ژوند به هم لا څوك تېر کړای شي ، آفرین دې په تا وي!»

د مانۍ په وینا کې چې د کبر او غرور کوم سوځوونکی تاو د ظاهري خواخوږۍ په جامه کې نغښتی و هغه د جونګړې ټول وجود احساس کړ او په تېره بیا د (آفرین دي په تا وي!) الفاظو خو د جونګړې په زخمي احساس نوره مالګه هم ودوړوله .

جونګړه : که په ژوند کې معنوي ارزښتونه معیار وګڼل شي نو بیا خو ستا ژوند له ما نه ښه نه دی . د ژوند مادي ښه والی عارضي شی دی ، زما د فکر په تله کې هر څه په معنوي کاڼو تلل کېږي او ستا د فکر تله او پیمانه مادي ده ، نو ځکه ته زما په ژوند تأسف کوې ، خو تر یقین وکړه چې ماته ستا په ژوند تأسف راځي ، ځکه چې زما د ژوند پیټی زما پر اوږو بار دی او ستا د بل پر اوږو ، زه د خپل لاس د تناکو په محصول پایم او ته د بل په خولو نه بلکه په وینو پایې . بله دا چې ژوند یوازې د ښه خوراك څښاك او پوښاك نوم نه دی ، ځینې چې ستا په څېر فکر کوي هغوی ته د ژوند موخه یوازې څه خوړل څښل او اغوستل ښکاري ، هغه کسان چې معنوي ارزښتونه ورته د ژوند معیار ښکاري هغوی ته خوراك ، څښاك او پوښاك د ژوند د تېرولو وسیله ښکاري نه غایه».

مانۍ چې د معنویاتو په اورېدو یې غوږ زیږه شول ، پرته له دې نه چې د جونګړې د وینا تر خلاصېدو یې صبر کړی وای سمدلاسه یې د هغې د خبرو په منځ کې ورودانګل او داسې یې ورته وویل : « زه درسره په دې خبره اتفاق نلرم ځکه چې معنوي ارزښتونه نه د سړي ګېډه مړولای شي او نه یې تن پټولای شي او دا هم واوره چې که چېرې د نفس او شهوت لېوان ستا د معنویاتو په رمه درګډ شول نو بیا به نه رمه روغه پاتې شي او نه به یې شپون . په یوه لاس کې پنځه ګوتې هم سره برابرې ندي ، که یو څوک ماته ځینې کارونه کوي نو په بدل کې یې له مانه هم څه ناڅه ګټه کوي او که سپینه یې درته ووایم نوره د خپل عقل په محصول پایم او ته د لاس او پښو .

جونګړه : « لېوان یوازې د ویدو شپنو په رمه ډاکه اچوي له ویښو شپنو لرې ګرځي ته د مادیت نشې مسته کړې یې ، سترګې دې پټې دي ، ځکه خو هغه څه چې ستا ګېډه نشي مړولای یا دې تن نشي پټولای نشې لیدلای . د عقل د لرلو مانا دانده چې نورو ته د غنې جالکی وغوړوې او پکې را ایسارې کړې . د نورو پښو ته د مجبوریت زولانې وراچول او پخپله ګټه یې استعمالول د ټګ او شریر ذهن کار خو کېدلای شي ، خو د سلیم

عقل محصول هېڅېرې هم نشي کېدلاى.

ماڼۍ فکر وکړ چې جونګړې هسې د خپلې نيمګړتيا د پټولو لپاره دا بحث راواخيست که نه نو دا شيان خو په ژوند کې دومره ارزښت نلري چې سړى بالکل ورته ځان وقف کړي، نو ځکه يې لږ په ځرګندو الفاظو د خپلې غوسې له مخې نه پلو پورته کړ او له طنز نه په ډکه لهجه يې ورته وويل: «دا خوته له معنوياتو ډکه يې او له خپل سليم عقل نه کار اخلې ځکه دې دغه حال دى. په کمزورې او پڅه پڼه (جسم) څه باور. د خام او کمزورې وجود نتيجه خام فکر او خام کارونه وي چې د دنيا د حوادثو او ناخوالو د توپان او سيلۍ يوه تونده او بې باکه څپه يې د ژوندانه د اميد ګل پاڼې پاڼې کړي په داسې حال کې به څوک څنګه د خوښۍ، اطمينان او سکون شېبې سياکړاى شي.

پوخوالى د لوړو افکارو ژورو خيالونو او ارغم لامل ګرځي، په دې توګه نو انسان ته لږ څه ډاډ ورپه برخه کېدلاى شي. خامي د بې اطمينانۍ او بې صبرۍ لامل ګرځي، ځکه خو حميد ويلي دي:

له خامۍ نه جوش خروش خېژي د ديګ
وې له خپلې پختګيه پختګان چپ

ماڼۍ دغه خبرې په ډېر عالمانه انداز کې وکړلې او د خبرو په پاى کې يې په استفهام آمېزه توګه جونګړې ته وکتل. جونګړې د ماڼۍ د تېره ګوزار څرېکه احساس کړه خو ځان يې باى نه لوده او په بشپړ متانت يې داسې ځواب ورکړ: «غرچې څومره لوړ وي هومره شاړ او بې ګټې وي، د ختو په دوه چمه لوړتيا يواځې د کاواکه فکر خاوندان وياړ کولاى شي، ترکومه چې د خاموالي او پوخوالي مسئله ده نو ډېرهغې کې هم له تېروتنې سره مخامخ شوې يې. د کوټلي او مضبوط جسم خاوندان تل د پاخه فکر خاوندان نه وي، خاموالى او پوخوالى هم بايد د فکري او معنوي ارزښتونو په رڼا کې وڅېړل شي که داراسره منې او بايد هم چې ويې منې نو بيا خوکه همدا اوس هرې خواته د نظر نيلى وزغلوې او يا ماضي ته څو کلونه څه چې سوونه کلونه پرشا ولاړه شي، نو ستاله زوزات (قصر، کاخ، ماڼۍ) نه به په سلوکې يوهم چيرته داسې څوک پيدا نکړې چې کومه اختراع تاليف او علمي څېړنه يې سرته رسولې وي او هغه د چا خبره د نورو انسانانو د هوسايښې او سوکالۍ لپاره يې ژوند کړى وي، بلکه ټولو د ځان لپاره ژوند کړى دى، هو! يوازې او يوازې د ځان لپاره، په تېره بيا که د اديانو تاريخ ته وګورو خو بخپوره به نا اميده شې، د خداى يو استاځى او رسول هم په قصر، کاخ

او یا ماڼۍ کې نه دی زیږېدلی او نه مبعوث شویدی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې د بشریت لاربنود دی او د لومړي ځل لپاره یې د نسل، رنګ او ژبې په توپیرو پرهار ژلي بشریت ته په انساني بنیادي حقوقو کې د برابرۍ اعلان وکړ، د ختیځ خوداسې کوټې یې لرلې چې بنایي داوسني وخت دیوه خوار او بېوزلي خونه هم ترینه ښه وي، خوله همدغې جونګړې نه د هغه د سولې او عدالت پیغام - د مظلوم انسان د ژغورنې او نجات پیغام - ټوله نړۍ په خپلو وړانګو روښانه کړه. په دغه سپېڅلي او آزادي ښوونکي پیغام پسې چې د هغه وفادارو ملګرو نړیوالو ته د صداقت، عدالت سخاوت او مېړانې بې ساري او تل پاتې یادګارونه پرېښودل، هغوی هم په جونګړو کې استوګنه کوله. که ته هرڅومره فکر وکړې ګومان نه کوم چې دیوې ماڼۍ، قصر او یا کاخ له زړه داسې څوک پیدا کړې چې د بشریت لپاره یې کوم ګټور کار کړی وي بنایي یو یا دوه چیرې په استثنایي توګه پیدا شي، خو په ټولیزه توګه ماڼۍ او قصر د دغه راز نامتو زامنو له زېږولونه عاجز دي ځکه چې د قصر او ماڼۍ طبع او روزنه عیش او عشرت مال او شتمنۍ ته زیات میلان لري، نو له دې امله د ګېډې او هوس د تنور تودول د ټولنې د دغه پاټکي ته دومره فرصت نه ورکوي چې په ارزښتناکو تولیدي او عملي کارونو فکر وکړي یا د نورو د هوساینې لپاره رېږاو ګړاو وګالي.

رېږ او ګړاو ګالل د ماڼۍ او قصر له خوی سره منافات لري، سمه روزنه او د عقیدې لپاره سرښندنه، د خلکو د خدمت په لاره کې د آرام بستر خوب پرېښودل او د هوسۍ په ځېر په مېږتون شپې سبا کول داهرڅه د ماڼۍ او قصر له خوی سره نا اشنا او پردي ښکاري. د هغوی ټول فکري او جسمي ځواک د سرو او سپینو په راټولولو او ذخیره کولو لګېږي او تل د ژوري په ځېر د نورو په وینه پړسېدلی ژوند کوي. د ماڼیو ژوند تل د دوه تېروونکو ښامارانو د وازو خولو تر منځ تېرېږي یو د سرو او سپینو او اقتدار ګټلو حرص او بل یې د بایللو وېره.

حرص (هوا د دولت او اقتدار حرص) د انسان عقیده او ایمان لوټوي او وېره (هوا د دولت او اقتدار بایللو وېره) د انسان عقل لوټوي، له همدې امله خود حریص نه ایمان په ځای وي او نه عقل. په دې توګه چې دی بیا د خپل دولت او اقتدار د ساتلو لپاره د بې ایمانۍ او بې عقلۍ په جنون کې کوم اعمال سرته رسوي هغه د بشري تاریخ هغه په وینو لړلي بابونه دي چې لوستل یې اوس هم د بریڅ زړه او بشپړه یزیدیت غواړي د اقتدار او سرو سپینو خاوندانو تل د همدغو دوه ځېژونو (اقتدار - سره زر) د بقاء لپاره ژوند کړی دی او د همدغو دوه ځیژونو د ساتنې لپاره یې ځان وژلی دی. په دنیاکې

د هغوی بله موخه او ژمنه نشته چې د ترسره کولو لپاره یې کړاو وګالي له همدې امله خو هغوی بیا د دغو څیزونو له لاسته راوړلو څخه وروسته د لټۍ، تنبلۍ او تعیش جهان ته پناه وړي او هلته د اخلاقي تنزل او انحطاط په مسیرکې د حیوانیت په لور یون کوي چې په نتیجه کې یې د هوس مار ورو، ورو تېرووونکی ښامار شي او تر څو چې په ځان پوهېږي نو بیا د خپل هوس د زندان بندي وي. نه آزاد فکر کولای شي او نه د آزاد انسان په څېر عمل کولای شي.

پر ماڼۍ باندې د جونګړې د سپینو خبرو له امله د غوسې خولې راماتې شوې. په ډېر تمسخر یې جونګړې ته وویل: « ستاسې خو دا عادت دی چې بله لار درنه ورکه شي، نو بیا د عقیدې او معنویاتو خبرې مینځته راواچوئ، خو کله چې مال او شته پیدا کړئ، نو بیا مو دا خبرې هېرې شي. مال او شته چې درسره نه وي نو وایئ چې دولت خو د لاس خیرې دی، دولت څه په کار، فقر فخر دی، خو کله چې شتمن شئ نو بیا د لاس په همدې خیرې (دولت) باندې یو له بله سره په پخه چاړه وژنئ. د دنیا نظام تل ماڼیو او قصرونو چلولی دی. له دې نه ته هیڅ انکار نشې کولای. دا په خپله د هغوی په پاخه عقل او ګټورتوب دلالت کوي.» جونګړې په خندا سره د هغې خبره ورلنډه کړه او ورته وې ویل:

« یوازې د نظام یا نظامونو چلول د پاخه عقل او ګټورتوب نښه نه ده. ښایي ته به دومره غافله نه یې چې په ټوله نړۍ کې د ماڼیو د نظام پر خلاف د راپورته کېدونکي توپان اټکل ونکړای شې. کله چې د ماڼیو د نظام پر خلاف د مظلومانو د کرکې او نفرت دغه خوزلن د کسات په بل اور بدل شي، نو هلته به بیا تا ته د خپل نظام په ګټورتوب او د خپل پاخه عقل په کارنامو د ماتم کولو فرصت هم په لاس درنشي.»

ماڼۍ چې د کسات، کرکې، نفرت او توپان کلیماتو یې اعصاب سخت ناارامه کړل، د خپلې وېرې او ترهې د پټولو لپاره یې جونګړې ته وویل: دا کرکه، نفرت او د کسات اور ښایي ستا د بېکاله نهرې، نهورې شیې د خوب محصول وي. که نه زه خو کوم توپان نه وینم، ګراره، کراري ده، چوپه چوپتیا او خاموشي ده. یوې خواته هم شور و زوږ او ناآرامي نشته.

کله کله انسان هسې ارزو کوي چې هیلې ارزوګانې او خیالونه به یې د حقیقت جامه واغوندي، خو داسې نه کېږي. کله، کله چې انسان خپله د ځان په هکله کوم فکر کوي او له ځان سره د ښو او بدو قضاوت کوي، نو د نورو خلکو افکار، هیلې او ارزوګانې هم د خپلو افکارو او هیلو په کاڼي تلي، خو واقعیت داسې نه وي. دا

په حقیقت کې یوډول روانې ناروغي ده چې سړی پرې اخته کيږي اوفکر کوي چې ټوله نړۍ دده په څېر فکر کوي . خدای دې وکړي چې ته په دې ناروغۍ اخته نشې .

جونګړه : له هر توپان نه مخکې سخته کراره ، کرارې اوچوپه چوپتیاوې او د استدلال هغه کیفیت چې ته ورته روانې ناروغي وایې ، دا د جونګړو نه بلکه د ماڼیو ناروغي ده . په دغه غلط فهمۍ کې ټل ماڼۍ اخته وي اوفکر کوي چې دوی کوم ډول فکر کوي ، نو ټول خلك هماغه ډول فکر کوي . زما د خبرې دلیل دادی چې چې اوس په دغه خبره څه ناڅه هرڅوك پوهیږي او وقائع شویدي چې د ماڼیو نظام د ټولنیز عدالت ، سولې اوآزادۍ په رامینځته کولو کې ناکام شویدي ، خلك نور دغه نظام نشي زغملای ، کرکه ترینه کوي او د نسکورولو لپاره یې په ختیځ او لویدیځ کې په ګډه مټې رانغاړلې دي . په دې توګه ستا عمر ډېر لنډ ښکاري ، خوته سربېره پردې چې پخپله په دغه واقعیت سترګې پټوې د بل چا نظر هم د عقل په بېطرفه تله نشې تللای ، ځکه ته پخپله په خپل نظام خوشحاله یې او ستا په ګټه دی ، نوفکر کوې چې ټول خلك به پرې خوشحاله وي ، خو وخت او حالات به تاته دا ثابته کړي چې خامې چیرته ده د نړیوالو د مظلوم پاتکي غمونه له هدې نه راولاړ شویدي چې د دنیا نظام د ماڼیو په خام فکر سره چلیږي . په دې کې هیڅ شک نشته ، چې که لېوانو په رمه کې ځای و نیوه نو د رمې خیر نشته ، خوکه لېوان په خپله د رمې ساتونکي شول ، نو بیا خو داسې وګڼه چې هرڅه پای ته ورسېدل . کټ مټ لکه همدا اوس چې د نړۍ ټکرد مظلومان او خواران د ښتیه او استبداد په ګنده کې پراته دي او نور هم پسې ښکته روان دي . د دې علت دادی چې : ماڼیو په مکر او فریب سره حقوق العباد غصب کړیدي له حقوق الله نه یې تېرې کړې دی او د خدای پر مخلوق یې جبري فقر تحمیل کړیدی ، دغه تحمیلي فقر یوانسان د بل انسان وژني ، کړوني اوله ټولني نه بغاوت ته مخوي خو ماڼۍ ورته په همدغه فقر چې د دوی د ظلم او استبداد نتیجه ده د صبر اوشکر تلقین کوی ، او ځینې جونګړې دغه تپل شوی استبدادي فقر هم د خدای د رضا په توګه قبلوي ، ځکه هغوی د اختیاري او تحمیلي فقر په مفهوم نه پوهیږي ، **اختیاري فقر انسان د انسانیت معراج ته رسوي او تحمیلي فقر یې مړتوب اوذلت ته راکاږي .**

د ماڼیو په قاموس کې غدر ، فریب ، فساد ، قتل ، غلا ، ډاکه ، رشوت ، خیانت لنډه دا چې هرهغه څه یې چې د بقاء او لوړوالی ضامن دی په زرینو پاڼو لیکل

شوېدی او دا هغه اند دود (طرز فکر) دی چې د ماڼیو او جونګړو لارې سره بېلوي. هغه چاچې فقر نه وي لیدلی هغه د جونګړو فقر نشي احساسولای هغه چاچې ولږه، تنده غربت او افلاس نه وي لیدلی هغوی هم د جونګړو له حاله نشي خبرېدلای، نو له دې امله ماڼۍ او قصر ځکه هم د جونګړو لپاره ښه حاکمان نشي کېدلای.

د ټولنیز عدالت د تأمین لپاره باید د نړۍ ټولې جونګړې د ماڼیو د اقتدار بنسټ ونړوي.

ماڼۍ: جونګړې! ته ما ته شعار وزمه انقلابي خبرې مکوه او مه خپل حیثیت هېروه. ستا د وړې خولې سره دومره لویې خبرې نه ښایي که دا خبرې لویو غوږونو ته ورسېدې نو بیا به دې خیر نه وي. هېڅ ډول توپان نشته، کړکه نشته، پاخون نشته دا هرڅه ستا د کینې او رخې نتیجه ده. زمونږ نظام ډېر ځواکمن دی او س هم ډېرې جونګړې د ماڼیو تر سیوري لاندې ښې سبا کوي او د ژوند بقاء یې د هغوی په رحم وکرم پورې تړلې ده. له اقتدار سره هېڅ نه موږ د یادولو وړ جرم کړېدی او نه مو پر چا ولږه او غم تحمیل کړېدی، هرچا ته خپل قسمت رسېږي، په اوسنۍ نړۍ کې هرڅه د اقتصادي واک او ځواک په چورلیځ چورلېږي، رښتینی آزادي، هغه وخت مفهوم لري چې اقتصادي آزادي موجوده وي، هلته بیا د فکري آزادۍ خبره هم مفهوم لري که نه نو وږی او انسان به څه وي او آزادي به یې څه وي.

که ماڼۍ او قصرونه نه وي نو جونګړې هېڅ هم نشي کولی، که عقل درسره مرور نه وي نو ته خو اخر همدې ټکي ته پام وکړه چې د نړۍ د نظام په چلولو کې څوک ستره ونډه لري. د سترو مدنیتونو او تاریخي پېښو په رامنځ ته کولو او اصلاحاتو کې زیاته ونډه چا اخیستې ده. ماڼۍ د تورې او اقتدار نښه ده، د ماڼۍ د تورې په خرپ پورې د قومونو او ملتونو برخلیک تړلی دی، د تورې په وړاندې به د ستن څه حیثیت وي. ښایي ته به زما په مطلب پوهېدلې یې.

ماڼیو تر خپلې وسې د جونګړو لپاره هرڅه کړېدي چې نور نه کېږي نو د هغوی دې خدای ثواب وکړي؛ له بل پلوه د دغو ازلي وږو او خوارانو د مړولو او سوکاله ژوند ذمه خو هم موږ پر غاړه نه ده اخیستې.

موږ ډېر خدمتونه کړېدي که اوس دا تونده سیلۍ او برېښنا نه وای نو ما به تا ته په دغه برخه کې یو مفصّل لکچر درکړی وای چې ستا غوږونه پرې خلاص شوي وای.

تونډ باد او سیلۍ پر شین آسمان باندې دورېځو تورو او پنډه کمبله غوړولې وه. د ورېځو رنګ د ټوپک تور میل ته ورته ښکارېده. کله کله به برېښنا داعتراض په توګه د ورېځو کمبله وڅیرله او خپله تېره توره به یې د نړۍ د استکبار ماڼیو ته په ګواښ وځلوله. تالندې به ورته غاښونه وچیچل، تیاره په ډېره چټکه سره خپرېدله. تا به وې چې د رڼا ساعت له به د رڼا څرك هم چیرته ښکاره نشي. د باران غټ غټ څاڅکي یوبل پسې په توندۍ راورېدل؛ یوناڅاپه یو شرك جوړ شو. په دې کې به د برېښنا سترګې برېښوونکې رڼا او تالندې غرمبهار د تیارو هیبت نور هم پسې زیات کړ. خو جونګړې په دغه حال کې هم ماڼۍ کله بې ځوابه پرېښودلاى شوه. په لوړ او بوګنېدلې آوازې د ماڼۍ ځواب داسې ورغبرګ کړ: « د ژوندانه په ډېرو مسایلو کې استثنایي حالتونه شته دي، خو دغه راز حالتونه هېڅکله هم د علمي او عقیدوي مسایلو د بنسټ حیثیت نشي غوره کولاى. هغه جونګړې چې د ماڼیو تر سیوري لاندې نشې تېروي هغه هم داسې وبولئ داد هغوى د کمزورې عزت نفس او ټیټ همت نتیجه ده چې د ماڼیو د سرو او سپینو ځلا د عقل سترګې برېښولې دي، له همدې امله یې د خداى له سیورى (قرآن) نه د ماڼیو سیوري ته پناه وروړېده. خوزه په دې پوره باور لرم چې له دغه سیوري لاندې به هم د سوکاله او پټمن ژوند خاوندانې نشي، سربېره پردې به په فساد او بد مرغۍ هم اخته شي، ځکه ټول اخلاقي او ټولنیز مفاسد د تل لپاره د دنګو ماڼیو له څوکو نه د جونګړو په بام را څڅېدلي دي. دغه ناولې او کرغېړن سوغات د ماڼیو د ډکې ګېډې او هوس زېږنده ده او پاتې شوه ستاسې د جرم خبره او د ولږې د تحمیل خبره، د ماڼیو جرایم د تاریخ په اوږدو کې داسې جرایم دي چې له غندنې نه ډېر وړاندې تللي دي، یوازې په غندلو د هغو هیڅ تلافي نه کیږي. دومره غمونه یې کړلي دي چې ژړا یې بالکل نشي انځورولاى، داسې ناکامې یې رامینځته کړېده چې د هر ډول کامیابیو مخه یې نیولې ده. ستاسې د نظام په رټل شوو او ځپل شوو کې اوس د عدالت او انصاف غوښتلو او رزمه احساس او آواز موجود دى. هغوى اوس د خپل لاس په کرل شوو کې د خوراك حق غواړي د خپلو لاسونو د تناکو او مغزو په محصول کې برخه غواړي.

د خلکو په سترګو کې ولږه او غم ځلیږي، قهر او غوسه ځلیږي، د هغوى روح او احساس ستاسې د ساړوبې نظام د پایښت له امله د قهر او غضب له سپرغیو نه ډك شویدى او د لمبه کېدو لپاره سخت بې تابه او لېوال دى.

هغوی اوس له خوبه راویښ شویدي او سترګې یې غړیدلې دي. هغوی اوس د خپل بري د سهار په راتلو ټینګه ګروهه لري او همدغه ګروهه به ستاسې د اقتدار توره شپه پای ته رسوي.

زه دا منم چې کوم قومونه اقتصادي آزادي ونه لري، هغوی تر یوڅه اندازې لا ریښتونې آزادۍ نه بې برخې وي، خو اقتصادي آزادي هم د لاس په تناکو او د تندي په خولو لاس ته راتلای شي. د نفس او هوس له غلامۍ او د اقتدار له نشې نه انسان هغه وخت ځان او ټولنه ژغورلای شي چې له تعیشه نه لاس واخلي او د ژوند په بنیادي اړتیاوو قناعت وکړي.

شر او فساد تل د استکبار په لوړو ماڼیو کې پیلیږي او د خپل ټیټ خوی له امله ښکته جونګړو ته راغځیږي چې د همدغه خوی او خصلت له امله د استکبار د بنو (ماڼیو) د نړېدو لامل هم ګرځي، خو ددې سرچپه خیر او صلاح د استضعاف په جونګړو کې زرغون مومي، وده کوي ځواک او قدرت مومي او په خپل زور سره له ښکته نه پورته د اصلاح پاڼه تر سره کوي دا ځکه چې خیر او صلاح د خپل فطرت له امله تل د لوړتیا په لور حرکت کوي، په همدې توګه یې پلویان هم د لوړتیا په لور یون کوي چې په پای کې د استکبار د غلو پرکنډرونو د ټولنیز نیاو (عدالت) د بنسټ ډبره کېږدي. د جونګړې آواز پر دغه وخت دومره لوړ شوی وو چې د تالندې له غړمبهار سره یې سیالي کوله. تالندې، برېښنا، سیلۍ او بې کچه باران هم یو بل ته د سیالۍ پتون تپاوه تا به وی چې څلورواړو د نړېدو ورانولو ته ملا تړلې ده خو جونګړې پر دغه وخت هم خپلې خبرې پای ته ونه رسولې او په هاغه پخواني څوښ او زوږ سره لګیا وه:

هغه مدنیتونه تاریخي پېښې او اصلاحات چې ته یې یادوې د هغوی بنسټ هم د خپلو جوړوونکو (ماڼیو) د فطرت په څېر پر فساد ایښودل شوی و او د فساد عمر ډېر لنډ وي، نو ځکه خو هغه هم ونړېدل. زه ستا د تورې او ستن په مطلب پوه شوم. زه دا منم چې توره ستره او تېره وي او ستن ډېره وړوکې وي، خو توره زخم پیداکوي او ستن یې ګنډي: ستا خبره سمه ده چې د دغو ازلي وږو او خوارانو د مړولو او سوکاله ژوند ذمه خو تاسې پر غاړه نه ده اخیستې، دا ومنه چې فساد د خیر او صلاح رهبري او لارښوونه نشي کولای، هدا لامل دی چې هغوی به د ماڼیو د حکومت په دوره کې هېڅکله هم سوکالي ونه ویني او که د فساد له مرکزونو (ماڼیو) څخه دا تمه کوي، نو هسې به له ړندونه د کتوریو تمه کوي. دا هم واوره چې که ستاسو په څېر ازلي غټ خېټي نه وای هېڅکله به هم ازلي وږي پر دنیا نه وای. دا چې نن د ډېرو کولمې په ملا پورې نښتي دي او له ولږې

کړهانده دي . د دې لامل دادی چې له ډېرو نه خپلې ښېښې پردې شویدي او په شرعي کن ترینه درې کنه مخکې روانې دي . له تاسې هریوه سړی د یوې په ځای لس ښېښې دي ، ځکه خو د نورو لسو تنو ښېښې نه ښکاري .

داچې نن د ډېرو په انګو کې سړي نه ښکاري هغه د ماڼیو ځم ته تللي ده ، داچې د ډېرو کړپوانو خیرې دي او په تن یې جامې نشته ، داچې د ډېرو پښې یېلې دي ، هغه له ګران بیه موټرو او پر تعیش ژوند سره د ماڼیو د لې کچه مېنې کارنامه ده ، ټول مسرفین او مترفین په نړۍ کې د حاکمې ولږې ، بې عدالتۍ او نیستۍ مسئول دي .

سره له دې چې د جونګړې دغه خبرې به کله کله د تالندې په غرمبهار او غابن چیچنې کې تس نس شولې او د توندې سیلۍ څپو به ډېرې لیرې وې وړلې خو بیا هم ماڼۍ واورېدلې او غوږ یې پرې زیږه شول ـ ماڼۍ یوازې د خپلې ستاینې له اورېدو سره روږدې وه لکه څنګه چې هر د اقتدار خاوند همدغه عادت لري چې د واک او ځواک پر وخت د خپلې ستاینې پرته د بلې هر ډول خبرې او مشورې د اورېدو حوصله نلري . له همدې امله خو له هر حکمران سره له اقتدار نه وروسته یوازې خاینه ابنه دې و دېل ، مداحان او ابن الوقته کسان چې له چوکۍ او مقام سره متعهد دي نه له عقیدې او انسانانو سره ، بنه ګوزاره کولای شي . د پاخه ایمان او ویښ ضمیر خاوندان تل ترینه لیرې کېدو ته اړ کړای شویدي .

ماڼۍ د دومره ترخو حقایقو د اورېدو زغم نه لاره نه یې د دې زغم لاره چې په دغه توپاني شپه کې کومه جونګړه د هغې لمنې ته د دومره ترخه انتقاد سړغړه وړباد کړې او یا د نورو جونګړو په غوږونو کې داسې څه ورځوي چې تراوسه ترینه ناخبره وې .

ماڼۍ د تالندې او برېښنا د لې کچه کړز او کروز له امله غوږونه بند کړي وو خو سره له دې یې هم د جونګړې او تالندې غږ د شړکنده باران له غږ سره یوځای په مغشوشه توګه اورېده . د جونګړې هرې خبرې به یې غوږونه ځک او غوږې زیږه کړل ، په تېره چې دا خبرې به یې د تالندې له وېرووونکي کړزهار سره واورېدلې ....

ماڼۍ ته د فرعون یادګارې ....تا ډېر موسویان وژلي دي .... نن آسمان پرتا باندې د نیل سمندر رابنکته کړیدی ته به ډوبېږې !

هوا ته به ډوبېږې او ضرور به ډوبېږې .... ماڼۍ ته د نمرود یادګارې ستا د هوس په لمبو کې ډېر ابراهیمیان وریت شویدي .... د اور په سوځنده لمبو کې د هغوی تاوجنو اسویلو نن ستا د تباهۍ د توپان بڼه غوره کړېده .... نن به د مظلومانو د قهرجنو اسویلو د توپان څپېړې ستا مخ تک تور کړي . ماڼۍ ته د چنګیز یادګار یې ، تا د « فاتح » د نامه د ګټلو او د سولې د نشې د تسکین لپاره په خپلو سانګو او نېزو

سږ به ډېر زړونه سوري کړېدي ، ډېر آزادي غوښتونکي سرونه دې د آسونو په سومانو لتاړ کړېدي . ماڼۍ ته د ستالين او هټلر يادګارې ستا د اقتدار بنسټ په باړوتو

بنا شوی دی، احکام او فرامين دې د ګولۍ په ژبه صادرېږي . ماڼۍ تا د خپل سرو اقتدار د ټينګښت لپاره د اوسني ښرکنده باران له څاڅکو نه ډېرې اوښکې بهولې دي . تا د دې باران له ښرنده او بوڼو ډېرې وينې بهولې دي ، ستا خښته د جونګړو له اوښکو او وينو نه جوړه شوېده . ستا د اقتدار بنسټ د جونګړو په کپرو ولاړ دی . ستا د دنګو منارو سُرخې د آزادۍ او عدالت د لارې شهيدانو د سرو وينو د توېولو غمازي کوي . نن د هغوی ناکرارې او ناآرامه ارواګانې ستا نړېدو ته په بېړه انتظار باسي هغوی د دې لپاره پرځان د خاورو ځلي ودرول چې تا هم د خاورو ځلي کړينې چې ستا منارې نورې هم لوړې شي .

ماڼۍ د دغو خبرو په اورېدو سره داسې احساس کاوه ، لکه د ټولې نړۍ د مظلومانو منګولې چې د هغې له مرۍ نه د سَولَۍ د حلقې په څېر راچاپېرې شوې وي او شېبه په شېبه پرې راټينګېږي . د دغې پېښې د تصور له هيبته د هغې سترګې وازې ختلې وې . هغې ته خپلې ټولې مکارۍ ، فريبکارۍ ، انسان وژنې او چالاکۍ يوه يوه ور په زړه کېدلې . هغې ته دغه وخت خپله هوښيارتيا ډېره بې ګټې ښکاره شوه ، ځکه د رنګارنګ (سرو ، تورو او شنو) جامو په بدلولو هم جونګړو له هغې نه لاس وانه خيست .

جونګړې د ماڼيو د رژيم په ځانګړتياو پوه شوې وې ، نور د هغوی په رنګ او جامه نه تېروتلې .

ماڼۍ د جونګړو هوښيارتيا او زيرکتوب ته اريانه وه . په دې يې پوخ يقين راغلی وچې نور نو د ماڼيو نظام په يوه (رنګ) کې هم نشي چلېدلای . ماڼۍ په همدغه پرېشانه افکارو کې ډوبه وه چې د جونګړو د پاڅون د تکبير آسمان لړزوونکو ناړولي بنسټونه ولړزول . ورپسې د هغوی غوږ کڼوونکو چيغو : ماڼۍ بايد ونړول شي .... ماڼۍ بايد ونړول شي .... ماڼۍ د نړېدو دي .... ماڼۍ د نړېدو دي ....)

د استکبار د سکوت د پېړيو پېړيو اوسپنيزې پردې څيرې کړې .

په دغه بې سارې شور او زوږ کې چې تالندې او برېښنا هم بدرګه کاوه ، يو داسې مهيب او اريانوونکی غږ واورېدل شو چې ناڅاپه ټولې جونګړې چوپه خولې شوې او شېبې وروسته يې په خوښۍ او حيرت يو بل ته کتل .

باريك پامه

دوه تنه په لار روان وو، خوداسې معلومېدل، لكه شپږ تنه چې روان وي. ملك كباب په يوازې ځان دڅلوروهومره ښكارېده اوملك غلام د دوه كسانو هومره .

دملك كباب، دمخ هرغومبوری داسې ښكارېده، لكه د نوي خميردان بيخ، تنه اوتوشه يې زاړه چنارته ورته وه. د خبرو پروخت به لكه اوښ داسې بړېده .

ملك غلام دنورو خبرو په ترڅ كې ملك كباب ته وويل: " ملك صيب دغه گل شيرخو ولاكه په گرم بازاركې هم څوك په پنځه غيرانه واخلي ، خوته پرې ډېرپام كوې ؛ څوتنو نوروهم ماته وويل چې ارباب صيب هسې دگل شيرپه قواره تيروتلی دی، كه نه نوهغه خو خوشې دبوسو جوال دی . له لاپو شاپونه پرته يې نورهيڅ هم په وسه نه دي پوره ". ملك كباب مخ وروا‌ړاوه اوذبېرو وروځوچتری يې لږشانته نوره هم پرسترگو راښكته كړه اوملك غلام ته يې وويل: " ته گل شيری سم نه پېژنې ، هر چاته خوسړی ويلای هم نه سي ، خوداخبره دي لتاسره امانت وي. پردغه وخت دملك غلام سترگوته ښه ځيرسواوبيايې ورته ويل: " گل شيرډېرباريك پامه اودكارسړی دی. ته ترينه په نيمه شپه

دچاخولۍ وغواړه ده يې بياسر درته راوړی وي". تردې خبرې وروسته ملك كباب بيا دملك غلام سترګوته داسې ځير شو تابه وې چې كوم سترراز يې ورته ځرګندكړيد ى. ملك غلام هم ورته په مينه غوږ شو. ملك كباب دخپلو خبرو په ترخ كې بيا وويل: "ته په يوه اشاره ترينه په نيمه شپه دچا خولۍ وغواړه ده يې بياسمدلاسه درته بله شپه سرراوړی وي."

ملك غلام دملك كباب په دې خبره يوه ښه شيبه غلى شو بيا يې دتائيد په توګه سروخوځاوه اوملك كباب ته يې وويل: ښه يې كوې ملكه !

ريښتيا چې جوهر شناس يې. زه دګل شيرې له دې كمال نه نه وم خبر.

ملك كباب چې له ملك غلام نه خپله ستاينه واوريده، نوپه ډيرعالمانه اندازيې ورته وويل: "دكلې په خلكوچې ملكې كوې نوګل شيريان، به ورته خامخاساتې اوكه نه نوسبابه ددوه پيسو سړي په نه خبره په مخكې درته ودريږي، بيا نوښه ورسره كوې، خپلې پاكې جامې خو ورسره نشې خيرنولاى اونه خپل ګريوان په لاس كې وركولاى شې."

ملك غلام : پوه شوم ملكه ! هوښياروته يوه اشاره كاپي (كافي) ده .

خاني اوملكي بې ګل شيريانو نه كيږي .

###

دشهید (آدم خان) دویاړلي شهادت په یاد

دتور غره گوربت

له تورغره نه تپونه ختل ، که نه ،هغه به اسویلل ، دزمکې گردهسك ته رسیدلي و اوهوا خړه پړه وه . د وریځو تیارې دتورغره درې راښکیل کړې وې . پرآسمان څکو، څوکویې دوریځو اوښان چوسوي وو. څوك نپوهیدل چې دابدې مسافروکاروان نن دلته څنگه اړولي دي ؟

بیگایې پردیسې او آواره وریځې پرسر راټیټې سوې وې لکه چې په غوږکې یې ورسره څه ویل، نپوهیږم کومه ویرجنه کیسه یې ورته کوله ، که له کومه درده یې ورته شکوه کوله . له کومه درده ؟ له کومه غمه؟ یوغم خونه و ، یودرد خونه و، هره تیږه یې ددښمن دگولۍ نښه وه ،هره پرښه یې دتوپ گولۍ ته سپر وه ،ډیر ځله پرې دتودو اوسپنواو سکروټو بارانونه ورول سوي وو . هرځاي یې پرهارژلی و ،هرگاټ اودره یې دسره ټټر دلیدو شاهده وه . دبې وسۍ اوبې کسۍ همرازه وه اود دردیدلواوپرهارژلو زړونو غمرازه وه . سینه یې دقارون دخزانې په څیر دخپلوننگیالوزامنو دغیرت اوایمان له افسانونه ډکه وه ، خو هغه هیچاته دغه افسانې نه ویلې، یوازې هماغه ورځ هو!

يوازې هماغه ورځ يې له پرديسواومسافروورېځو سره دزړه خواله وکړل . نپوهيږم څه ئې ورته ويلي وو چې هغوى هم کرۍ شپه دهغه پښو ته وژړل . معلوميږي چې تورغر ډيرغم ځپلی و ډيرپرهار ژلی و چې دابدي مسافروکاروان ته يې خپله افسانه اوروله اوخپل تږي ،تږي ارمانونه ئې دهغوی په اوښکو خړوب کړل . دا افسانه به څه ډول وه ؟ دچا به وه ؟ دهرچايې اوريدوته تلوسه وه . هرڅوك پدې اسره وو چې هغه گو ربت وپيژني چې تور غره يې له غمه اسويلل اوداسمان ستورو اوپيرونوته ئې ددغې سرې زمکې دبرميال اتل افسانه اوروله اوپه خپلوسړواسويليوئې پرديسې وريځې له غمه ترسهاره وژړولې .

دابه څوك ؤ؟ له هرچا سره همدا پوښتنه وه ، همدا پوښتنه .

له کوم وخت راهيسې چې سره ليوان (روسان) راغلي دي،نو تور غر سورشويدی.هغه اوس سرې نمرې (جامې) اغوستې دي دهغه مخ اوس دخدای مينو شهيدانوپه وينوسوردی. دغه مخسورتيا هغه ته په خپل غيږ کې مجاهدينو او شهيدانو ته له پنا ورکولونه ورپه برخه شويده .

هلته اوس دبمونو اوتوپونو ددرزهار له ويرې رستمان هم شپې نشي سباکولی .کله به چې تورې شپې خپل تورپلو خپور کړ نودمرگ تيارې به هم دخپلې کيږدۍ تورپيڅول وغوړاوه ، هرې تږې به ئې په وازکومې دمرگ سندره ويله . له هغه ځای نه اوس ان زمريانو هم کډه کړې وه.هلته به تل دسکروټو باران و دومره سورباران چې وريځې به په افق کې سرې سکروټې ښکاريدلې.هلته اوس دپسرلي باران نه وريده چې غاټول پکې زرغون شي ، هوسۍ پکې وڅرې اوزرکې پکې والوزي ، هلته اوس مرگ راوريده ،مرگ .

دابه دکومې پولادي سينې خاوند وچې بياهم په تورغره کې استوگن و. دژونداودمرگ په دغه اخ وډب يې وروڅه هم نه

کږوله .په هغه کې لکه چې له‌زمري نه هم غټ زړه و، هغه لکه چې دزمريوزمري و .

سهار، هو! هغه دغم په سهارچې لمروخرکیده اوپه خپلو زرینو وړانگویې دغروپه وینو سرې څوکې وړنگنې کړې، نود تورغره ددنگوڅوکو په پراخه څنډ کې هم سرو وینو ځلاکوله. بې خبروخلکو وویل چې آه ! لمرلکه چې دخپلو زرینو وړانگو په تیرو تورودابیگانۍ اوږده شپه وژلې ده .

هو! دا توره شپه! دا دگناهونو مور چې غله او سادته په یوه سترگه گوري، خوافسوس داسې نه ؤ . دادشهید دسرووینوځلاوه چې سرخي یې په افق کې خپره سوې وه . پرما حول دویراوناتار فضا خوره وه ، تورغرونه یوپه بل پسې خواشیني ولاړوو.

پرنړۍ باندې یوهیبت اوپرتم غوړیدلی و .دسره رود کومی په ژړا وچ سوی و، تورغره اسویلل.

هو ! هغه اسویلل؛ دخپل ننگیالي اومجاهدگو ربت په یاد .پردیسو وریځوته یې دزړه غوټه پرانیستلې وه اوهغوی ورته ترسهاره وژړل .تالندې دکسات لپاره غاښونه چیچل اوخپل یرغلگر جنگي اسان یې دهسك په بې پایه فضاکې پونده کړي وو .بریښنا به له ډیرې غوسې نه د وریځو له خړ ځادرنه خپله سپینه توره ناڅاپه راوایستله اودشهید قاتلانوته به یې په گواښ ځلوله .

دریدي گلو سپایان دتورغره په تړوسینه داغلي اوغم ځپلي ولاړوو. داسمان پتمنې دورخودزمکې دننگیال شهید ادم خان له غمه دوریځوپلومخ ته نیولی و. اسمان یې د روح په یاد داوښکو مرغلرې لونلې، بادیې له غمه انگولاکوله .

له تورغره نه تپونه ختل ، که نه هغه به اسویلل . هو! هغه اسویلل؛ دگو ربت وزرونه یې سوي وو.

###

د شیطان دښمن

څه زده کړه او پوهه یې نلرله خو په وچه شیخۍ کې ډېر مشهور شوی و. د هر لمانځه لپاره به چې ملا اذان وکړ نو ورپسې به بیا شیخ په خپلو چیغو نارو خلک لمانځه ته رابلل اوان تردې چې ځینې خلک به یې په نامه باندې هم په لوړ اواز جومات ته رابلل. په بې لمانځو او په لمانځه کې لټو خلکو به ډېر تېره ورته.

د کلي ځینې بې ځواکه او بې شتو خلک به یې د مړو او شتمنو په مخکې کله ناکله په لمانځه کې د تنبلۍ له امله او یاد پخه وخته جمعې لمونځ ته د نه رارسېدو له امله سخت رټل ځینې کسانو ته به یې د دوزخ لکوولي او ځینو کسانو ته به یې اورلړونی ویل. خو د کلي د خوارانو څه چاره نه وه له بېوزلۍ نه به یې د هغه وچې او سپورې خبرې د زهرو د کوټ په څېر تېرولې. شیخ تراب دین چې په دغه برخه کې په خوارانو څومره سخت و د کلي د شتمنو په برخه کې هماغومره نرم او حلوا، و.

شیخ تراب دین په خپل ګومان سره د شیطان ډېر ستر دښمن و، هغه د چا خبرو نه پخلا کېدونکې میرځي یې ورسره وه. د ورځې به یې له تسبیح اړولو نه شیطان ترښکنځلې ډېرې کولې او په خپله شیطان دښمنۍ به یې په هر ځای کې ویاړ هم کاوه. هغه چې څومره له شیطان سره دښمني کوله، هماغومره یې مکتبونه هم ښه نه ایسېدل.

کله به چې له لمانځه وروسته په جومات کې کښېناسته نو دا به یې خپله دیني وظیفه ګڼله چې خلکو ته د مکتب د زیان په هکله څه ووایي هغه به ویل چې: دا مکتبونه د کمونیزم ځالې دي. موږ په کلیو کې په بې غمه زړه خپل لمونځونه او اودسونه کول چې خلکیانو بیا کابل نیولی و. یو خو کور دې د شیطان وران شي! دا ټول د شیطان کارونه دي وګوره چا چې د شیطان منلې ده خیر یې نه دی لیدلی، لنډه هم دا خلکیان درواخله، هلکه ستاسې د چا په زړکو کې څه کار و، چې په نورو مو ویشلې. شړلي کواله

(شرعي قباله) په لاس د خلکو ځمکې ویشئ ظالمانو! د خلکو د خوراولور بیه مو د اوزې او خرې له بیې نه هم را ښکته کړې وه . شیخ تراب دین به له دې خبرو ورو سته یو ځل خلکوته وکتل او بیا به یې وویل چې یره خوکوردې د شیطان وران شي! څه کانې یې په خلکیانو وکړې . که د شیطان یې نه منلای او د خلکو له ځمکو او لورګانو سره یې غرض نه وای نوکراره به یې خپله پاچایي کولای . په آخرکې به یې وویل : او دا ټول پساتونه له مکتب نه راووتل .

شیخ ـــــ به هروخت په داسې موضوعاتو خبرې کولې چې چا ورسره د اختلاف جرأت نشو کولای . مثلاً د خلکیانو او شیطان په ګډه غندل . خپل ځان د شیطان دښمن ګڼل او مکتبونه د پسات ځاله ګڼل . د هغه زیات اوریدونکي به هم د هغه په خبره وو .

یو ورځ چې د معمول په څېر شیخ تراب دین د ځان په مدح او د شیطان په قبح لګیا و ، نو د خپلې شیطان دښمنۍ د تبلیغ په ترځ کې یې وویل : یره په دا حاضر وخت کې به له ما نه په دنیا کې د شیطان بل غټ دښمن نه وي . په دې خبره ناستو کسانو وخندل او ورته ویې ویل تاته به موږ نور د شیطان دښمن وایو . شیخ وویل : هو! بالکل ـ د شیطان غټ دښمن!

د شیخ ترڅنګ د پاخه عمر یو تجربه کار سړی ناست و هغه ورته وویل : تا څومره علم کړیدی؟ شیخ چې د علم نوم واورېده نو داسې سور واوښت لکه بې لمانځه بچې د محتسب نوم واورېده . په نیولې ژبه یې وویل : صیب ما علم نه دی کړی!

دادګل خان بیا ترینه وپوښتل : بالکل دې هیڅ نه دي ویلي . شیخ تراب دین له شرمه بیا تاو راتاو شو او د عذرونو په بیانولو یې پیل وکړ چې ما د علم زده کړې ته بالکل وخت نه دی پیدا کړی .

دادګل خان : نو بیا دې ایساب (حساب) تاله شیطان سره لا دښمني بالکل شروع کړې هم نه ده ، ځکه بې علمه سړی له شیطان سره دښمني نشي کولای . شیخ تراب دین د دې خبرې منلو ته تیار نه و همدا به یې په پرله پسې توګه وویل چې له ما نه د شیطان بل غټ دښمن نشته ، خلک لا مخته په زوره رابولم ـ ان تر دې چې په دې کار کې مې له خلکو سره جګړې ، سرماتي او لاس ماتي ته هم خبره رسېدلې ده ، ګرېوانونه خو مې له ډېرو سره پرې شلولي دي . د ډېرو خلکو په د بروکې مې چلمونه پټ او ښکاره مات کړیدي . د ډېرو خلکو د نسوارو کوتۍ مې د هغوی په مخکې ویالوته غورځولې دي ، ځینو خو د دین له برکته هیڅ هم راته ندي ویلي او ځینو چې راته ګواښ کړی نو ما یې د واره سره ګوزار کړیدی . اوس د خدای پزل (فضل) ، دی نه زما په مخکې څوک نسوار اچوي او نه

چلم څښني او چې دا کارونه کوي نوبت یې راته کوي خولمانه پټېدای چیرته شي ، بس ګوزاره ورسره کوم که نه ټول راته یو یو معلوم دی . شیخ تراب دین خپل اجتماعي فعالیتونه چې هغه په خپل ګومان د شیطان د ښمني ګڼله یو په بل پسې وشمېرل او ویې ویل چې په دې کار زه د ډېرو خلکو نه خوښېږم خو زما پرې څه پروا نشته .

دادګل خان ورته وویل ، ته چې هرڅه وایې هغه ستا خوښه خو ماته د شیطان دښمن نه بلکه د ځان د ښمن ښکارې او له شیطان سره به ستا دښمني هغه وخت پیل شي چې له ملاصیب نه د بغدادي سیپارې په زده کړه شروع وکړې .

شیخ تراب دین په ارپانتیا وویل ، په دا دومره جنګونو چې ما یې په دین کوم د شیطان دښمن نه شوم ، نو په بغدادي سیپاره به څنګه شم . بغدادي سیپاره خو ځینې کلن او شپږ کلن ماشومان وایي .

دادګل خان ورته وویل : هماغه پنځه کلن هلکان د شیطان دښمنان دي او ته نه یې . دا خبره په شیخ تراب دین د تور ټوپک په څېر بده ولګېده ، دادګل خان ته یې مخ وروا ړاوه او ورته وی ویل : کوردې د شیطان وران شي ! ته یې هم ماته راولسولې . د پنځه کلن هلك دښمني له شیطان سره منې او زما نه منې . دا ستا انساپ (انصاف) دی . شیطان خو به ستا ترڅور نوي چې زما په دښمنۍ ورسره خپه کېږي ، کوردې د شیطان وران شي ! دادګل خان ورته وویل : شیخه ! ته خو ماته داسې برګ یې لکه زه چې رښتیا درته د شیطان ترڅور ښکارم ، زه درته نورڅه نه وایم خو خدائ دې پوه که .

په مجلس کې یوه تن غږ وکړ چې زما په ګومان شیخ ته له بغدادي سیپارې نه پرته اول د سرټوپ یوه سیپاره په کار ده . څرنګه چې شیخ ته د سیپارو نومونه نه ورتلل نو ګومان یې وکړ چې دا به رښتیا کوم ډول سیپاره وي نو هیڅ یې هم و نه ویل .

ډېره موده وروسته مې یوه ورځ شیخ تراب دین په مې ورېځې زېړه دکلي ملاته مخامخ بغدادي سیپاره په لاس - ناست ولیده له - اَ - بَ .... نه تېرشوی و . کَ ، کِ ، کُ (کاکې کو) ته رسېدلی و . زه ډېرا ریان شوم چې تراب دین غونډې ناڅامه شیخ څنګه دا منلې ده چې په علم کې کوتې ووهي . له یوې ښې شېبې انتظار نه وروسته چې هغه له لوست نه راوزګار شو ، نو ما ترېنه پوښتنه وکړه چې ته څنګه په دې قانع شوې چې بایه سبق ووایې او په دې عمر کې ملاته کېنې . تا خو به ویل چې له دې ملایانو نه زما ایمان ډېر قوي دی ، دوی په سلو خبرو یو کار هم نشي کولای او زه چې د چا یو چلم مات کړم نو درې څلور ورځې خومې له چلم څښلو نه ایسار کړی وي ، څنګه ښار

ډېر ليري دی، ترڅو بل راوړي نو دومره موده خو پرېږ تېره شوي وي. شيخ ډېر مات ښکارېده خو اصل خبره يې راته ونکړه. ما به چې هرڅه اصرار کاوه هغه به انکار کاوه. آخر يې راته وويل چې ګوره خبره درته کوم خو چې زما په ژوندېي چاته ونکړې اګر په تا مې اعتبار نشته چې څه دې اورېدلي وي، نو هغه دې بيا خلکو ته ليکلي وي. ما ورته وويل: دا زما ژمنه ده که و مې ليکله هم چاته به يې نه ښيم. شيخ تراب دين راته وويل: خبره دويلو نه ده خو تاته يې کوم.

زما تلوسه نوره هم زياته شوه او ورته و مې ويل دويلو خو څه ده چې په ټاغوندې سرتمبه سړي کې يې بدلون راوستی دی. هغه دې نه دي اورېدلي چې وايي:

عيسی (ع) يو نادان هوښيار نکړه تول عمر؛ څه که دم باندې يې ژوندي شول مړه نفسونه

شيخ راته تندی تريو کړ او ويې ويل: ما خپله ناداني پخپله منلې ده. خو اوس مې دې خدای ج هوښيار کړي. ما ويل ښه کيسه راته وکړه او شيخ داسې پيل وکړ:

«.... له داد ګل خان سره د هغې ورځې له باس (بحث) نه وروسته مې له هغه نه سخته کرکه پيدا شوې وه. خو کله به مې چورت واهه چې زه په رښتيا د ځان دښمن يم او که د شيطان. په دې کې ډېره موده ووتله او ما خدای ج ته زارۍ کولې چې په دې خبره پوه شم. ورځې ډېرې تېرې شوې د خدای بنده - خو دا خبره به مې په مغزو کې اوښسته را اوونښته، کوردې د شيطان وران شي!

.... شيخ يوه شپه غلی شو او بيا يې داسې وويل: يوه ورځ په يوه لويه دشته کې روان وم له تندې مې ژبه راوتلې وه. له ورايه مې سور شين او تور تامير (تعمير) وليده. اول خو ورته اريان شوم چې پخوا خو دلته داسې ځای نه و، خو بيا مې وويل زه يې څه کوم زما له اوبو سره کار دی. د خدای بنده کوردې د شيطان وران شي! ورنږدې شوم چې ګورم په دروازه کې يو بد مخی ژېړ رنګی سړی ولاړ و. زما په ليدو يې وخندل ماته يې نوم واخيست او ويې ويل راځه کنه دا چيرته وې؟ ما په زړه کې وويل چې ده چا ګومان يې را باندې کړی وي خو بلا ور پسې چې لږې اوبه راکړي. ما هم ورته داسې وخندل لکه ما چې هم پېژانده. هغه په ستړي مشي کې راته وويل: شيخه! په شر راغلې. په شر راغلې او بيا يې خوله له خندا نه سره لاړه. يوه يې نامه ته راورسېده او يو غوږ يې پر اوږه راپروت و او لمرېې ترېنه ايسار کړی و. په اول کې ما ګومان کاوه چې دی ټوکه کوي چې د په خير راغلې په ځای راته وايي په شر راغلې. خو وروسته مې يې چې غوږ او پوزې ته وکتل ډېر سخت وبېرېدم. ما فکر وکړ کوم پېری به وي چې داسې

عجیب او غریب شکل لري، خو سره لدې مې هم زړه راغبت کړ او ورته مې ویل: په خیر! په خیر! هغه وویل نه په شر! په شر! په شر! ماورته وویل: ته څوک یې او دلته څه کوې؟ هغه وویل: دا د شیطانانو د کیزو جوړولو پابریکه ده. هغه لوحه نه وینې ماورته وویل وینم یې خو زه په خط نپوهېږم. ماسره په زړه کې سودا شوه چې د شیطانانو د ښمنی لکه چې په شیطانانو واړولم او دلته یې لا پابریکه ده، د خدای بنده کوږ دې د شیطان وران شي! خبرو مې له وېرې نه لږه نرمه کړه او ورته مې ویل: تاسې له څه نه کیزې (قیزې) جوړوې او د څه شي لپاره؟ هغه وویل: «دا انسانانو لپاره نور د څه لپاره او کیزې له مختلفو شیانو نه جوړوو د هرچا د ایمان د قوت په اندازه، ځینو ته یې له وسپنې جوړوو او ځینو ته یې له سرو او سپینو، ځینو ته یې له تورو زلفو او طلایي څڼو، ځینو ته یې له ورستو پوټو او کاغذونو نه هم جوړوو او ځینې خلک له موږ سره بې کیزې روان وي». له وېرې نه مې تنده له یاده ووتله

او بله دا چې له ځان سره مې وویل که د شیطانانو د خولې او بړې مې وڅښلې نو غړک او پړک به شم. وروسته بیا شیطان راته وویل: که ته د ننه ورځې نو لاړ شه پخپله به هرڅه وګورې. زما هم تلوسه وه چې که دا هرڅه پخپله وګورم نو ښه به وي، د ننه ورغلم یو شیطان راسره ملګری شو ډول ـ ډول ایسابونه او کتابونه مې ولیدل، د سرو زرو کیزې د سپینو زرو کیزې ـ د ښځو د ویښتانو کیزې د خرو، اسونو او سپیانو د لکې کیزې، خو لنډه دا چې هر ډول کیزې د هر ډول خلکو لپاره جوړې وې. پولیسانو او ملکانو ته یې د سپي د لکې کیزې جوړې کړې وې او وزیرانو ته یې د سپینو زرو او پاچایانو ته یې د سرو زرو ـ ځوانانو ته یې د تورو زلفو کیزې جوړې کړې وې لنډه دا چې هر ډول کیزې جوړې شوې وې بیا یې یوه ګودام ته بوتلم هلته زښتې ډېرې زړې کیزې د سرو ـ سپینو او نورو شیانو زوړمنده وې خو ګرد وهلې وې داسې معلومېده چې هیڅ نه دي استعمال کړي. ما پوښتنه وکړه چې دا ولې دلته بې کاره پرتې دي. یوه پېړغوزې او تنګ سترګي شیطان چې یوه سترګه یې شنه او بله توره وه راته وویل: ځینې خلک زموږ جوړې کړې کیزې بالکل نه استعمالوي. هغه بیا موږ په ګودام کې بند و. ماورته وویل: شیخه! آخر خپلو دوستانو! دربانده د خپلې فابریکې سیل وکړ؛ ښه ووایه چې په ګودام کې کیزې لږې وې که ډېرې؟ شیخ په خندا وویل: «د خدای بنده کوږ دې د شیطان وران شي! چې ربښتیا خبره درته وکړم نو په ګودام کې ډېرې کمې کیزې پرتې وې. شیخ په دې خبره وخندل او ویې ویل: له دې نه معلومېږي چې ډېر کم خلک دي چې دا کیزې نه استعمالوي». نورې ټول استعمالوي. ما بیا د هغه د خبرو په منځ کې ورودانګل

اوترې ومې پوښتل : ښه دا ووايه چې خپله کينه دې وليده که نه او له څه نه يې درته جوړه کړې وه ؟ هغه په خندا شو او ويې ويل : "ته هسې بې صبري کوې، د خداى بنده کور دې‌اد شيطان وران شي! خو اوس زه خپله يې راتلم . ما ويل ښه وايه چې ډېره د خوند خبره ده . شيخ تراب دين وويل ، په دې ترخ کې زما لاربنود شيطان راته وويل ، چې راځه د رئيس صيب دفتر ته دې بوځم، هلته به چاى هم وڅښې او دمه به دې هم جوړه شي. ما ورته وويل : زما له رئيس سره څه کار نشته ، خو دا راته ووايه چې زما کينه څه ډول ده ؟ زه خو هم ستاسې غټ دښمن او مخالپ (مخالف) يم .

هغه وويل : "ته دې خپل پوره نوم او آدرس راکړه ، زه به يې د معلوماتو څانګې ته ولېږم تابه لا رئيس صيب سره چاى نه وي څښلى چې معلومات به درته وشي . زموږ کارونه ډېر چټک روان دي . دلته رشوت او واسطه بازي نشته ، موږ په خپل منځ کې له يوبل سره ټګي نکوو هر شيطان خپله شيطاني په خپل وخت په ډېره چټکه او اخلاص سره کوي . تاسې انسانانو غوندې موږ په خپلو منځو کې يوه او بل ته غله نه يو . نه په خپلو کې رشوت اخلو او نه ديوه او بل پښې وهو ، موږ د خپل نظم او دسپلين په قوت د هغې پابريکې په واسطه په کرده نړۍ حکومت کوو . د ډېرو سترو سياسي لېډرانو په خولو کې زموږ د پابريکې کيزې پرتې دي . د ډېرو وينو څښونکو قاتلانو په لاسونو کې زموږ چړې او ماشينګنې دي چې خپل ورونه پې وژني ، – خو موږ شيطانانو تراوسه يوبل سره نه دي وژلي".

هغه دومره لوى تکبير راته وکړ چې سرې را وخوځاوه او نږدې وه چې له انسانانو نه مې زړه تور کړي . ما خپل پوره نوم او آدرس ورکړ او د رئيس د کوټې په لور روان شولو . د رئيس کوټې ته چې ورسېدلو ، نو واړه شيطان وويل : يا اميرالمفسدين والقاتلين و.... اجازت دى . هغه په خندا او خوښۍ وويل : هو ! بالکل اجازت دى په شر راځه! په شر راځه ! له ورننوتلو سره سم يې زه ورته معرفي کړم . رئيس زما په ليدو ډېر خوشحاله شو د رئيس پر سر را زوړنده کاغذ باندې په سره خط څه نوشته وو، ما پوښتنه وکړه چې دا څه شى دي. پر دغه وخت يوه شيطان راته وويل هغه زموږ شعار دى او داسې يې ولوستل :

ژوندى دې وي اميرالمفسدين والقاتلين – شيطان اعظم !
ورکه دې وي سوله ! تل دې وي په نړۍ کې جنګ !
تل دې وي تفاق ! ورک دې وي اتحاد !
مخ په وړاندې د نړيوالې بې علمۍ او جهالت په لور !

په هغې شېبه کې رئيس ته چا يوه لیکلې پاڼه راوړه او ويې ويل چې په دې کې له موږ

سره د شیخ تراب دین د فعالیتونو ریکارډ لیکل شویدی ، هغه په لوړ آواز داسې ولوستله :

» شیخ تراب دین زموږ هغه ملګری دی چې له موږ سره بې کیږې روان دی ، دی خپلې ټولې شخصي جګړې او دښمنی له خلکو سره د دین په نامه کوي . او په دې توګه خلک له ځان او دین د واړو نه زړه توری کوي .

او ددې ستر لامل دده بې علمي او ناپوهي ده چې دی له موږ سره بې کیږې روان دی «.

ماته د شیخ په خبره سخته خندا راغله ـ خوځان مې کلك کړ . شیخ وویل : د خدای بنده ، کوردې د شیطان وران شي ! ددغې خبرې په اورېدو ماته له وېرې او غوسې نه کانګې راغلې او ناڅاپه مې ترې راټوپ کړ . که ګورم چې نیمه شپه ده او له کټ نه پرزمکه راغوړځېدلی وم . سهار مې چې ملاصیب ته خوب تېر کړ ، نو هغه له اورېدو نه وروسته د جومات تاخچې ته ولاړ ، سیپاره یې را ته راواخیسته او مخکې یې را ته کېښوده . شیخ د خبرې له پای نه وروسته بیا را ته وویل : ګوره د خدای بنده ، کوردې د شیطان وران شي ! خبره د ویلو نه وه خو ما تا ته وکړه چې بل چا ته یې ونه وایې . شیخ له دې خبرې سره سم ، خپله بغدادۍ سیپاره پرانیستله او په ، کَ کِ کُ (کا ، کې ، کو) یې شروع وکړه او په لاره ورو ، ورو کور ته روان و .

زما زوی به ما وپیژني که نه ؟

د(۱۳۶۲ ه ش) کال دپسرلي وروستۍ شپې ورځې وې دعیسی خیلو کلي ته نږدې دبادامو په باغ کې ماشومانو لوبې کولې. دپسرلي په مسته هوا کې دغه ماشومان له هرڅه نه بې خبره په لوبوداسې بوخت وو، تا به وې چې دروسانو اودهغوی دبمباریو هیڅ ویره ورسره نشته. له بمبارۍ نه مخکې به معمولا دکلیو ا و کورونو پرسردکشف الوتکه گرځیدله. دغه الوتکه به ډیره اوچته وه، له همدې امله به یې اواز هم زمکې ته سم نه رارسیده. یوازې دهغې سیمې خلکو به یې بنگهاراوریده چې ډیر به ورته نږدې وو، له همدې امله به خلکو هم بنگنه الوتکه بلله.

دبنگنې الوتکې راتلو دامانالرله، چې په سیمه کې چا حکومت ته دمجاهدینودتگ راتگ اطلاع ورکړې ده، له همدې

امله به له خلکو سره دا ويره وه چې ښايي يوڅوشيبې وروسته بمباري وشي .

دجوزا دمياشتې ديارلسمه نېټه وه . دسهار ۹ بجې به وې چې شاکره ، له پټي نه راغله .
هغې خپل خاوند سحرګل ته سهارنۍ وروړې وه.

يوجام ټينګې تازه تروې اودوه دتبۍ تودې پټيرې ډوډۍ .له پټي نه يې له ځان سره تنکۍ شوتله هم راوړې وه هغې به هره ورځ له پټي نه دومره شنه سابو له ځان سره راوړل چې څه د غرمې لپاره پاخه کړي اوڅه دژمي لپاره وچ کړي . په دغه ورځ هم هغې دوه درې پخليسه شو تلهلهلوخونه اوبدل شوې ټوکرۍ کې دبام سرته وخيژوله اولمر ته يې وغوړوله. دکليو بې وزله خلک معمولا داوړې ارزانه اويا مفت سابو دژمي دخوراک لپاره وچوي اوساتي يې . په ژمي کې چې نورڅه پيدا نکړي،نوهمغه پخوي او خوري يې .

دغه کلی ښار تهنږدې و . مجاهدينو به تل له همدغه ځايه دشپې له خوانه په ښارکې چريکي عمليات کول؛د خوراک اودمې ځای يې همدا و . شاواخواته يې باغونه اوونې ډېرې وې؛ دورځې به کله ناکله مجاهدينوله دغو سيورو لاندې دمه کوله .

په هغه ورځ ښارته نږدې دمليشهوپوستې ته دهغوی کوم جاسوس اطلاع وروړې وه . چې مجاهدين له ډېرو ليرې ځايونو نه دعيسی خيلو کلي د بادامو باغ ته راغلي دي اوښايي دشپې له خوا نه په پوسته اوښار حمله وکړي . له همدې امله دکشف بنګنه الوتکه نن دعيسی خيلو دکلي اوباغونو پرسرګرځيدله شاکرې اودکلي نورو ښځو اوبوډاګانو چې بنګهار واوريده،نو سودايې شوله چې هسې نه يوه شيبه وروسته بمباري پيل شي . ځيني بوډاګانو هلکانو ته وويل چې کلي ته دنږدې پټيوپولو خواکې ځانونه غلي کړی اوځيني خولامخکې دبادامو باغ ته تللي

وو.

دالوتکې بنگها ر د نهواولسو بجو په شاوخواکې واوریدل شو.

پردغه وخت شاکري په بام شوتله اواروله . یوه شیبه دخپل زوی شیرخان لپاره اندیښمنه شوه چې ولې یې له ځان سره نه و راوستلی،له ځان سره یې وویل :" هسې مې په باغ کې له نورو ماشومانو سره پریښود ". خویوه شیبه وروسته چې دالوتکې اوازورك شو نوبیرته دکورپه کارونو بوخته شوه .

####

دولس بجې به وې چې یوناڅاپه ـ دبرگوگنښپ هلیکوپترو غرهاردکلي دخلکو غوږونه ټک کړل . الوتکې دسترگوپه رپ کې راورسیدلې اود اورپه راورولو یې پیل وکړ . که چابه منډه اخیستله نوله پاسه به یې په گولیو سوری سوری کړ .دبادامو باغ ته به کابو پنځه لس یاشل دقیقې مخکې دمجاهدینو یوستړی ستومانه شل کسیز گروپ رارسیدلی و. .سره له دې چې زښت زیات ستړي ستومانه وو،

خو دونو دډونو ټنگ ته جلا ، جلا کیناستل . تریوې نیمې بجې پورې خوچاسرهم نښوای پورته کولای . په باغ کې به چې بم راپریووت نوله شنو ونونه به سره لمبه اوتورې لوخړې پورته سوې .

پرکورونو یې دراکټونو ډزې هم کولې اوبمونه یې هم راغورځول ددوه بجو په شاوخواکې دیوې شیبې لپاره دالوتکوغرهاراودبمونو درزو دروز لږشان کرارغوندې سو .خلکو گومان وکړ چې الوتکې به تللې وي . خوپه همدې شیبه کې یې دټانکوغرهار ترغوږو سو.

روسانو غوښتل چې دبمبارۍ له امله خلك اومجاهدین ونه تښتیدلی شي .

ځوټانکونه اوپياده قواورپسې راورسيږي . يوشمير ټانکونه له کلي نه راتاو شول اويوشميرټانکونو دبادامو د باغ دمحاصره کولوپه نيت هغې خواته حرکت وکړ .هغوی گومان کاوه چې دلته به زښت زيات مجاهدين وي .

لومړني ټانك چې باغ ته ورننږدې سو،نومجاهدينو په راکټ سره له مينځه وې وړ . مجاهدينو ددفاع اوعقب نشيني په تاکتيك عمل وکړ . يوه شيبه يې ښه کلکه دفاع وکړه.روسانو فکر وکړ ښايي هغوي ډير قوي وي،دکلي ټانکونه اوروسي عسکر ټول دباغ په لور زغليدل؛خومجاهدين دباغ شاته پټيوپه ويالواوولوړو پولو ترشاووتل .

يوشميرروسانو اوپرچميانو دکورونو په لټونه پيل وکړ .وسلې خوبې پيدا نکړې، خودښځو گاڼې اونغدې پيسې يې ولوټلې کومې زړې ښځې اوبوډاگان چې په کورونوکي وو،هغوی به يې دبرچې په زورديته اړکول چې پيسې اوگاڼې وښيي.دشاکري خوسرېې هم زښت زيات وواهه چې پيسې اوياگاڼه وروښيي خوهغه به ورته ويل چې موږ دسروسپينو گاڼه له کومه کړه؛له نيستۍ نه په ژمي کې وچه کړې شوتله اوسوړسك خورو اوتاسې رانه پيسې او دسروگاڼه غواړئ؟ عجب مخلوق يئ ..

يوه پرچمي ضابط ورته وويل:" زه تاسې ښه پيژنم،که په لکونو روپۍ هم ولرئ،ستوستاسې جامې به نوې نشي اوخوراك به موهماغه دغوايانوشوتله وي .ژرشه پيسې وښيه !"

هغه خوار پيسې نلرلې؛ نوله ناچارۍ نه به يې ويل چې زه څه نلرم .پرچمي ضابط چې دهغه له روپيونه ناامیده شو ،نوخپل عسکرته يې وويل :" داپه څه/دول سرتمبه اوخره سپين زيرې واووښتو لکه چې تش لاس مو پريږدي .وې وهه په برچه چې دې خوهم په خپلو روپوښادنشي ".

عسکرهم له دې سره سم هغه خوار په برچه وواهه اونور

دواړه ترینه روان شول .

شاکره د غوجل په ښمڅه کې چې پخوایې لاخاوند ورته وهلې وه پټه شوې وه. هغه ځوانه وه په دې ویریدله چې هسې نه روسي عسکرورسره څه ناوړه سلوك وکړي .شاکره چې وروسته بیا راووتله نوبوډاپه دواړو لاسونو خپل تشی نیولی و اودتورې وینې لیکه پرزمکه ترینه لیرې پورې تللې وه .دهغه سترګې دمرګ خوب پټې کړې وې . هغې یوه شیبه بوډا ته په سلګو سلګو وژړل ، خو شیرخان یې له یاده نه وت .

دمازیګر دڅلوروپنځو بجوپه شاوخواکې قوه بیرته لاړه.دکلي په خلکوکې چامخ په کور منډې وهلې اوچامخ په باغ په خپلوماشومانوپسې .

سحرګل دکورپه لورله پټیونه دغشي په څیر را روان و.هغه شاکرې اوشیرخان ته غمجن و.اوشاکره په ژړا ، ژړا مخ په باغ روانه وه .

له هغې نه مخکې باغ ته نورنارینه اوښځې راغلې وې مجاهدین هم راغلي وو.

څلورتنه مجاهدین سخت ټپیان اودوه تنه شهیدان شوي وو روغومجاهدینو زخمیان اوشهیدان شوي ماشومان راټول کړي وو اوڅنګ په څنګ یې ایښي وو.

شپږ تنه ماشومان دومره سخت ټپیان شوي وو چې دجوړېدو امکان یې ډیرکم و . اته تنه مړه وو . په کلي کې اوه تنه سپین زیرې اودرې ښځې شهیدانې شوې وې .دښځو اوڼجونو ژړا اوانګولا دبادامو باغ پرسراخیستی و . دبادامو له باغ نه دکربلا دښته جوړه شوې وه، هر چابه خپلوماشومانو ته ژړل . دوه تنه زلموټي هلکان چې په مجاهدینوپسې ټښتیدلي وو، ژوندي پاتې شوي وو، یوپه پونډۍ لګیدلي و.

شاکره چې راورسیدله نودښځو اونارینه و په مینځ کې ورننوتله

اودشهید و ماشومانو په لیدویې کوکه کړه چې وه زما شیرخانه زویه ! نورو ښځو ورته وویل خیریادوه! شیرخان خوپه شهیدانو اوزخمیانوکې نسته، گوندې ژوندی پاتې‌شوی‌وي . په دې خبره دهغې لږتسلي وسوه، خوسره له دې یې هم په ژړا وویل :" ما خوارې دومره بخت له کومه کړ چې په داسې بده ورځ به مې هم زوی ژوندی پاتې سوی وي" نوروښځو بیا ورته وویل: خیریادوه! خیر!

ځونجونې، هلکان اونارینه اوشاکره پخپله شاوخوادشیرخان په لټه کې شول. سحرگل هم راغی، خوشیرخان ترې تم شو، تابه وې چې زمکې وخوړ. ترماښام تیرپورې پسې وگرځیدل خوشیرخان پیدا نشو. گل امیرنومې یوه مجاهد چې مخکې یې دشیرخان دجامو واسکټ اونورو نښوپوښتنه له سحرگل نه کړې وه هغه ته یې وویل :" زماپوخ گومان دی چې ستازوی روسانو له ځان سره ژوندی بوولی دی. خپه کیږه مه چې افغانستان آزاد شي بیا به له خیره راشي. جان محمد نومې مجاهد هم دگل امیر خبره تائیدکړه چې شیرخان روسانو بیولی دی . دخلکو زړونو ته هم داخبره پرې وتله چې ریښتیابه ئې بیولی وي، که نه نوځه شو او چیرته لاړ . که شهید وای خوهم باید همدلته وای اوکه زخمي وای، نوهم به دلته و . اته کلن هلك و، دمنډو هم نه وچې لیرې به تللی وي . دډیرلټون نه وروسته هم چې پیدانشونودمور اوپلار یې یقین راغی چې هغه به روسانو بیولی وي ، ځکه هغودوه تنو مجاهدینو هم همدا خبره کوله.

دکلي خلك ځوك دخپلو زخمیانواوځوك دخپلو مړو په غم غمجن وو، څه کورونوته روان وو اوڅه هدیرې ته دقبرونو لپاره .

دمجاهدینو قوماندان عبدالله خان له گل امیر اوجان محمد نه یوازې پوښتنه وکړه :" په ریښتیا به داهلك روسانو بیولی وي ؟" گل امیرورته وویل: نه .

عبدالله خان : "نوداله تاسره لازمه وه چې موراوپلار ته يې دروغ ووايې چې هغه روسانو بيولې دي".

ګل امير: قوماندان صيب ! لماسره دانه ښايي چې دروغ مې ورته ويلي واى ،خوداهم راته ښه ښکاره نسوه چې ټولو خلکو دخپلوزامنومړي اوزخميان کور اوهديرې ته وړلاى او شاکرې اوسحرګل يوازې يوڅوبرګې کولمې .

دعبدالله خان سترګې اوخوله وازه پاتې سوه او ويې ويل :

"داڅه وايې ګل اميره!"

ګل امير : رښتيا وايم قوماندان صيب ! هغه وخت چې ددغې ونې خواته بم راولويده ، نوڅلورماشومان ورلاندې يوه خوا اوبله خوا غلي ناست وو، ماله ورايه ورته کتل .شيبه ورروسته ونه چپه وه اوماشومان ورك . بيرته چې موږ اوتاسې راغلو نوزه اوجان محمد اول دهمدې ونې خوا ته ورغلو .هغه درې هلکان يوه خوا اوبله خوا مړه پراته وو،څلورم ماشوم نه و.

د ونې په ښاخونوکې مايوڅوبرګې کولمې اوپه ځ ځ پورې مې سرېښ دسرېوه ټوټه پوستکى وليده،نيمه پښه مې هم وليده .دا ټول مې هلته په يوځاى کې کېښودل .هغه نورهلکان مې چې وليدل نوهرڅه يې پوره وو . زما پوخ يقين راغى چې همدا شيرخان و موراوپلار ته يې نونور ماڅه ويلي واى . په دغه وخت کې دهغه په ستوني کې اواز ونښته.دعبدالله سرهم ښکته زوړند سو ورودزنګنوپرسر کيناست اوهماغه سوې ونې ته يې ډډه ووهله .

شاکره اوسحرګل تراوسه هم دا ګومان کوي چې شيرخان ژوندى دى اوروسانو بيولى دى ، که افغانستان آزادشي نورابه شي. شاکره ،اوس هم کله کله له ځان او نورو ښځوڅخه داپوښتنه کوي چې:"که زما زوى شيرخان راشي،نومابه وپېژني که نه ؟"

صيب !
څنګه چې ستاسې خوښه وي !

ډير کلونه پخوا چې په افغانستان کې دانګريزانو دحکومت زمانه وه ، يوه ورځ يو سړی سروهلی بروهلی ديوانګريزدفتر ته ورغی او ددفتر مامور ته يې وويل : "صيب !

زه له کوره په مزدورۍ پسې راوتلی يم، دا اريزه (عريضه) مې واخله . که چيرې کار راته پيداکړې، نوډيره مهرباني اوشفقت به دې وي". مامورترينه غوښتن ليك واخيست او ورته وې ويل : "دادې خپله ليکلی دی ؟"

غلام : هو! صيب ستا ددوعاوبرکت دی، پخپله مې ليکلی دی .

مامور ورته په خندا وويل : "ما کله درته دوعاکړيدي" ؟

غلام : "بس صيب! ستا ددوعا وبرکت دی". پردغه وخت يې لاسونه داحترام په توګه غبرګ پرسينه ايښي وو اوملايې ليندۍ کړې وه .

صيب ! زه دنواب خان سړی يم. هغه ويل چې په مامورصيب مې سلام وايه. ماموردنواب خان دنوم په اوريدوسمدلاسه په

څوکۍ کې دفترپه ځير پورته شو اووې ويل : ښه ! ښه ! ته دنوابخان سړی يې .

غلام غاړه تازه کړه او په ډير وياړيې وويل : هوصيب زه دنواب خان سړی يم . مامور ورته وويل : خان صيب ته زما احترامات اوتعظيمات تقديم کړه او ورته ووايه چې موږ هروخت خدمت ته تياريو ، تاسې امرکوئ.

غلام : په سترګوصيب ورته وبه وايم . صيب زما په اريزه مولږ پام وي .

مامور ددغې ورځې ټول غوښتن ليکونه جانه‌تن انګريز ته ورکړل .

هغه به دڅلويښت يا پنځه څلويښت کلنۍ په بريدونوکې و. شنې ننوتې اونافذې سترګې يې درلودې .

جانه تن مامور ته وويل : " ته پوهيږې چې بايد څه پوښتنې ترينه وکړې . زه بهر دکړکۍ خولې ته ناست يم او اورم به يې. زما مخکې زياتره خلك سمې خبرې نه کوي او تاسره هرڅه وايي" .

مامور ورته ښه صيب وويل او نور په شاولاړ ، ترهغې چې له دفترنه ووت .

بله ورځ سهار، غلام په ټاکلي وخت دمامورمخې ته داحترام په توګه راغبرګ شو، لاسونه يې پرسينه کېښودل اوسلام يې پرې واچاوه . هغه ورته د کيناستو اشاره وکړه او داسې پوښتنې يې ترينه پيل کړې :

نوم دې څه دی ؟

غلام : ستا او جانه تن صيب چې هرڅه خوښ وي .

مامور : په دې کې زموږ څه خوښه ده . ته خپل نوم وښيه چې زه يې وليکم .

ځواب : صيب! ځيني خلك راته غلام وايي اونوا بخان راته

غلامك وايي .

خوستا او جانه تن صيب خوښه چې هرڅه راته وايئ.

مامور دهغه نوم وليکه او ورته يې وويل : “ ته عجب سړی يې خپل نوم هم دنورو خوښې ته پرېږدې. ښه وايه دپلارنوم دې څه دی؟ ”

غلام : صيب ! زه بې پلاره يم ؛ څه چې ستا خوښه وي ويې ليکه .

مامور : داڅه وايې غلامه !

غلام : صيب ريښتيا وايم، زما عمرټول په پرديو کورونوکې تيرشوی او همدغسې رالوی شوی يم . هرچا به يوه لنډه موده راته زوی، بچيه، بچو اوڅه، څه نور، نورنومونه اخيستل اوبيا به يې له کوره شړلم . زه پوه نشوم چې زما اصلي پلار واوکه نه و .

مامور: داريانتيا خبره ده، نوتاخط اوسبق چيرته زده کړل ؟

غلام : صيب!زه له نواب خان سره مزدور وم او وظيفه مې داوه چې دهغه زامن مکتب ته بوځم او بيرته يې راولم اودهغوی کتابونه ورسره يوسم .

نورکارمې نه و. دمکتب ديوه بوډا معلم زړه راباندې وسوځيده ؛ زه به يې هم له نوروهلکانو سره کينولم دا څوتورتکي مې هماغلته زده کړل .

مامور: ډيره هوښيارتيا دې کړيده غلام خانه چې ليك اولوست دې زده کړيد ی.

غلام : لاسونه پرسينه کيښول : صيب دا ستاسې د دوعاگانو برکت دی .

مامور ورته په ځير ځير وکتل، خو داځل يې هيڅ هم ورته ونه ويل .

مامور: دکوم ولايت يې اوپه قوم څوك يې دکلي نوم دې هم

راته ووایه .

غلام : صیب بې ولایته ، بې قومه اوبې تربوره سړی یم اوس دملك نواب خان له کلي نه راغلی یم .

مامور نور له هغه سره استدلال نه کاوه هرڅه به یې چې ویل هغه به یې لیکل .

مامور: ښه په امانت دارۍ اوصداقت کې څنگه یې؟

غلام : صیب څنگه چې ته یې .

مامور : ته ماخه کوې او زما نه څه خبرېږې خپله خبره کوه .

غلام : زه به نورڅه ووایم صیب! څنگه چې ستاخوښه وي .

مامور: دچاپه مذهب یې ؟

غلام : دملکانو په کلي کې دملك نواب خان په مذهب وم او اوس ستا خوښه .

مامور : (په غوسه) ته خوماته لیونی شان ښکارې. په هرشي کې ستا خوښه او ستا خوښه، نو په مذهب کې هم زما خوښه . بله خبره دې هم زده کړې اوکه نه ؟

غلام : صیب! ستاسې خوښه زما چې څه زده دي هغه مې درته وویل ،که ته وایې چې دا سم نه دي نوته یې راته وښیه هماغسې به وایم .

مامور: (په غوسه) ځه لاړشه! گومان مې نه کیږي چې تا ته څوك په دې عقل ماموریت درکړي . دا انگریزان دي – انگریزان ! ویښته برمه کوي اوته په دې عقل راغلی یې چې ماموریت درکړي. په هرڅه کې ستا خوښه، ستا خوښه، ستاخوښه ... هره خبره ځانته خپل ځواب لري. ستا خوښه، ستاخوښه ...

مامور دا خبره څوځلې له ځانه سره په ډیر ه غوسه تکرارکړه .

غلام له څوکۍ نه راپورته شو، مامور ته یې په ډیر درنښت سلام وکړ اوورته وې ویل : صیب ! څنگه چې ستاسې خوښه وي صیب !

هرڅه چې ته وایې هماغسې به وکړم. یوه ښه شیبه ولاړ و بیا یې د بهرتلو اجازه واخیسته او له دفتر نه بهرته روان شو.

جانه تن انګریز دغه ټولې خبرې واوریدلې. له هغه سره یو ملک هم ناست و.

مامور چې پاڼې راوړلې، نو جانه تن ته یې وویل: "صیب دا یو خو چوړ لیونی و. هیڅ عقل یې نه لاره په هرڅه کې به یې ویل ستا خوښه، حتی په نوم کې یې هم وویل:

"صیب څنګه چې ستا خوښه وي".

جانه تن په خندا شو او مامور ته یې وویل: "تراوسه ما د ماموریت او نوکرۍ لپاره دومره وړ او هوښیار سړی نه و لیدلی ورشه راوبې ګرځوه! ما د هغه ټولې خبرې واوریدلې."

مامور: صیب! د هغه په خبرو کې خو ماته د عقل څرک هم نه ښکاریده.

جانه تن: "ستا د عقل په تله کې د هغه خبرې سپکې وختلې - ځکه ته جوهرشناس نه یې، خو زما د عقل په تله کې د هغه خبرې خصوصا دا یوه خبره چې ویل یې: "د ملکانو په کلي کې د ملک نوابخان په مذهب وم او اوس ستاسې خوښه."

ډیروز لن لري. دغه راز خلک ډیر کامیاب مامورین وي.

د آمرینو د برې، موفقیت او دوام رمز د همدغه راز مامورینو په کارکې نغښتی وي.

ته نه پوهیږې چې زه د هغه عقل ته دومره ضرورت نلرم لکه څومره یې چې د هغه د پټو سترګو اطاعت ته لرم یعنې دا چې زما مشاور، دوست او ملګری نه دی پکار، بلکه یو مطیع او فرمانبردار مامور مې پکار دی، امر به زما وي او منډه به د هغه."

جانه تن تر خپل څنګ ناست ملک خان میرته مخ ورواړاوه او ورته یې وویل:

څنګه ملکه ! تا سره دڅه ډول خلکو ګوزاره کیږي ؟ هغه وویل:
" صیب چې زموږ په مذهب وي او په ښه بده اوتوره سپینه کې په موږ پسې روان وي اوکه له موږ سره یې زاولې پکې سوې، نو بیا به کلی راته پریږدي ".

جانه تن په دې خبره ملك خان ~~میر~~ پیر ولي وټپاوه او ورته وې ویل" افرین ! ته هم ډیر دکارسړی یې". بیایې مامورته وویل :" هله پسې ورشه چې درنه لاړنشي ".

مامورپه غلام پسې ورغی او ورته وې ویل : "بیرته راوګرځه جانه تن صیب دې غواړي". غلام په ملاراکوږشواومامورته یې وویل :" ښه صیب څنګه چې ستا خوښه وي ".

* * *

وایې چې غلام دومره ترقي وکړه چې دجانه تن دټول دفتر واکدار شو اوهغه مامور چې په ځان یې دهوښیار ګومان کاوه هغه یې هم تر لاس لاندې شو. وروسته به بیا خلکو ورته غلام خان ویل .

جانه تن چې له خپلې وظیفې نه بل ځای ته بدلیده —— نوبل انګریزته یې دهغه د استعداد په هکله په تفصیل سره معلومات ورکړ اوسپارښتنه یې پرې وکړه. همداسې به هریوه په بل سپاره .

* * *

ماپخپل ګومان تاسې ته دترقۍ اوپرمختګ لاردروښوده ځکه دماموریت دغه دودلاپایته ندی رسیدلی ، بلکه نوریې هم پرمختګ کړیدی،

نورنو"صیب! څنګه چې ستاسې خوښه وي !"

تیارې

ورکیږي

احمد خان له ځایه هم ډیراورکی (آتش‌مزاج) و اوبریت به یې په خمچه اړول ، خوچې دا پیښه را مینځته سوه ، نو اور پرې بل و.هغه‌په دې پوهیده چې دغه اور دهغه بدجوله (بدشکل) او بدبوړي (عبوس) روسي مشاور کرفچنکي ،اوایروپز (دون همت) پرچمي له ناولو وینونه پرته په بل څه نه مري . دهغه زړه دعسکرو دثبت نام ، بدورگه (مفسد، شریر) مامور ته هم ایشیده ، خو یوځای ورته دهغو ی درې واړوموندل گران ښکاریدل .

احمد خان ، دیوه عام ښاري په څیر دخپل ورځني ژوند په چارو بوخت و ، خو له دغې یوگنوونکی پیښی وروسته ، هغه دومره بدل سو چې هیڅ اټکل یې نسوای کیدلای .له شپږاوه کالو راهیسې چې نوموړي دکابل ښار دخیرخاني میني په یوه ابتدایي ښوونځي کې دښوونکي په توگه وظیفه اجراکوله،نوله کومې داسې پیښې سره چې د یادولو وړ وي نه و مخامخ شوی.دلیسې

تعلیمي دوره یې هم په ډیره عادي توگه پای ته رسولې وه. البته کله ناکله به‌یې دهیواد پر روانو حالاتو اوحاکمې طبقې پر مظالمویوه نیمه احساساتي تبصره کوله، داسې ښکاریده چې ستر سیاسي اهداف اومقاصدلري؛ خو چې دلیلی دمینې زولانې یې دعقل اوغرورپښوته ولویدې، نوبیایې ځان ترینه خلاص نکړای شو.

کله ناکله پیښې اوحوادث انسان ته یو ناڅاپه هغه څه ورزده کوي چې دکلونو کلونو په زده کړه اواستدلال یې هم نسي زده کولای. دهغه څه دکولو زړه اوهوډ پکې پیدا کوي چې دفردوسي دشهنامې داتلانو بې کچه زړورتیا اوبې سارې میړانې دافسانو په لوستلو هم پکې نشي راپیدا کیدلای. دوخت اوحوادثو څپیړو ډیر ویده راویښ کړیدي، بې لارې یې لارې ته برابرکړیدي او ډیر لټان یې عمل ته هڅولي دي، دانسانانو دشخصیت جوهر دحوادثو دازمیښت په بټۍ کې کله داسې شي چې دشاعرددغې وینا (زدیم برصف اغیارهرچه باداباد) مصداق سي او کله هم حوادث دمړه احساس او ویده ضمیر خاوندانو اویایومخ بې ضمیره خلکو په غوزونو کې دمرئیتوب مندرۍ واچوي اودشاعر ددې وینا: (بیاکه ما سپرانداختیم اگرجنگ است) مصداق سي.

دژوند پیښواو حوادثو په دغه راز یوې دردوونکې څپیړه داحمد خان مخ هم شین کړ؛ داسې څپیړه چې رستم (۱) به یې هم سر بداله کړی وای اوله اسفند یار(۲) نه به یې هم توره اوډال غورځولای وای. ترډیرو ورځو پورې احمدخان هم دښاخ نه بیلې وچې څانگې په څیر، زنگیده، خو ډیر ژریې بایللي ځواك بیرته په غړوکې غزونې وکړې او خپل فکریې دروسي منصبدار دوژلو پلان ته اړم کړ.

دهغه په کور کې نه توپك ونه تومانچه اونه کومه ماشینگڼه

نپوهیده چې په ښه توګه وسله ترلاسه کړي . تردې لازیات په دې اندیښمن و چې که تومانچه اویا توپك پیدا کړي، نو له کوزه به یې دښار تر دغه ځایه څنګه راوړي ، ځکه دښار په هرواټ اوڅلور لاریځه (چاړاهی) کې دپلټنې لپاره پازوال پرچمي پوځیان اومنصبداران ولاړ وي او روسي منصبداران یې دکار څار نه کوي. شاوخواته عسکر یې ټول په تیره بیا روسان ګوته په ماشه ایښي ولاړوي .

سره له دې چې په داسې وخت کې پریوه روسي منصبدار ډزکول له ځان وژنې سره برابر عمل ګڼل کیده، خوهغه خپل مرګ ته اندیښمن نه و ، هغه یوازې له همدې ویریده چې هسې نه دروسي منصبدار کرفچنکي له وژلونه زه مخکې ووژل سم . ددې لپاره چې هغه دکرفچنکي له وژلو وروسته دخپلې تیښتې او ژغور (نجات) لاره وسنجوي ، نو یوه ورځ جمهوریت روغتون ته نژدې څلور لاریځي ته ولاړ، له ورایه یې ، دکرفچنکي اودهغه دنورو عسکرو چې ګوتې یې دکله کوف پرماشه ایښې وې اودښکاري سپیانو په څیرې یوې اوبلې خواته ځیر ځیر کتل ننداره وکړه ، دهغه په لیدو یې دکسات وینه په ځوښ راغله خودتش لاسې اوبیوسۍ له امله یې پرزړه اغزي راښکل .

کرفچنکي به معمولا په جیب کې دننه و، ترڅنګ به یې یو ایروپز پرچمي مرئي هم ناست و .

هغه به دلارویو دعسکرۍ اسناد کتل چې چا عسکري کړیده اوچا نده کړې اوچا له ځانه جعلي اسناد جوړکړیدي ، روسانو پرخپلو پرچمي اوخلکي مزدورانو دا باور هم نه درلود چې یوازې یې دغه کار ته وګوماري ،ځکه دغوازلي وږو به له خلکوڅخه بډې اخیستلې،په دې توګه به یې ګرده ورځ دوه تنه هم دعسکرۍ لپاره نسوای پیدا کولای .

احمد خان شپه او ورځ په همدې فکرکې ډوب و چې که

وسله پیدا هم کړي، نوتردغه ځایه به یې ، چې له شل ځلې نه زیاته پلټنه کیږي ، څنگه راورسوي . کله به ورسره دافکرپیداسو چې په دغه څلور لاریڅه کې کوم اټې وال (دوکاندار) دیته چمتو کړي ، چې مرسته ورسره وکړي خوشیبه وروسته به یې دا خبره هم خوښه نسوه ،ځکه له یوې خوانه خو دي رټ الپې الا (نهایت مسکین) و اوله بلې خوا نه ښایي اټې وال دغه خطرناك کار ته غاړه نه واي ایښې چې دده وسله وساتي او یا یې ښایي ډیري روپۍ غوښتې واې، له همدې امله هغه وغوښتل چې یوه داسې اسانه لاره پیدا کړي چې وسله هم په لاس ورسي اوپبسوته یې هم اړینه (احتیاج - ضرورت) پیدانسي ، نوځکه یې دخپل فکر نوکان دهمدې غوټې پرانیستلو ته اړم کړل .

یوه ورځ دومره ستړي ستومانه له کارڅخه راغلی و چې په غړوغمو کې یې دناستې توان هم نه و، پرخپل کټ اوږد وغزیده اوله ځانه یې پوښتني اوگرویږنې پیل کړې چې څه وکړم او څه ونکړم ؟خبره نیمې شپې ته ورسیده . ټول کائینات بیده و،خو دی لاویښ و ، دغمونو توره تیاره هره خوا خپره وه . د رڼا څرك نه لیدل کیده؛ ستړیا اوخوب یې دپریشانه افکار ولړۍ وشلوله اوبیده سو . خپل شهید پلاریې په خوب ولیده ، په ژړنو سترگویې ورته دژوند له ناخوالو گیلې مانې پیل کړې . هغه یې پرتندي دمینې لاس راښکوده اوورته وې ویل :" احمده ! ته دیوې ناولې ویالې پر غاړه ولاړ یې ، پکار داده چې دپاکولو لپاره یې متې راونغاړې او ورکوزشې .» هغه ویالې ته وکتل اوپه ځواب کې یې ورته وویل : دا ویاله خو ډیره ژوره اوناولې ده ، که یوځل ورکوزسم بیا به ترینه راپورته کیدای نسم؛زه یواځې یم بل هیڅوك هم نسته چې زمااړلاس ور وغزیږي .

پلاریې په له یرمه ډك آواز ورته وویل :"دسترو بریولارې

دوینو له دریا بونونه تیری سویدي ،که ته دخپل ایمان په ځواك دویرې له زولنو نه ځان خلاص کړي اودشهادت په سپیڅلې وینه دهدف دلارې کرښې انځورکړې اوپه دغه لاره په بشپړایماني ځواك سره په یون پیل وکړې ، نوزه همدا اوس دبرې زیری درکوم ، دهدف لپاره شهادت اوسرښندنه ستر بری دی ، ستربرې ورټوپ کړه"! هغه سمدلاسه ویالې ته ورټوپ کړ.له ټوپ سره سم له کټه پرزمکه راپرې و ت او راویښ سو؛ له ویرې اوهیبته یې پرتندې یخه خوله راټوکیدلې وه ، هغه دخپل خوب دتعبیر په هکله په فکرکولو بوخت سو ، له یوې شیبې غور اوفکر نه وروسته یې دخپل خوب په تعبیر سرخلاص سو، تندی یې وغوړیده ډاډ اوسکون هم ورسره پیداسو؛ تردې وروسته یې دفکردنیلې واگی دې خواته راواړاوه چې ویالې ته ځنگه ورکوزسي .

سهارېې تر چای څښلو وروسته له خپل گاونډي پرچمي نه غوښتنه وکړه چې لماسره د پولیسو په څانگه کې دیوه کار دپیداکولو مرسته وکړه ،که څه هم دغه کار لږ سخت دی ، خو تنخواه یې ډیره ده . پرچمي له یوڅه مودې اړوت غړوت (حیله وبهانه) نه وروسته ورته وویل :" که دپولیسو په ماموریت کې ترشپږو میاشتو پورې دمعلمۍ په معاش وظیفه اجرا کوې ، نوزه به دې ضمانت وکړم ،که ښه کار دې وکړ اووفاداري دې ثابته سوه،نو ترشپږمیاشتو وروسته به دپولیسو په پریمانه معاش سربیره دوسلې گرځولواجازه هم درکړای شي .داحمد لپاره دومره اوږده موده صبرکول ډیرگران کارو خوبله چاره نه وه ، دصبرتیږه یې پرسینه کیښوده ،ځکه دغې ناولې ویالې ته دورگډیدو بله لاره نه وه .

هغه دڅو اونیو په موده کې په خپل بې ساري زیار اواطاعت سره دخپل سرماموریت دمنصبدارانوپاملرنه ځانته راواړوله ، له

همدې امله یې له څلورو میاشتو وروسته د روسي ټې ، ټې تومانچې دګر زولو اجازه ورکړه . په هغه ورځ یې چې دتومانچې دګرزولو دجواز پاڼه واخیستله، نو له خوښۍ نه په کالیوکې نه ځائیده . سره له دې چې دخپلې پریکړې نتیجه ورته ښه ترا څرګنده وه ،یا به سمدلاسه دکرفچنکي دملګرو په کله کوفونو غلبیل سوی وای او یا به د زندان د یوځو ورځوسخت کړاو اوربړګاللوڅخه وروسته دماشینګنوخولې ته دروِل سوی وای . دژغورنې هیله یې ډیره کمزورې وه ،خوسره له دې هم داسې خوښ وتابه وې چې دژوند پاڼه یې اخیستې ده ، دتلپاتې ژوند پاڼه! دلیندۍ میاشتې وروستۍ شپې ورځې وې دتومانچې له لاسته راوړلونه به لا دوه درې ورځې هم نه وې تیرې سوې چې دسوو ارمانونو غوږونه یې ځک سول . دلمبه جن خوی ، خوږلن یې بیرته راتازه سو . هغه ته تردې وروسته یوه شیبه په ارامه کیناستل هم بې غیرتي اوبې پتي ښکاریده.

دهغتې په یوه شپه چې یخه سیلۍ ترسهاره پورې چلیدله ،هغه هم دخپلو نیمګړو نیمه خوا ارمانونو په یاداسویلل ، د ماشومې غوټۍ ،ګلاب او لیلي تت ،تت تصویرونه به یې مخې مخې ته کیدل ،اوهغه به هم دتصویر په څیر اریان ورته کتل . په کتو ،کتوکې له هغه نه پخپله هم تصویر جوړسوی و ، داریانتیا اونهیلۍ داسې تصویرچې په لیدو به یې ماني اوبهزاد هم تیروتلي واي . یوه شیبه به یې دلیلي شډل حسن ،زاړه یادونه وسکونډل دمینې اوخلوص جهان ته به یې را ښکه .هغه پسرلي وریاد سوچې دماښامنۍ تیارې په پرده کې یې لیلي ته خپله مینه څرګنده کړې وه . دهغې،هغې وریښمینې خندایې په غوږونوکې کړنګ وهل چې دده دخبرې په اوریدویې کړې وه اوترینه روانه سوې وه. ترهغې وروسته واده ،بیاګلاب ،بیا غوټۍ اوبیادلیلي ناروغي ،داهرڅه یې یو یوله مخې تیریدل ، په پای کې یې

دهغوی دبیلتون بوګنوونکې پیښې یاد دکسات اوغچ خوږلن پوك وهلو. اسویلي یې لوغړن سول اودصبراوزغم په بڅرویې اورپورې سو. دتومانچې دواړه جاغوره یې ډك کړل .

سهارمهال ته نږدې دیوه ساعت لپاره واوره هم ووریدله ،خودزمکې تورمخ یې سپین نکړای سو. داسمان پرمخ لا دخړو اوتورو وریځو کمبله هماغه شان غوړیدلې وه .دلمرزرینې وړانګې یې په خپل تور پیخول کې رانغښتې وې . دهغه دسترګو فضاً هم له غم اوبې خوبۍ نه شفق وزمه ښکاریدله . دواورې ورښت وروسته شیبه په شیبه زیاتیده .

دنوي ښار یو(بس)دجمهوریت له روغتون نه دکابل ولایت مقام ته نیژدې څلور لاریځې ته راتیر شواوپه بس تم ځای کې ودریده احمدخان دراښکته کیدو پروخت خپل ساعت ته وکتل دسهارلس بجې به وې. ورپسې یې په ډیره ناکرارۍ دڅلورلاریځې هغه ګوټ ته وکتل چې دکرفچنکې روسي پوځي جیپ به پکې ولاړ و . دهغه په لیدویې سترګې له خوښۍ نه داسې وځلیدلې ، لکه پوخ ښکاري چې چیرته ولاړ غرڅه ووینې له‌خوښۍ سره جوخت یې دویرې او ترهې یوه زغلنده څپه هم پرمخ تیره سوه • یوه شیبه پښه نیولی سو ،خو وروسته بیاپه چټکۍ سره روان سو . دجیپ له مخامخ ښیښې نه یې کرفچنکې اوهماغه ژیړرنګې پرچمی ولیدل .نو رو عسکرو دوه تنه درولي وو او دوی دواړو دهغوی دعسکرۍ اسناد کتل. ددې پیښې په لیدو سره یې هماغه زړه ریږدوونکې اوقیامت وزمه ورځ په یادسوه چې دده دټولو غمونو او بدمرغیوپیلامه وه .

###

څومیاشتې مخکې دیوه سهارپه اته بجو له خپلې ماشومې غوټۍ اوګلاب سره په چای څښلو بوخت و. میرمن یې له اوږدې مودې راهیسې ناروغه وه ، خوپردغه ورځ یې ناروغي نوره هم

پسې سخته سوه. ناڅاپه په منډه بهر ووتله، دکوټې له وره نه لږ وړاندې سربداله راپریوتله. ده هم دهغې په لیدو پسې ورټوپ کړه، ماشومانويې په ژړا او انګولا پیل وکړ، چای هماغسې په پیالوکې پاته سو. دهغې له خولې نه کنډك کنډك وینه وغورځیدله، رنګ یې سمدلاسه تك ژیړ واووښت. داحمد خان اوسان دهغې په لیدو خطاسو. یوه شیبه خوهیښ پیښ سو، نپوهیده چې څه وکړي، که واړه ماشومان یې په کور کې یواځې پرېښودل، نوداهم وړکارنه و، داانديښنه ورسره وه چې هسې نه څوك کور هم لوټ کړي اوماشومان هم وتښتوي، اويابه پښپله کومې خواته بهر ووځي. ګلاب پنځه کلن اوغوټۍ به کابو درې کلنه وه. ګاونډیان یې هم ورځنې لیرې وو، له بل پلوه ډیرې لږې ورځې کیدې چې دغه ځای ته یې کډه راوستې وه، هیڅوك هم ورسره بلد نه و. سمدلاسه ورسره له ډیرې وارخطایۍ نه دافکر پیدا سو چې ماشومان خواوس په ګیډه ماړه دي، ترغرمې پورې صبر کولای سي. اوبه به ورته په تاخچه کې کېږدم که تږي سول پښپله به یې وڅښي ترغرمې خوزه اورمرو بیرته رارسیږم، لیلی به یوځل په منډه ترجمهوریت روغتون پورې ورسوم، که چیرې څنډ یدلم، نولیلی به ناروغپالې (نرس) ته وسپارم، په ماشومانو پسې به یازه خپله راشم اویا به کوم خپلوان ته تیلفون وروکړم چې زموږ کورته لاړشي. اوس به ښه داوي چې په دوی پسې دروازه کلپ کړم. په ډیره بیړه یې همدا کاروکړ اوبې سده لیلی یې پر اوږه راواړوله، دکور له لویې دروازې نه چې راووت اوکلپوله یې، نو پردغه وخت یې هم دماشوانو ژړا وانګولا اوریدله، خو څه یې کړي وای، سمدلاسه کومه بله چاره نه وه. په ډیره بیړه دسرك لورته روان سو، لوی سرك به ددوی له کوره کابو دلس دقیقو مزل په اندازه لیرې و له رسیدونه دوه درې دقیقې وروسته په ټکسي کې دروغتون په

لور روان سول . دروغتون پازوال ډاکتر لیلی ته سیروم ورکړ اوهغه ته يې وویل چې دلیلی دوینې دگروپ له معلومولو نه‌وروسته به ته هغې ته وینه اوڅه ضروري درمل راوړې یوڅوشیبې وروسته هغه ددرملواووینې نسخه په لاس په بیړه له روغتون نه ووت .

دوینې په پیداکولوپسې اوتر اوتر د وزیراکبرخان روغتون په لورروان و زړه يې و چې جمهوریت روغتون ته نیژدې څلور لاریڅې نه په یوه ټکسي کې کیني،خو دڅلور لاریڅې په همدغه گوټ کې روسي اوپرچمي عسکروراتاوکړاودعسکرۍ داسنادو غوښتنه يې ترینه وکړه .هغه چې دلیلی دناروغتیا له امله ډیر غمجن و، نو دهغوی په پوښتنوتلولی غوندې سو، خوپه بیړه يې ورته دمیرمنې دناروغتیا اووینې پسې دراوتلوکیسه وکړه دايې هم ورته وویل چې عسکري مې کړیده،خوزه په بیړه له کوره راووتم اواسناد رانه په کور کې پاتې شول . هغه داسې گومان کاوه چې اوس به مې په دې خبره سمدلاسه پریږدي ،خوهغوی دده دگومان پرخلاف په ده پورې وخندل او ورته وې ویل : موږ ته خوخلك داپلمه دورځې له سل ځلو نه هم زیاته تکراروي .ناروغ لرم ، په بیړه راوتلی یم، اسناد مې دکورتۍ په جیب کې پاته سول .... اوداسې نور.....راځه چې توپان صیب اوسرمشاورته دې وروولم ،له دې خبرو سره سم يې بیادبدمخې اوژیړرنگه پرچمي او کرفچنکي مخې ته ودراوه . احمد خان خوارکي هلته‌هم خپلسه رینبتوني کیسه واوروله خو توپان ورته وویل : بې اسناد و خلك معمولا همدغه رازپلمې کوي ، دتوپان له دې خبرې سره سم نورو عسکرو دی دبې اسناده خلکو ډلې ته ورټیل واهه،خوهغه سمدلاسه شور وځوږ جوړ کړ چې زمااسناد په کورکې دي، میرمن مې په روغتون کې ده او دوه واړه ماشومان مې په کورکې یواځې پرېښي دي . زماپه کورکې نورهیڅوک

هم نسته، تاسي خويوتن لږترلږه دې روغتون پورې لماسره ولیږۍ که خبره مې دروغ سوه نوژبه مې پرې کړئ. سربیره پردې چې دهغه خوارتوروتپو (تپ وتلاش) څه ځای ونه نیوه، کرفچنکي خپلو عسکروته وویل: "ددې لپاره چې څه ګډوډي جوړه نسي دانیول سوي کسان په موټرکې د"تجمع"مرکزته ورسوی". دتجمع مرکز ته به یې ټول هغه کسان راوستل چې یابه یې عسکري نه وه کړې، یا به یې اسناد د ډاډورنه وو اویا به هم ذاحمد خان په څیر خلك وو.

له دغه ځایه به بې له څنډه کومې لیرې فرقې ته په الوتکوکې مازیګر اویاسهار مهال دوخته بیول کیدل. موټر ته دخېژولو پروخت هغه زښت زیات شور وځوږ جوړکړ، خوپرچمیانو اوروسانو ته دهغه خوار خبرې یومخ درواغ ښکاریدلې، پرچمیانو ته خوله روسانو نه پرته دنوروخلکوهرډول حرکت مشکوك ښکاریده اوګردخلك به یې خپل دښمنان ګڼل، اوروسانوته دپرچمیانو اوخلکیانو په شمول ټول خلك دخپلو استعماري اهدافو دسرته رسولو لپاره دیوې ټاکلې مودې وسایل ښکاریدل، البته په دومره توپیرچې پرچمیان اوخلکیان یې ترنورو لږښه وسایل ګڼل نوځکه یې دبل چا ستونزو ته څه پاملرنه نه کوله.

دتجمع له مرکز نه اغزن مزي (سیم خاردار) راچاپیر سوي وو، په هر وپنځوس متروکې به پرچمیانو اوروسي عسکرو څوکۍ هم کوله. دموټرو ګاراج ته ورته بې شمیره کوټې پکې وې- دافغانستان دګڼوولایتونو اوسیمو خلك یوه خوا اوبله خوا لیدل کیدل. دومره اتمبار (هجوم - ازدحام) وچې زوی اوپلاربه سره نه پیژندل.

دتجمع په مرکز کې به مامورین اوکاتبان دنوو ښکارسوو کسانود بشپړ نوم اوکلي کور له پتې لیکلووروسته هغوی سرحدي سیموته دعسکرۍ لپاره لیږل.

ددغو مامورینو وظیفه همداوه چې دهغوی پته ولیکي اودعسکرۍ کولو ځای ورته معلوم کړي نه داچې دچاشکایت اوسرټکونې ته غوږکیږدي. په ریښتینه هغوی ته ددې خبرې واك هم نه و ورکړل سوی . له بل پلوه دلته راوستل سوو کسانوته به دهیواد اوانقلاب دخاینانو په سترګه کتل کیدل ،ځکه پخپله خوښه‌یې عسکري نه کوله او دوی (یعنې پرچمیانو او روسانو) به په زور ه راوستل ،نوپه دې توګه دخاینانو ګیلو ،ګوزارو اوشکایت ته غوږنیول اویاورسره څه زړه سوی ښودل پخپله یوداسې خیانت ګڼل کیده چې د روسانو لپاره دبښنې وړ ګناه نه ښکاریدله . له همدې امله ځینې ډیرو زیاتو انقلابي ! پرچمیانو دتجمع مرکز ته دخائنانو مرکز هم وایه په دغه راز حالت کې دهغه خوارکي چیغو اوناروته دچا پام کیده اوچاورته غوږ نیوه څوك څه پوهیدل چې په هغه څه تیریږي . دهغه دبدې ورځې په لیدو سره یوه تن چې دده په څیر په زوره راوستل سوی و له هغه نه‌د هغه دخواشینی پوښتنه وکړه ، دا لومړی ځل و چې چا له هغه نه دخواخوږۍ پوښتنه کوله ،هغه ورته په یوه ساه ټوله کیسه وکړه. دکیسې په اوریدو سره د پوښتونکي پرمخ داندیښنې او خواخوږۍ نښې راڅرګندې سوې ، احمد خان ته یې وویل : ”روسانو دټول افغانستان وژلوته ملا تړلې ده ،ستا ددوه ماشومانو او ناروغې میرمنې به څه پروا وکړي“.

ددغې شپې هره شیبه په احمد خان باندې دقیامت له ورځې نه هم سخته تیریدله. هغه څوځلی اپه (تلاش) وکړه چې څوکۍ کوونکې پرچمي صاحب منصبان اوعسکر په دې قانع کړي چې دی ریښتیا وایي .عسکرو به ورته ویل چې موږته په دغه برخه کې له صاحب منصبانو سره دخبروکولو اجازه نشته . صاحب منصبانوته ووایه ،بیا به دې خوارکي په صاحب منصبانو پسې سو. هغوی ته به یې په ډیرو زاریو او ننواتو خپله کیسه په

داسې حال کې کوله چې هغه به کومې خواته ددفترپه دهليزکې روان و بې له دينه چې دده خبروته يې غوږنيولي واى خودى به په خپلوخبرو بوخت پسې روان و.ډيرو به هيڅ ځواب نه ورکاوه آخريې ديوه تن پراوزه لاس کيښوده او ورته وې ويل: "تاته وايم صيب! دخداى پاردي بچې مې په کلپ کوته کې پاتې دي اوميرمن مې په روغتون کې پاته سوه." پرچمى منصب دار چې په مفت روسي«وادکا» نشه و، ځکه دروسي مشاورينو په مازيگرنۍ غونډه کې يې گډون کړى و ، دهغه په خبره يې لومړى وخندل اوبيا يې ورته دهمدردۍ په لهجه وويل : "ناروغه ښځه څه په بلاوهې اوماشومان ،که نن نه وي خوسبادرته مړه کيږي داخو انقلاب دى ،انقلاب !........ له روغواوښکلوښځو نه بازار اوهوټلونه ډك دي،دادى ته مې وينې چې زه په يوې پسې هم نه ژاړم اوته دناروغې غم پرسر اخيستى يې ساده! ته ساده يې ساده ! ها ،ها ها ها"........

جهالت په کړس کړس دانسانيت په مجبوريت پورې وخندل·

احمد خان ته هغه او د هغه عقل دواړه مست اونشه ښکاره سول داسې مستي، لکه خرېې چې دباداړپه وربشو کوي.د هغه دعقل اوفکر سترگې (ودکا) ليچنې کړې وې ،ځکه يې دخپلې غلامۍ احساس نشواى کولاى او د خپل هيواد وال په غمځپلې ځيرې پورې يې خندل .

احمد خان پردغه شپه ترسهاره سترگه پټه نکړه ، په خوله به يې څه نه ويل ،خوسرونمجنو سترگويې ددرديدلي زړه دناورين غمازي کوله . هغه ټوله شپه په ناسته اوملاسته تيره کړه ، هره شيبه به پرې دسهار د رڼا په تمه دکال هومره تيريدله·

دسهار دڼا لاس د شپې له مخ نه دتيارې تور نقاب ليرې کړ بهر په دالان کې دعسکري درنو بوټونو دتگ راتگ آوازله ورايه اوريدل کيده . دهغه سردگردې شپې بې خوبۍ له امله

سخت دردکاوه . دنوروخلکو په کتارکې دی هم دنوم اوپټې ليکلولپاره ودريده ، دغه کارڅوځايه کيده . پرچمي مامور به نومونه ليکل ، ترجمان او روسي مشاوربه چې په رښتينه دټولوبادار و هم ورسره ناست و. دنومونو له ليکلوڅخه وروسته به چې لستونه جوړسول ، نودهرې سيمې خلک به بلې داسې ليرې سيمې ته ليږل کيدل چې په اسانه کورته راونه تښتيدلای سي . په دې ترڅ کې دهغه دنوم ليکلو وارهم راغی ، مخکې تردې چې مامور ترينه دنامه پوښتنه وکړي ، په ډيرو زاريو اوکږه غاړه يې مامورته خپل عذر اومجبوريت ووايه . پرچمي مامور بې له کوم ځنډه ترجمان اومشاورته وکتل اوبيايې په بريتوکې سره وخندل او وې ويل : " بياهماغه زړه اوتکراري پلمه " . دپرچمي مامورڅنګ ته ناست تاجکستاني ترجمان هغه ته په خندا وويل : " تاسې ټولولکه چې له يوه بل سره دپلمو په جوړولوکې سلاکړيده اوياګردله همدا يوه مشکل سره مخامخ يئ . دهريوه مور ، بوډا پلار اوښځه ناروغه وي او په کورکې څوک نلري تالا په بنده کوټه کې دماشومانو خبره هم پکې ورزياته کړه. " پرچمي مامور په ډيره غوړه اوپسته ژبه ژباړن ته وويل : " هو ! صيب بالکل دې رښتيا وويل ، دا ټول په يوه مرض اخته دي ، خوانقلاب به ددوی دټولوامراضو دارو درمل وکړي . دوی فکر کوي صيب چې انقلاب په جوماتونوکې په حلوا خوړلوساتل کيږي . خبرندي چې .... " پرچمي مامور لا نورې اوتې بوتې هم ويلې ، خوروسي مشاور چې د دواړوخبروته ځيرو په ذاسې زهرجنو سترګويې ورته وکتل چې د پرچمي مامور په خوله کې له واره نيمايي خبره وچه سوه ، لاړې يې ونښتلې ، نيژدې و چې له ويرې نه يې کانګې کړې واي . ژباړن ژر ، ژر دهغه خبرې ورته وژباړلې روسي منصبدار له ريانه لږ ومسل اوبيايې ذواړوته په حاکمانه لهجه وويل : " له

دغوخلکو سره په خبرو وخت مه ضایع کوئ ۔ ستاسي وظیفه داده چې دهغوی د بشپړو پتو لستونه جوړکړئ چې عسکرۍ ته ولیږل سي ۔ دلته محکمه نده چې دلیل او دلایل پکې وویل سي، دا دلایل به یې له هغه چاسره ویلي وای چې دوی یې دلته رالیږلي دي ؟ روسي مشاور چې پرچمي مامورخپلې غلامانه وظیفې ته متوجه کړ ؛ نوپه ډیره ناخوالۍ یې مخ بلې خواته واړاوه ۔ مامور ، ژر ، ژر له احمد خان نه دنوم پلارنوم اواستوګنځي پوښتنې پیل کړې ، هغه فکر کاوه چې دوی ګنې زماپه هکله مشوره کوله ، خودمامورد پوښتنوترخلاصیدووروسته

ورته وویل سول چې ستاسي الوتکه به په دوه بجې کندهارته ځي ،څه اوس بهر لاړشه ۔ احمدخان چې پوه سوخبرې یې بابیزه ګڼل سویدي ،نوزمکه یې له پښولاندي وتښتیده۔ هغه په غړولو سترګو لیدل چې دمجبوریت ژرنده دهغه دټولې کورنۍ پر ژوند تاویږي اودرنګ ساعت ته به یې هرڅه پکې دل شي ۔ دماشومانو او میرمنې دځنکدن سلګویې په عقل اوزغم داړه غورزولې وه ،احساسات یې جګړې اوبغاوت ته ملاتړلې ښکاریدل

هغه د پرچمي مامور امر ونه مانه اوهماغلته یې په شوروځوږپیل وکړ ،چې دخدای پاردي ، لږرحم وکړئ ۔ ماسره ډیرسخت ظلم سویدی ۔ دهغه خبرو ته روسي اوپرچمي عسکرو دماشینګڼوپه کونداغونو اوسوکانوځواب ورکړ۔ دوهلو په ترڅ کې یوکونداغ په اجلځي هم ولګیده ؛ له ګوزارسره سم درب سوچې دزاړه دیوال په څیر پرزمکه راولویده۔له سپږمونه یې وینه راغله ؛ خلکوګومان وکړ چې مړسو۔ عسکر وله لاس اوپښونه ونیوه اویوې جلاکوټې ته یې کش کړ ۔

دلته احمد خان ،په یوازې کوټه کې له مرګ اوژوند سره لاس او ګریوان و،هلته په جمهوریت روغتون کې لیلۍ دبې کسۍ په حال کې بې سده پرته وه ۔ په کورکې یې دغوټۍ اوګلاب

کومي په ژړا اوانګولا وچ سوي وو ؛ خور او ورور خپلي وروستی سلګی وهلي . دنوم لیکلو په ځانګه کي یوه پرچمي صاحب منصب ، احمدخان دیوه خاین اوضد انقلاب په نامه معرفي کړ اوشاوخواکسانوته یي پخپله لنډه اضطراري ویناکي وویل :« ملګرو! داسړی دانقلاب ضد او دوطن خاین و تاسي ډاډه اوسئ چي دګوند خلکي عدالت ،دانقلاب او وطن خاینان هیڅکله هم نسي ښښلای .موږ دخپلو حزبي ملګرو اوشوروي دوستانو ،په عدالت اوحق بیني! بشپړ انقلابي باورلرو .هغوي هیڅ کله هم دلته بي ګناه کسان نه رالیږي .

ملګرو! که نن په افغانستان کي مړي کیږي ،کورونه ورانیږي فصلونه سوځول کیږي ، ویني بهیږي ، جوماتونه ورانیږي قیمتي اوقحطي راغلي ده ،نوددي ټولو مسئول دغرب امپریالیزم دي چي په راس کي یي امریکا واقع ده.

زموږ شوروي دوستان اوخلکي انقلابي ګوند له دغو مصیبتونونه ستاسي دژغورني لپاره هلي ځلي کوي. راشئ د انقلاب ترشاودریږئ ! دا انقلاب پرشانه ځي ؛ دا انقلاب ستاسي انقلاب دی اوستاسي دسوکالي اونیکمرغي لپاره دي؟

دهغه په دي خبره ټولویوه بل ته په اریانتیا وکتل . په دغي اریانتیا اوتعجب کي هر چاله ځانه پوښتل ایادا ریښتیا هم زموږ انقلاب دی ؟! هغه خپلوته ادامه ورکړه. خبرونه

...:"داانقلاب به د کارګرانو اوبزګرانو لپاره دخلکي انقلابي رژیم دقانونیت ،عدالت، اومصونیت، فضا مینځته راولي ؛ خلکو ته به کور ،کالي اوډوډي برابره کړي.»

په داسي حال کي چي هغه خلکو ته ځیرځیر کتل اوخلکو یوه بل ته په اریانتیاکتل ، خپله وینایي په دي شعارونوپاي ته ورسوله : مرګ دي وي دامریکاپه امپریالیزم!.

ژوندي دي وي زموږ شوروي دوستان! بریالي دي وي زموږ

خلکي انقلاب !

تل دې دوي دافغان – شوروي دوستي !

ژباړن دهغه خبرې روسي مشاورته و ژباړلې. په وروستیوشعارونودهغه تندی وغوړیده له شاباسي اوآفرین نه په ډك نظریې هغه ته وکتل اودتائید په توگه يې ورته سروخوځاوه .

دپرچمي صاحب منصب له خبرو وروسته دتجمع دمرکزایې زیاتره سواده خلك په دي هیڅ پوه نشول چې دا خبرې دڅه لپاره وې ؟

داحمد خان له وهلو سره يې څه اړیکې درلودې اوامپریالیزم څوك دی ؟

احمد خان چې په یوائې کوټه کې څوساعته وروسته راپال سو نوهډوکوېې سخت درداوځړیکې کولې ،سرېې گرځیده اوسختې تبې هم نیولی و دولړې اودردله زوره له خوځیدونه وتلی و خوچې گلاب اوغوټۍ په کلب سوي کوټه کې ورپیاد سول،نوزړه يې وچ درد وکړ. سرېې له غوسې اوغمه وگرځیده اوپه سترگویې تیاره راغله.

له هغه ځایه يې دفکر نیلي په جمهوریت روغتون کې دلیلى کوټې ته ورټوپ کړ ،دغې اندیښنې يې زړه سولاوه چې هغه به اوس زما ورتلوته سترگې پرلاروي.په سدبه وي اوکه بې سده ؟

بیا به يې په زړه کې تیرسول چې هرڅنگه وي لیلى خو په روغتون کې ده ،که په سدوي اوکه بې سده ، کوم ډاکتراویاناروغپاله به يې پوښتنه وکړي ، گلاب اوغوټۍ مې لکه چې په لوی لاس ووژل. دهغوی به اوس له ویرې ولږې اوتندې نه څه حال وي ایادهغوی په کوکو اوژړا به گاونډیان راخبرشي ، نه څنگه به راخبرشي. هغوی خوټول په خپلو کورونوکې ټیپونه اوتلویزونونه غزوي.دخپل کور ددروازې زنگ په اسانی سره نه اوري. دهغوی د ژړا اوکوکو غږبه له بندې

کوټې نه ځنگه واوري ،هغوی به اوس په ژړا سترې وي، سلگۍ به وهي، دمرگ سلگۍ . ... اوه ! خدایه ، داڅه وشول . له بهرنه سرېې په دواړو لاسونو ونیواویوه کوکه یې له خولې نه ووتله، شاوخواته خلك پرې راټول شول، ټولوورته اریان اریان کتل. هغه بیا دلیونیو په څیر شوروځوږ جوړکړاوپه لوړ آوازیې خپله کیسه ټولوته واوروله ؛ دهریوه سترگوته به یې جلا ، جلا کتل اودخپلوچیغو اوفریاد دحقانیت پوښتنه به یې ترینه کوله. دهغه زړه غوښتل چې داټول ورسره یولاس اویوه خوله شي، گوندې دده خبره ومنل شي ، خوهغوی هم دده په څیر بې وسې وو. دهریوه په سترگو کې ورسره همدردي اوخواخوږي له ورایه ځلیدله، خودیوه له لاسه هم څه پوره نه و . دا غزن مزوشاوخواته ، دکله کوف په ماشه گوته نیولې روسان اوپرچمیان ، دخونړیولیوانو په څیر یوه خوا اوبله خوا څړې سترگې گرځیدل .

هرڅوك به چې اغزن مزي ته ددرې مترو په اندازه ورنژدې شو، نو هغوي ته پرې د ډزو کولواجازه شوې وه. دهغه پرالوزلواوشوروځوږ یوشمیرکسان راټول شوي وو اوگڼه گوڼه شان جوړه وه .دهغه تندی دمخکینیو وهلوله امله په وینو سورو اوپرمخ یې هم له تندي نه دوینې یوه نرۍ لیکه تر زنې پورې راغلې اوو چه سوې وه. دغوزبیخ یې هم په وینو لوندو ، مخ یې په خاوروسپیره و، یوه خواته مخ یې پړسوب هم کړ ی و، په همدغه راز مظلومه بڼه شاوخوا خلکوته دلیونیو په څیر په زاریوبوخت و اودا به یې ویل چې:" دخدای پاردی ماشومه لور اوزوی به مې اوس دمرگ سلگۍ وهي؛ په بنده کوټه کې به وږي تږي پراته وي، ښځه به مې دنامحرمو لاس ته بې اسرې پرته وي، هغه ده زه یې وینم چې زماماشومان سلگۍ وهي . له تندي نه یې ژبې راوتلې دي . هغه ده بندې دروازې ته یې خپل سرونه نیولي دي ....اوپرې وهي یې، زه یې وینم .... زه یې وینم

.... په خدای (ج) سوگندچې زه يې وينم؛ هغه دې سپيرې شونډې دوره ترشاولاړدي .که زه ورنشم هغوی مري، هغوی مري، زما لور او زوی دواړه مري ، مري ، مري ،مري ... زه بايد ورشم په همدې شيبه کې هغه جگيده خوخلکوبيرته کيناوه ! ټول خلك دهغه ددغه غم لړلي حالت له امله غمجن او انديښمن وو. دپرچميانو يوه (جاسوس) هغوی ته خبر ور وړ چې پرهغه ليوني باندې يوزيات شميرخلك را ټول سوي دي اوخواخوږي ورسره څرگندوي؛ هسې نه چې له دينه کوم پسات جوړشي. دوه تنه پرچميان چې له سگريټونه يې لو خړې ايستلې هلته ورغلل دهغوی دواړو له سره لادتيرې شپې دودکاخمارنه والوتی، نو ځکه يې يوه تن د احمد خان په ليدو هغه بل ته وويل: "گوره دهنرمندبچې ته ! هغومره خلك يې په درواغوپه ځان راټول کړي دي ، رېښتيا چې زموږ خلك ډيرساده دي ټول ورته هيښ پيښ دي؛ته به وابې دی گنې رېښتيا وايي." بيايې يوه پيکه خندا وکړه، خوهغه دويم تن سربيره پردې چې خپله خندا ورسره غبرگه نکړه ورته يې وويل :" که دا سړی رېښتيا هم ووايي نو زه اوته ورسره څه کولای شو؟ دلته خو ټول واك دکازاچ کوفسکي سرمشاور دی اوهغه ته دعسکرۍ په وړاندې هرډول وړ اوناوړه عذر اودليل ناوړه ښکاري". لومړي چې نه غوښتل په خپل محکوميت ددويم په څير په مستقيمه توگه اعتراف وکړي، نو وې ويل : « داسړی هيڅکله رېښتيا نه وايي؛ له يوې مخې درواغ وايي ؛ زه دکازاچ کوفسکي خبره تائيدوم ،دعسکرۍ دخدمت په مقابل کې هيڅ ډول عذر دمنلو وړندی، هرڅه بايد له انقلاب نه قربان شي؛ هرڅه! دويم چې دلومړي دخبرو په ترڅ کې دکازاچ کوفسکي نوم واوريده، نو وبيريده اودايې هم په ياد شوه چې دده ملگری يوه ورځ کازاچ کوفسکي کورته غوښتی و، نو داويره ورسره پيدا شوه چې هسې نه زماملگری زما جاسوسي وکړي، نو

سمدلاسه بې دلیله قانع شواودهغه له خبرې سره یې دتائیدپه ډول درې ځلې سر وخوځاوه او ویې ویل: « کازاچ کوفسکي تجربه کارسړی دی . هغه داکتوبر له انقلاب نه وروسته سړې اوتودې ډیرې لیدلي دي په دې شیانوښه پوهیږي، عسکري ضروري ده. هرڅه باید له انقلاب نه قربان شي إهرڅه ، هرڅه !" لومړني بیاهم دانقلاب دا همیت په هکله له یوڅوتکراري خبرونه وروسته امروکړچې دغه درواغژن اومکار باید په یوه کوټه کې واچول سي هماغلته دې خپلې ببولالې وایي ، ترهغه وخت پورې چې ددوی دوړلو لپاره الوتکه راشي. جبهه د دغه راز لیونیوداصلاح لپاره بهترین ځای دی، هلته به ددوك په څیرسم شي اوکه سم نه شول نویوه یوه توده ګولۍ به یې فورا دټول لیونتوب علاج وکړي.

احمد خان عسکرو له هغه ځایه اوچت کړ، هغه خوار په همدې وخت کې هم عسکرو ته دخپل مظلومیت اومجبوریت کیسه اوروله ، خوعسکرو سربیره پردې چې له هغه سره همدردي ونښودله، دنورو له مخې نه یې چې لږ شان پناه کړ، نودهغه لومړې پرچمي دلاس په اشاره یې پرې دسوکانو ،لغتو اوکونداغونو دوهلو باران جوړکړ ،تابه وې چې څه پخوانی اروړ " کینه " یې ورسره په زړه کې دی . احمد خان خوار دخپلو ماشومانو اومیرمنې دژغورنې لپاره ددې ټولوناخوالو په وړاندې اغزي پرزړه راکښل اودهغوی دټولونادودواونارواوسره سره به یې خپله غوښتنه تکراروله . په دې اسره چې ګوندې دهغوی په زړونوکې څه ترحم پیداسي ، خوهغوی ته دهغه زارۍ اوالې زلې هسې دسړې وسپنې ټکول و، خومره به چې هغه خپله غوښتنه تکراروله هماغومره به هغوی هم پرې په ډیره بیرحمۍ ګوزارونه کول . په پای کې هغه خوارکی دډیرو وهلو له امله له اخ وتوخ نه وغورځیده. په اسکیرلي (خوار - زبون) اوپرهارژلې بڼه یې له څلورو اندامونو نه ونیوه اودبوجۍ په څیر یې

دکوټې کونج ته ورګوزار کړ. یوه ښه شیبه خو بې سده و، خوکله چې راپال سو ، نودنهیلۍ بړېخوبې دهیلې اواسرې لاسونه اوښې تړلې وو. دهغه مخې ته دخپلې میرمنې اودوه ماشومانومړې له سپیرومخونو، وازوخولو، اوراوتلوسترګو سره پراته ښکاریدل. هغه داسې انګیرله لکه چې هغوی درې واړه په ګډه دده پرمظلومیت اومحکومیت احتجاج کوي. دخپلې بې وسۍ دمظلوم مرګ کیسه ورته په وازکومې ویل غواړي اوله ده نه دنه راتلو پوښتنه کوي، دهغوی وازې راوتلې سترګې له ده نه ګیله منې اومرورې ښکاریدلې، په هرځل کتوکې به یې ترینه همدایوه پوښتنه کوله ، چې ،داسې هم څوك ګو ي لکه تاچې وکړل ؟ خوله احمد خان سره اوس چې دیوه زخمي اوماتې خوړلې سپایي په څیر په نهیلۍ کې پروت و، دهغوی دیوې پوښتنې ځواب هم نه و. دبیوسۍ ، درد اوغم دشدید احساس له امله دریبل سوې ګیاه په څیر شیبه په شیبه مړاوی کیده دهیلې اواسرې دړنا وروستی څرك هم دنهیلۍ تیاروپه خپله لمن کې رانغښتی و، په همدغه شیبه کې دالوتکې دالوت " پرواز" وخت هم رانژدې سوی و، هغوی باید سمدلاسه حاضر سوې وای، سره له دې چې په کوټه کې دهغه ټول وجود دنه سهیدونکې درد اوغم داحساس له امله دشوې دپاڼې په څیر رپیده، شونډې یې تکې تورې سوې وې، آوازیې له غریوه ډك وخوبیایې هم خپلې خبرې تکرارولې . پازوالوکسانو به ورته په ډیره بې پروایۍ تریو تریو وکتل او ترینه روان به شول. څوشیبې وروسته دی له نورو ښکارسووملګروسره دپوځي هلیکوپټروپه لوروخوزول سو، دهغه لپاره هلیکوپټر ته ختل دسولۍ " دار" له ختلونه هم ګران ښکاریدل، ځکه دهغه پدې پوره باور و چې په دې یوه شپه او ورځ کې چې دلته پرې تیره سوې وه که میرمن یې مړه نه وي، نوماشومان خوبه یې خامخا دمرګ په

درشل کې ولاړوي، نوله دې امله الوتکې ته ختل ورته داسې ښکاريدل، لکه چې دخپلې ميرمنې اوماشومانو په مړو ورخيژي.

دپردو اسرې ته يې پريږدي اودې ترينه سترگې پناه کوي خوهغه خوار چاچپلې خوښې ته پرينښوده. دوه تنه سپايانو له تخرگونو نه نيولی و او په ځنځولی ډول يې را روان کړی و، په هغه کې هسې هم دډيرووهلو له امله دومره متره نه وه پاتې چې مقاومت يې کړای وای. خو هغوی ددې لپاره چې دی بيا څه شور وځوږ اوناآرامي جوړه نکړي، له لاسونو اوپښونه يې نيولی الوتکې ته وربورته کړ. دهغه له خولې نه هيڅ هم ونه وتل، تا به وې چې يايې زبون وهل سوې دی اويايې دتقدير ناخوالوته غاړه اېښې ده، خو اصلي خبره داوه چې دهغوی وحشت اوبيرحمی نورله هغه نه دخبرو کولو ځواك سلب کړی و .

دکندهار ولايت عسکري فرقې ته له رسيدو څخه وروسته دبشپړې پيژندنې لپاره دهغوی نومونه په کتابوکې وليکل سول هغه نور دخپلې ليلی ، غوټۍ اوگلاب له غمه خپل فکري توازن له لاسه ورکړی و. کله چې ترينه دنوم پوښتنه وشوه، نو هغه ورته وويل :

”ليلی دجمهوريت په روغتون کې پرته ده. غوټۍ او گلاب په بنده کوټه کې وږي تږي پراته دي. يابه مړه وي اويا به يې ځنکدن وي دخدای پاردی رحم وکړئ. داخبرې څوڅو ځلې دهغه اوثبت نام دمامور ترمنځ تکرارسوې. يوڅوکسه عسکر چې پوه سول دلته له کابل نه روسان کم دي، زړه ورسول اودهغه دخبروتصديق يې وکړ چې دی ريښتيا وايي، خو هلته روسانو دده خبروته بالکل غوږ نه نيوه، که دده مقصد يواځې عسکري نه کول واي، خولله دې ځايه هم دنورو بې شميره عسکرو په څير تښتيدلای سو، دومره الوزلو سپکاوي اووهلوته به څه ضرورت و. دی خامخا زښت زيات مجبور دی. په دغه شيبه کې دپاخه عمريومنصبدار ——

رانیوت. هغه ددغې فرقې داداري څانګې مسئول و. داحمد خان اوخپل مامورشوروځوږ اودلیل ودلایل یې چې واوریدل، نوپه کراره یې ترینه پوښتنه وکړه چې څه خبره ده ؟ احمد خان ورته دخپلې مجبورۍ غم لړلې پیښه تیره کړه. د پاخه عمرمنصبدار ورته ناڅاپه په اریانتیا سره وویل :

«په ریښتیا سره ستا دوه ماشومان په بنده کوټه کې پاتې دي اوماندینه دې په روغتون کې ده ؟! احمدخان چې دلومړي ځل لپاره یې چا په خبره باورکاوه اوغوږیې ورته نیولي و، نو دغم اوخوښۍ نه په ډک احساس سره یې څوځلې وویل: هو! هو! هو!

په خدای سوګند! که به دذرې هومره دروغ وایم. زه نپوهیږم چې اوس به زما غوټۍ اوګلاب د ولږې، ویرې اوتندې له لاسه په څه حال وي، مړه به وي اوکه ژوندي او که دځنکدن سلګۍ به وهي اوڅوک به ورته ورنه پرانیزي.» دهغه پرمظلومیت باندې دمنصبدار زړه وسوځیده، ځکه هغه ته هم خپل واړه اوبې موره ماشومان ورپه یادشول، دهغه ښځه، څه موده مخکې مړه شوې وه اود خپلو وړو ماشومانو له ساتنې اوروزنې سره په سخت کړاو اخته و، ځکه نورڅوک یې نه لرل چې دماشومانو پالنه یې وکړي.

له یوې شیبې ځنډ، تردد اوله څونورو کسانوڅخه له پوښتنې اوګرویږنې نه وروسته یې هغه ته زړه نازړه اجازه لیک ورکړ. پراحمد خان باندې چې دکور په لوري دتلوزیري وسونوپه مړاوې څیره کې یې وینه وغړیده اوداسې خوښ سوتابه وې چې دسټولۍ له تختې نه یې د پاچهۍ تخت ته راښکته کړیدی.

دومره په بیړه راووت چې له منصبدارڅخه مننه کول یې هم له یاده ووتل.

بله ورځ چې هغه له کندهارنه کابل ته راورسیده، نوپه ډیره بیړه اوبې صبرۍ د غشي په څیر دکورپه لور ورخوشي سو دکوردیوې دروازې له خلاصیدو نه وروسته یې چې په انګړکې

پښه کېښوده، نوغوږونه یې دغوټۍ او ګلاب دژړا دآواز اوریدو ته ناکراره وو، زړه یې بې واره بې واره ټوپکې وهلې. دهغه د ګومان پرخلاف چوپه چوپتیا وه. ډېره وژونکې چوپتیا!

ویرې اوترهې یې غړې سست کړل. دکلپ شوې کوټې په لور یې پښې په ځان پسې راخښولې. په لیونۍ بېړه یې دکوټې کلپ او ور پرانیست، خوسره له دې یې هم څه شورو ځوږ اودغوټۍ اویاګلاب له خوانه دا باجانه! غږ وانه وریده. ناڅاپه یې یوه قیامت وزمه ننداره ولیده. خور اووروردواړه دروازې ته ښږدې پړمخه پراته وو اوچې پربل مخ یې راواړول، نودهغوی په خاوروسپیرو، وازوخولو اووازوبې حرکته سترګویې سترګې ولګیدلې. هغوی دواړو داسې ورته کتل چې تابه وې له ده نه ګیله کوي:

« اباجانه دومره ناوخته ولې راغلې؟» دهغوی دواړو سپیرو شونډو اووازو هیبتناکو سترګو یې غونې زیږه کړل، ځان اوجهان ټول ورته قاتلان ښکاره شول. سترګې یې وروشان پټې شولې، تا به وې چې ګنې دغوټۍ اوګلاب له سترګو نه شرمیږي اوځواب نشي ورکولی. اوښکې یې دبڼوڅوکوته راغلې اودهغه له اجازې پرته یې دهغوی دسپړو مخونو د مینځلو ناکامې هڅې پیل کړې له دې سره سم یې یوه سوې کړیکه له خولې نه ووتله. لومړې دپښو پرسرکیناست اوبیاوروشان پراړخ ولویده.

سترګې یې دبت په څېر بې حرکته نیولې وې. داوښکو باران یې ودریده. تا به وې چې دغم له تاوه وچې شوې، ډیره شیبه وروسته چې لږ راپاڅ غوندې سو، نو سترګویې دغوټۍ اوګلاب سترګوته دملامتیا په توګه دمجبوریت اوبې وسۍ اوښکې وڅڅولې، یوځل بې اختیاره دهغوی په سپیرو مخونو ورټیټ شو اوپه ځیرځیریې دواړو ته وکتل. اوښکې یې پرمخ راروانې اودزنې له لارې به یې د غوټۍ اوګلاب په سپیره مخ ورڅڅیدلې

دهغه له خولې نه بې اختیاره "اوه خدایه ! دا څه وسول؟" الفاظ ووتل .

اوبیایې په ژړا پیل وکړ .... په ژړغوني آواز ....« زمابې کسه ماشومانو! څومره سلګۍ به موکړې وي .څومره چیغې نارې به موکړې وي .... یوبل ته به مو څه سره ویلي وي کاشکي ځمکه چاودیدلې واي ،زه پکې ورك شوی وای ، خو تاسې مې په دې حال نه واي لیدلي .زه به لیلی ته څه ځواب وایم .

آه .... هه .... هه .... لویه خدایه ! دومره ظلم اوتیری !............

زما خوار له ژوند سره داسې نادوده لوبه ! دومره توهین ! دومره ذلت ! دومره ظلم اوتیری!دایوهم دزغم وړندی!... خدایه ! .... ته له ظالمانو سره انصاف وکړه !......... داروسان زما پورورې دي،دوی دافغانستان دټولو خلکو پوروړي دي . دوی دخپلو وینو په بیه هم نشي خلاصیدلای .... نشي خلاصیدلای!دوی قاتلان دي ! قاتلان !.....داخلکیان اوپرچمیان ...... دا زمادماشومانو قاتلان!.........» هغه دلیونیو په څیر بې له دینه چې په خپله وینا پوه سي،همداسې په پرله پسې توګه لګیا واوپه غریو نیولي آوازیې له ځان اوهغوی نه پوښتني کولې . دا اندیښنه ورسره وه چې لیلی ته به څه ځواب وایي .

وایي چې انسان له غمه نه مري، همدا لامل وچې هغه هم ژوندي پاتې سو.په همدغه رازناوړه حالت یې دغموتردرانه بارلاندې دروغتون لاره ونیوله.دلیلی کوټې ته چې ورغی،کتل یې چې هغه په کوټه کې نشته . درب سوزړه یې ولویده اوډا اندیښنه ورسره سوه چې هسې نه لیلی هم کوچ کړی وي.په دهلیز کې دلیلی ناروغپاله په مخه ورغله ،له هغې نه یې پوښتنه وکړه چې لیلی څه شوه.هغې له ملامتیا نه په ډکه لهجه ورته

وویل : " داته څه وړانسان یې؟ دیوې شیبې لپاره وتلی وې
اواوس پوره درې ورځې وروسته راغلې؟»
احمد خان ورته په نارامۍ سره وویل: "لومړی داووایه چې
هغه څه شوه اوڅنګه ده؟ په ما خوډېرسترغم راغلی و.
ناروغپالې ورته په سړه سینه وویل : "هغې نن سهار........"
دناروغپالې خبره لاپایته نه وه رسیدلې چې په لړزیدلي آواز
یې چیغه کړه؛ هغې نن سهار څه وکړل؟ څنګه چل وشو ؟ هغې
ورته وویل : " موږډېرزیار ویوست خوالبته پوره به یې وه نن
سهاریې پورپرې کړ. په لاندیني پوړکې موایښې ده اوستا
راتلوته منتظروو." دناروغپالې خبره دهغه لپاره داسې وه، تابه وې
چې تورغریې پرې راګوزارکړ.
دزمکې غزخوت اودهغه نه خوت ؛ ژبه یې وچه سوه اوله
خبروڅخه ولویده .
رنګ یې داسې تک ژړسو چې دپاخه کدورنګ هم ورسره سیالي
نشواې کولی. هک پک دبت په څیرولاړو اوښلنې سترګې یې
بالکل له رپیدو لویدلې وې، تابه وې له سره پکې ساه نشته .
یوه ښه شیبه ددیوال ترڅنګ همداسې ولاړو . داسې ورته
ښکاریده چې ګنې زمکه اوآسمان دواړه چورلیږي .
چاڅومره رېښتیا ویلې دي چې "غمونه جوړه جوړه راځي" وایي
چې وخت اوزمان دانسان دغمونو په پرهردصبراوډاډګیرنې پټۍ
ږدي. دا پرهرونه جوړشي اوورپورې اړوندې پیښې یې د ماضي
افسانې شي ،خواته ،نه میاشتې وخت داحمد خان دزړه په ناسور
د صبراوزغم پټۍ کې نښودلای شوه، بلکه دغه ناسورورځ په ورځ
پسې نورهم تازه کیده . درد اوڅړیکې یې زیاتیدلې .دهغه
ټول وجود د دغه غم ناسور نارامه کړی وغوټۍ ، ګلاب اولیلي
ترینه په پټه خوله تللی وو. هیڅ ډول سوال اوځواب یې ورته نه
وپرېښی ، خوهغه ته دلیلی په ګونځې ګونځې وچولي کې ډیرې

ګیلې ماڼې نغښتې ښکاریدلې. هغه ته دماشومې غوټۍ بڼ سترګو اوسپیرو شونډو ډیرښه ویلې وو، دګلاب له وازې خولې اوغړیدلو سترګونه یې ویره شوې وه.

احمد خان ډیرپه غوسه و، هغه په دې پوهیده چې داټولې کانې دچاله لاسه وشوې اوهغوی دچاله لاسه؛ ګورته ارمانجن لاړل، په زړه یې په زړه پاتې شول اوپه خوله یې په خوله . دهغوی قاتل کرفچنکې اوژیړرنګه پرچمې و اواحمدخان نن له اته نه میاشتې وژونکې انتظارڅخه وروسته، له هغو ی نه یوڅوګامه لیرې ولاړ و .داځل دهغه په لاس کې دناروغې میرمن ددرملونسخه نه وه ، بلکه له ګولیوډکه روسۍ تومانچه وه .

داحمد خان په زړه کې داهیله هم وه چې که یوځل دکرفچنکې اوژیړ رنګه پرچمې په مرګ ډاډه شي، نوکه بیادې هم ووژل شي څه ارمان به یې په زړه نه وي پاتې؛ له همدې امله هغه وغوښتل چې روسي عسکروته داسې څرګنده کړي چې دی پخپله دولتې پولیس دی اوغواړي په بیړه ځان خپلې وظیفې ته ورسوي . په دې توګه به دافرصت ولري چې په سړه سینه دهغوی پراجل ځای باندې ډز وکړي .

دکرفچنکې جیب ته چې رانژدې شونولومړی یې دسترګوپه رپ کې هغه روسي عسکر پرتندې وویشت ،چې دجیب ترڅنګ ولاړو .هغه له یوه ډز سره په خپل ځای خمیره سو وروسته بیا دسترګوپه رپ کې دوه پولادې سکروټې دکرفچنکې په خوله اووچولې ورننوتې. دهغه ترڅنګ ناست بدبوړي او ژیړرنګه پرچمې سینه هم دوه پولادې سکروټو وداغله .احمد خان له دې کارسره سم د جیب ترڅنګ پروت وکړ، تومانچه یې لا په لاس کې وه، ځکه نوروروسي عسکرو سمدلاسه پرهغه ډزې پیل کړې ده هم پرې ډزې پیل کړې .دهغه په تومانچه کې چې ګولۍ خلاصې شوې ، نوژر په دې تکل کې سوچې بل ډک جاغور په

تومانچه کې کېږدي . همدغې شيبې روسانوته فرصت په لاس ورکړ چې پرهغه باندې دکله کوف باټ وچلوي . دهغه دبدن يوه خوا چوره غلبيل سوه، خوسره لدې لاهم په سدواوکتل يې چې دبادلړواومربې وينه سره ګډه وړه له جيپ څخه راڅخيږي . هغه خپله ډکه تومانچه يوځل بيا پرروسانو وچلوله . هغوی يې هم ټپيان کړل، خودې بې دريغه ټپي سوی و . دپورته کيدو هڅه يې وکړه ؛ خوتوان يې پکې نه وپاتې شوی . بيرته يې دزمکې پرواورين فرش اړخ ولګاوه . دوروستۍ شيبې لپاره دهغوی دوينې په ننداره بوخت سوچې له جيپ نه څاڅکي - څاڅکي راڅخيدله . هغه د هغوی وينو ته دومره ځيروچې خپل درد اووينه يې له ياده وتلې وه . داسې ځيرتابه وې چې هرڅاڅکي يې بايد وشماري . هغه ته داسې ايسيدله لکه چې ددغې ظالمې او متجاوزې وينې هرڅاڅکی دده دماشومانو اوميرمنې دمظلوميت اوبې کسۍ دسلګيو قيمت اداکوي .

يوه شيبه وروسته چې داحمد خان جيبونه ولټول شول، نو دوه څيزونه پکې پيداشول . يودهغه دپوليسو دوظيفې دهويت کارت واوبل يوليك و چې دا څوجملې پکې کږې وږې په بيړه ليکل شوې وې :

« زه په دې پوهيږم چې وګړيزکساتو نه دټولنيزو بدلونونولامل کيدای نشي ، خوماددې لپاره دخپلې ميرمنې اوماشومانو دمظلوميت غچ واخيست چې دا دميړنيودود دی اودادود بايد ژوندی پاتې شي .

کيدای شي زماپه دې کار د کوم ظالم په مغزوکې داخبره تيره شي چې که ډيرکمزوری مظلوم هم انتقام ته ملاوتړي، نودظالم انجام به مرګ اونابودي وي .

زه په خپل هيواد کې دظلم دخپرې شوې تياري دورکولولپاره

هڅه کوم اودخپلې برخې تیاره مې په خپلې وینې

باندې- دیوې کوچنۍ شمعې په لگولو سره- روښانه کوم .

هیله ده په دې کې برى ومومم. زه فکرکوم که هرڅوك دخپلې برخې تیارې، دورکولوهڅه وکړي، نوتیارې ورکیږي ».

○

PROPERTY OF ACKU
1752

JONGARAH AW MANAY

(The Hut and the Palace)

Pashto Short Stories

BY

Naseem Shafaq Stanezai

Published By
Writers' Union of Free Afghanistan
"WUFA"

Series No. 55